







# په افغانستان کې جنسیتي ځواب ویونکې

# بودجه جوړونه:

# چاره د پرمختګ په حال کې


نیکولا بیرتچ او احمد سلیمان هدایت



سپتمبر ۲۰۱۲

**د افغانستان د ثیړنی او ارزونی اداره**
**او د جرمني د اقتصادي همکاریو او پراختیا فدرالي وزارت**

ثیړنپا نه

# په افغانستان کې جنسیتي ځواب ویونکې

# بودجه جوړونه:

# چاره د پرمختګ په حال کې

نیکولا بیرتچ او احمد سلیمان هدایت

سپتمبر ۲۰۱۲

دا ثېړنه د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا د فدرالي
وزارت له خوا تمویل شوې

| | |
|---|---|
| د کتاب د نړیوال ستندرد ګڼه (ISBN) | ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۲۸-۲۳-۲(برېښنايي نسخه) |
| څېړنیز کوډ | P ۱۶۱۷ |
| سمونګره | ویکتوریا ګریس |
| ژباړه | خادم احمد حقیقی |
| د پوښ انځور | د ټولګې په دننه ښځینه زده کوونکې (نجونې) (©www.ez-afghanistan. de, ۲۰۰۸)؛ د سولې د مدني خدمتونو یوه ورځنی کمپاین (©www.ezafghanistan.de)؛ په مزارشریف ښار کې د ملکي خدمتونو کارکوونکو ته د جنسیت په اړه زده کړه (©www.ez-afghanistan.de, Balkh, ۲۰۱۱)؛ د ښوونکو په روزنیز مرکز کې د راتلونکو ښوونکو روزنه (©Badakhshan, www.ezafghanistan.de, ۲۰۱۱). |



© **۱۳۹۵** د خپراوي حقونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) او د آلمان نړیوالې پرمختیا او همکارۍ له ټولنې (GIZ) سره خوندي دي.

©۲۰۱۲ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د جرمني د نړیوالو همکاریو اداره (GIZ)

د دې څېړنپاڼې له منځپانګو څخه ګټه اخیستنه (پرې استناد او یا ترې نقل قول) یوازې او یوازې په ناسوداګریزو موخو او د لیکوالو او سازماني سرچینې د نوم په یادونې سره شونې ده. هغه مطالب، چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي، په لیکوالو پورې اړه لري، هېڅکله د جرمني د اقتصادي او پرمختیایي همکاریو وزارت، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د جرمني د نړیوالو همکاریو ادارې د لیدلورو استازیتوب نه کوي.

د دې څېړنې د چاپ ټول حقوق خوندي دي. کله چې دغه څېړنه تکثیر او یا په ډیجیټلی بڼه بیا چمتو کېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د وېبپاڼې لینک (www. areu.org.af) او د جرمني د نړیوالو همکاریو د ادارې د وېبپاڼې ادرس (www.giz.de) باید ورسره ولیکل شي. د دغې څېړنې کومه برخه، د خپروونکو ادارو (د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د جرمني د نړیوالو همکاریو ادارې) له لیکلي اجازې پرته بیا چاپېدلی نه شي. د بیا خپراوي لپاره اجازه، کېدای شي دغه برېښنالیک areu@areu. org.af ته د پیغام په لېږلو او یا له دغه شمېرې ۹۳ (۰) ۲۰ ۲۲۱ ۲۴ ۱۵. سره د اړیکې په نیولو سره ترلاسه شي.

# د لیکوالانو په اړه

نیکولای بریتچ، د جرمني د نړیوالو او امنیتي چارو انستیټوټ په اسیایي څانګه کې کار کوي. د نوموړي څېړنې له **۲۰۰۸** ز. تر **۲۰۱۴** ز. پورې د افغانستان پر موضوعاتو او مسئلو متمرکزې دي. هغې په کابل پوهنتون کې د سولې او شخړو ډیپارټمنټ رامنځته او همدارنګه له مدني ټولنې د ښکېلتیا په برخه کې د سولې له عالي شورا د سلاکارئ په توګه دنده ترسره کړې ده. نیکولا، په ټولنیز بدلون کې د ښځو د برخه اخیستنې په برخه کې له ښو تجربو څخه برخمنه ده او د ښځو لپاره د ملي کاري پلان امنیت او سولې د پرمختیا په برخه کې همکاري کړې ده.

**احمد سلیمان هدایت** د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت سلاکار دی. نوموړي د کرنې په وزارت کې د سازماني اصلاحاتو او د پایلو لپاره د ظرفیت جوړونې په برخه کې کار کړی، ترڅو دا ډاډ ترلاسه ، چې د یاد وزارت پالیسۍ، پلانونه او کارکوونکي، د دغه وزارت له کاري کړنلارو سره سم تاکل کېږي، او دغه چاره له وزارت سره مرسته وکړي، ترڅو د خپلو ښکیلو ته د اړوندو کرنیزو خدمتونو په وړاندې کولو کې اغېزناک وي.

هغه د جنسیت او پرمختیایي موضوعاتو د کار په برخه کې له ښو تجربو څخه برخمن دی؛ لکه څرنګه چې د افغانستان د ښځو لپاره د لس کلن ملي کاري پلان د پرمختیا په تړاو د ښځو چارو وزارت سره د مرستې په برخه کې، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو له دفتر (UN women) سره دنده ترسره کړې، ترڅو د افغانستان په ملي پرمختیایي تګلاره کې د جنسیت موضوع سمبال کړي. هدایت، همدارنګه د ځواکمنولو په پروګرام کې د پلان جوړونې د مدیر په توګه، چې د مهمو ټولنیزو موضوعاتو په اړه د مدني ټولنې د نوښتونو او پروګرامونو له پلیتابه څخه ننګه کوي، کار کړی دی. هغه همدا راز د پالیسو او څارنې د پرمختیا او د ښوونکو د روزنې د ملي پالیسۍ د ارزونې په برخه کې، د پوهنې وزارت د سلاکار په توګه هم دنده ترسره کړې ده.

هدایت، د خپل ماستري سند ، د سازماني او ظرفیت جوړونې پرمختیا ته په پام سره، د مدیریت او رهبرۍ په برخه کې، له سدني پوهنتون څخه او خپل لیسانس سند د مدیریت په برخه کې د افغانستان له امریکایي پوهنتون څخه ترلاسه کړی دی.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (UERA) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، یوه کابل مېشته خپلواکه څېړنیزه اداره ده. د دې ادارې موخه، په لوړ کیفیت سره، په پالیسیو پورې اړوندو څېړنو له لارې، پر پالیسیو او چارو مثبته اغېزه ده. دغه اداره، همدارنګه په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور د ودې په موخه، د څېړنو پایلې په چټکه توګه خپروي. دغه اداره، د سیاستوالو، مدني ټولنې فعالانو، څېړونکو او زده کوونکو په ښکېلولو سره هڅه کوي، له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې زمینه برابره کړي، ترڅو د هغوی څېړنیز ظرفیتونه هم پیاوړي شي او هم په افغاني ټولنه کې، د لیدلورو د تبادلې، خبرو اترو او علمي بحثونو لپاره لاره هواره شي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، پر ۲۰۰۲ ز. کال په افغانستان کې د یو شمېر فعالو مرستندویو موسسو په مرسته جوړه شوې ده، چې استازي یې د دغه سازمان مدیره پلاوي، مرستندویانو، د ملګرو ملتونو سازمان او نورو نادولتي سازمانونو ته شاملېږي.

پر ۲۰۰۷ ز. کال یو شمېر مشخصې پروژې، د اروپايي اتحادیې (EU)، د پرمختیا لپاره نړیواله موسسې (ODI)، د امریکا د نړیوالې پرمختیا ادارې تر څارنې د پروموت پروګرام (Tetra Tech-WLD)، د امنیت د حکومتولۍ ډلې (SGG)، د متحده ایالاتو د سولې انسیتوت (USIP)، د جرمني د اقتصادي او پرمختیایي همکاریو وزارت (BMZ)، د جرمني د نړیوالو همکاریو ادارې (GIZ) GmbH، د وربشو او غنمو د ښه والي نړیوال مرکز (CIMMYT)، د هالند د علمي څېړنو سازمان (NWO) او د بریتانیا – د وار چایلد موسسې له خوا تمویل شوې دي.

# سریزه

د افغانستان په څېر یو هېواد کې، چې پکې جګړې او بیوزلي سره غوټه خوړلې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له خوا د جنسیت په تړاو د څېړنې ترسره کول، تر ډېره، په سیمه کې د میداني څېړنو تر ټولو یوه ښه بېلګه ده. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو دغه څېړنه، د جنسیت او پرمختیا په ځانګړې توګه ښې حکومتولۍ په اړه، د ښو پایلو په درلودلو سره، زموږ د وخت اړتیاوو ته رسېدنه کوي. دغه څېړنه د ملي یووالي حکومت لیدلوري پیاوړي کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې جنسیتي مسایل په هره اجندا کې به یوه ګډه او ټولیزه موضوع وي.

د دغې څېړنې په ستایلو سره، باوري یو، چې یاده څېړنه به د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو د روښاندۍ بحثونو او خبرواترو لپاره یو بنسټ وي. دغه بحثونه د جنسیت د پراختیا په موخه، د جنسیتي برابروالي د مالي ژمنو د پوره کېدو لپاره، یوه منظمه تګلاره کاروي. په دغه څېړنه کې هڅه شوې، ترڅو د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پرمخ پراته خنډونه او ننګونې تحلیل او پالیسۍ په ملي او سیمه ییزه کچه تر اغیزې لاندې یې راشي.

د دغې څېړنې وړاندیزونه او سپارښتنې، د افغانستان په مالي عامه اداره کې د جنسیتي حساسیتونو په تړاو د نارینه وو او ښځو د ونډې او رول په اړه پخوانیو څرګندو توپیرونو ته رسېدنه کوي.

د افغانستان د حکومتولۍ غونډه، چې د جرمني او افغان شریکانو په ګډه هڅه جوړه شوه، په چټکۍ سره زموږ په هېواد کې د حکومتولۍ د موضوعاتو په تړاو د پالیسۍ پر بنسټ ولاړ بحثونو په برخه کې، یو تګلاره وړاندې کړې. څېړونکي او پالیسي جوړوونکي، د حکومتولۍ په سکټور کې د پرمختیایي همکاریو د پیاوړتیا لپاره، د بحثونو د پراختیا په موخه، د شواهدو پربنسټ ولاړې نظریې او څېړنې وړاندې کوي.

په پای کې هیله مند یم، د افغانستان د حکومتولۍ غونډې په څېر تګلارو له لارې، د ټولنیز ملاتړ د وړاندې کیدو او جنسیتي نابرابریو د کمیدو په برخه کې، پراخ بحثونه ترسره شي او همدارنګه د ښځو د پیاوړتیا په موخه د ځانګړو پروګرامونو په مرسته هڅه وشي، چې دغه چارې ته په سمه توګه رسیدنه وشي او په دې توګه، د افغانستان حکومت د اصلاحي اجنډا د پیاوړتیا او ملاتړ لامل وګرځي.

دغه لاسته راوړنه، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ته مبارکي وایم

په عامه ستراتیژیکو چارو کې د ولسمشر سلاکار او د بیان آزادۍ سیار سفیر
نادر نادری
سپتمبر ۲۰۱۲ م.

# پرانېستونکې ورکشاپ

د افغانستان د حکومتولۍ غونډه (Govern۴Afg) د یو څېړنیز مرکز او هر اړخیزي تګلاري په توګه، د افغانستان د حکومتولۍ په سکتور کې د پالیسۍ پر بنسټ سمونونو د پیاوړتیا او ملاتړ په لټه کې ده. ښه حکومتولي، د قانون حاکمیت او حساب ورکونه هغه څه دي، چې د افغانستان د پرمختیا او ټیکاو په برخه کې له زیات ارزښت څخه برخمن دی. پر دولتي ادارو د خلکو د باور او اعتماد د بیا ترلاسه کولو په موخه، له فساد سره د مبارزې او هغو سمونونو د پلیتوب اړتیا لیدل کېږي، چې د خلکو په ورځینې ژوندانه د ښه والي لامل ګرځي. یوازې د کاغذ پرمخ د سمونونو تسوید بسنه نه کوي، بلکې د دغو سمونونو لړۍ باید د افغانستان په کلیو او ښارونو کې پلې شي.

د افغانستان د حکومتولۍ غونډې د تګلاري موخه، د ښې حکومتولۍ په برخه کې، د افغان او جرمني اغېزلرونکو څېړونکو او سیاستوالو ترمنځ د پالیسۍ پر بنسټ ولاړو بحثونو، پراختیا ده. د دواړو هېوادونو څېړونکي او پالیسي جوړوونکي به د حکومتولۍ په تړاو د خبرواترو او مشورو د پراختیا په موخه، د شواهدو پر بنسټ ولاړې نظریې او څېړنې وړاندې کړي. پر دې بنسټ، دغه د پالیسۍ پر بنسټ ولاړ بحثونه، د رښتینو څېړنو پر بنسټ ترسره کېږي. په پای کې، دغه تګلاره، د افغانستان د پرمختیا لپاره د (۲۰۱۴ – ۲۰۱۷) کلونو په موده کې، د جرمني د اقتصادي او پرمختیایي همکاریو وزارت د ستراتیژۍ د پلیتابه لپاره د یوې وسیلې په توګه دنده پرمخ بیایي.

د هغه بریالي ورکشاپ په لړ کې، چې پر **۲۰۱۵** ز. کال په لاره واچول شو، چې په ترڅ کې یې د لومړیتوبونو له مخې شپږ مهم موضوعات: (ولایتي پلان جوړونه او بودجه جوړونه، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه، د کانونونو مدیریت، سیمه ییزه او ولایتي حکومتولۍ، مدني ټولنه او د ملکي خدمتونو په برخه کې اصلاحات) د څېړنې او ژورو بحثونو لپاره وټاکل شول. د **۲۰۱۵** ز. کال په لړ کې د دواړو هېوادونو څېړونکو، د ازادو خبرواترو او بحثونو له کړنلارې څخه په ګټه اخیستنې سره، د پالیسۍ پر بنسټ سپارښتنو سره د بحثونو لپاره یو شمېر څېړنپاڼې چمتو کړې.

د جرمني دولت هیله لري، چې دغه شننیزه څېړنه، په دې برخه کې د بحثونو د پراختیا او دغه برخې ته د مرستندویانو د لا زیاتې پاملرنې لامل وګرځي.

## د دغه څېړنې په اړه:

دغه څېړنه، چې په افغانستان کې د جنسیتي بودجه جوړونې په اړه ده او د **۲۰۱۷** ز. کال په سپټمبر کې چمتو او وړاندې شوې، د افغان – جرمني د څېړونکو د ګډو هڅو پایله ده، چې د افغانستان د حکومتولۍ غونډې له خوا (Govern۴Afg) تسهیل شوی ده. دغه څېړنه، د اوږدمهالو بحثونو، ساحوي کار او مستقیمو مرکو، کتابتوني څېړنه او په کابل کې د ازادو خبرو اترو او بحثونو لاسته راوړنه ده. باید ووایو، چې د افغانستان د حکومتولۍ غونډه د څېړنو او سپړنو لړۍ نه یوازې د معلوماتو د راټولولو په موخه ترسره کېږي، بلکې په دې اړه هم د افغان او جرمني شریکانو ترمنځ د لومړنیو بحثونو او خبرواترو سلسله ده، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه (GRB) څرنګه کېدای شي، بنسټیزه شي. د دغو بحثونو په لړ کې، د افغانستان د ولسمشرۍ دفتر د چارو ادارې، اقتصاد وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداري لوړ پوړو چارواکو په خپلو دندو پورې اړوندې ځانګې په ګوته کړې.

که څه هم د جنسیتي برابروالي په برخه کې پراخې هڅې ترسره شوې – چې د افغان دولت او نړیوالې ټولنې په اجنډا کې ګډه موخه هم ده – خو بیا هم په افغانستان کې د ښځو وضعیت د ملي جنسیت ستراتیژۍ او د نړۍ والي ټولنې له ژمنو سره یو څه واټن لري. جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه، د دولتي بودجو په طرح او پلیتابه کې د جنسیتي شننو د کارونې له لارې، د ټولنیزو او اقتصادي پالیسیو ترمنځ د مخامخو اړیکو په ټینګښت سره، د ښځو د ژوندانه وضعیت د ښه والي په لټه کې ده. پر دې سربېره، دغه چاره، د دولتي بودجې د ګټورتیا، حساب ورکونې او روڼتیا په برخه کې هم اغېزناکه تمامېږي. په پایله کې جرمني ځان دې ته ژمن بولي، چې د جنسیتي برابروالي د تحقق په برخه کې له افغان دولت سره مرسته وکړي. د جرمني د نړیوالو همکاریو اداري (GIZ)، د **۲۰۰۷** /۱۰ کلونو په بهیر کې، د خپلو اړوندو اجرایي موسسو له لارې او د ښځو چارو وزارت سره د نژدې همکاریو په ترڅ کې، په افغانستان کې د جنسیت د پراختیا له پروګرام څخه مالي ملاتړ وکړ. دغه پروګرام، په اقتصاد، مالیې، سوداګرۍ او صنایعو، د کلیو پراختیا او بیارغونې، کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارتونو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسیون کې، د جنډر واحدونو په رامنځته کېدو او په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې ګټور ثابت شو. له دغه پروګرام

څخه د پنځو کلونو په تېرېدو سره، د افغانستان د حکومتولۍ غونډې یو بل داسې فرصت وړاندې کړ، چې په ترڅ کې کولی شو، د افغانستان د ملي بودجې په جوړښت کې، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه بنسټیزه کړو.

په دې توګه، دغه څېړنې، په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د اوسني انځور په وړاندې کولو سره، په دې برخه کې هغه ننګونې، محدودیتونه او فرصتونه په ژوره توګه څېړلي، چې په ملي او سیمیزه کچه موجود دي. دغه څېړنه، په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو شپږ بنسټیز وړاندیزونه لري، چې په لاندې توګه وړاندې کړي:

- دا ډېره اړینه ده، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د معرفي او ورپېژندلو په برخه کې، سیاسي اراده، دولتي ملاتړ او شته حساب ورکونکي میکانیزمونه نور هم وهڅول شي.
- د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتابه پروسې، باید د پلان جوړونې او د اوسنۍ او راتلونکې بودجه جوړونې د اصلاحاتو له بهیر سره همغږي شي.
- د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په موخه باید د مجربو او وړ کارکوونکو په شمېر کې زیاتوالی راشي او په ملي، ولایتي او سیمیزه کچه د تصمیم نیونې په پروسو کې د ښځو سازمانونو ونډه باید نوره پیاوړې شي.
- د جنسیتي توپیرونو او درزونو په تړاو، د ټولنیز او کلتوري درک او پېژندنې په تړاو داحصاییوي شننو زیاتوالي، ترڅو د هغو پروګرامونو په برخه کې د پلان جوړونې او بودجې د تخصیص لپاره ترې کار واخیستل شي، چې د بېلابېلو جنسیتي اړتیاوو ځواب ویونکې وي.
- د مدني ټولنې سازمانونه او شریکانو په ګډون باید د مشارکتي پلان جوړونې لړۍ ته نوره هم وده ورکړل شي.
- د افقي/ عمودي او سازماني خپلمنځي همغږۍ میکانیزم باید پیاوړی شي، ترڅو جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه، د بودجې په ټولیزه پلان جوړونه او دوران کې پراختیا ومومي.

دغه څېړنه، د نورو بحثونو لپاره د یو بنسټ په توګه نه یوازې د افغانستان د حکومتولۍ غونډې د چوکاټ دننه، بلکې د افغانستان د دولتي ادارو، مرستندویو سازمانونو او علمي بنسټونو له خوا هم د ګټې اخیستنې وړ وګرځي. د دغه څېړنو پراختیا به په بېلابېلو کچو کې د سیاست جوړونې د اصلاحاتو او د بحثونو د پرمختیا لامل شي. د افغانستان د حکومتولۍ غونډه به د ۲۰۱۲ ز. کال په لړ کې په دې برخه کې د نوو په ګوته شوو موضوع ګانو سره د خپلو بحثونو او څېړنو لړۍ ته دوام ورکړي.

کلاس کرامر
د پرمختیایي همکاریو آمر
د جرمني د فدرال دولت سفارت
کابل
سپتمبر ۲۰۱۲ ز.

# مننه او کورودانی

د دغه څېړنې لیکوالان، له هغو باخبرو کسانو څخه مننه کوي، چې د دغه څېړنې لپاره یې خپل معلومات، تجربې او لیدلوري شریک کړل. په دغه څېړنه کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې د کارپوه کاترین شنایدر له لارښوونو او همدارنګه د جرمني د نړیوالو همکاریو په اداره (GIZ) GmbH کې د جنسیت او حکومتولۍ کارپوهانو له ارزښتناکو لیدلورو او نظریاتو څخه ګټه اخیستل شوې دې. همدا راز له ښاغلي پروفیسر. ډاکټر مایکل داکسنر او د ښاغلي شارق او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ټیم له ملاتړو او مرستو څخه د زړه له کومې مننه کوي. سربېره پردې، د کتونکې ډلې له نظریو څخه هم مننه کوي، چې د دغه څېړنې د لا بډایه کېدو لامل شو.

# د موضوعاتو لړلیک


د لیکوالانو په اړه ........ ه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه ........ و

**سریزه** ........ ز

**پرانېستونکی ورکشاپ** ........ ح

مننه او کورودانی ........ ي

مخففات ........ م

**لنډیز** ........ ن

**۱. پېژندنه** ........ **۳**

۱.۱ د ښځو او جنسیتي برابروالي په تړاو د افغانستان ژمنتیاوې ........ ۳

۱.۲ د جنسیتي برابروالي لپاره د مالي سرچینو تامینول ........ ۴

۱.۳ په لړزاندو او حساسو شرایطو کې جنسیتي برابروالي او د ښځو ځواکمنول ........ **۶**

۲. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې مخینه ........ **۹**

۲.۱ جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه څرنګه کار کوي ........ ۱۱

۲.۲ په افغانستان کې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه: ترسره شوي اقدامات ........ ۱۳

۲.۳ لومړنۍ څېړنې: د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه اصلاح ........ ۱۴

۲.۴ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ستراتیژیک کاري پلان ........ ۱۵

۲.۵ د جنسیتي بودجه جوړونې لارښود او معلومات پاڼه ........ ۱۶

۳. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتوب فرصتونه ........ **۱۷**

۳.۱ له ملي پلانونو او پالیسیو سره د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې همغږي کول ........ ۱۸

۳.۲ په ولایتي او سیمه ییزه کچه د مشارکتي پروګرام د پلان جوړونې او بودجه جوړونې پیاوړتیا ........ ۲۱

۳.۳ د مدني ټولنې او پارلمان برخه اخیستنه ........ ۲۳

۳.۴ له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه د نړیوالو د ملاتړ پر لاره پرتې ننګونې ........ ۲۴

۴. په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې محدودیتونه او ننګونې ........ **۲۶**

۴.۱ د جنسیتي برابروالي لپاره چاپېریال ........ ۲۶

۴.۲ سیاسي اراده او د رهبرۍ ملاتړ ........ ۲۷

۴.۳ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې او د هغه د ابزارو د پلیتوب په تړاو سازماني پوهاوی ........ ۲۸

۴.۴ د ښځو په سازمانونو کې شته ستونزې ........ ۲۹

۴.۵ همغږي او همکاري ........ ۳۱

۴.۶ د جنسیت په اړه تفکیکي معلومات او احصاییې ........ ۳۱

۵. په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ښه تطبیق په اړه وړاندیزونه ........ **۳۳**

۵.۱ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق ستراتیژیک ارزښت ........ ۳۴

۵.۲ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تخصصي کول ........ ۳۴

۵.۳ د پلان جوړونې او ارزونو لپاره شمېرې ........ ۳۵

۵.۴ د ښځینه سازمانونو په شمېر کې زیاتوالی ........ ۳۵

۵.۵ د نادولتي شریکانو برخه اخیستنه ........ ۳۵

۵.۶ مالیې وزارت ته ........ ۳۶

۵.۷ د ښځو چارو وزارت ته ........ ۳۷

۵.۸ نړیوالې ټولنې ته ........ ۳۷

ضمیمې ........ **۳۹**

اخځونه ........ **۴۴**

# جدولونه

۱ جدول: د ۲۰۱۲ (۱۳۹۵) مالي کال لپاره د افغانستان ۲،۲۳۵ میلیارده ډالري بودجه ..... ۵

۲ جدول: د ملي بودجې دوران ..... ۱۵

۳ جدول: په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تدوین په موخه د مناسبو شرایطو چوکاټ ..... ۱۷

# بکسونه

۱ بسته: د پالیسۍ او تولنیزو مذاکراتو پروسه، د عامه خدمتونو او ګټو د وېش څرنګوالي ټاکي ..... ۲

۲ بسته: جنسیتي بودجه جوړونه څرنګه کولی شي، له افغانستان سره د ښځو د ځواکمنتیا او جنسیتي برابروالي په تړاو د خپلو ژمنتیاوو په ترسره کولو کې مرسته وکړي؟ ..... ۱۱

۳ بسته: په جرمني کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تجربې ..... ۱۳

۴ بسته: د ښاروالیو په بودجو کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه کار اخیستل ..... ۲۳

# مخففات

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| BC | د بودجې متحدالمال |
| BMZ | د جرمني د فډرال دولت د اقتصادي او پرمختيايي همکاريو وزارت |
| CSO | د احصاييې مرکزي اداره |
| DFID | د بريتانيا د نړيوالې پرمختيا ديپارتمنت |
| EPD | د سولې او دموکراسي لپاره د برابرۍ سازمان |
| GIZ | د جرمني د نړيوالو همکاريو اداره |
| Govern4Afg | د افغانستان د حکومتولۍ غونډه |
| GRB | جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه |
| GTZ | **د جرمني د نړيوالو تخنيکي همکاريو سازمان** |
| GU | د جنډر واحد |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون |
| IDLG | د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| LM | وزارتونه |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MoEc | اقتصاد وزارت |
| MoF | د ماليې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| NAP ۱۳۲۵ | د ښځو، سولې او امنيت په تړاو د ملګرو ملتونو د امنيت شورا له **۱۳۲۵** ګڼې قطعنامې سره سم، د افغانستان ملي کاري پلان |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاري پلان |
| NGO | نادولتي موسسې |
| NUG | د ملي يووالي حکومت |
| PFM | د عامه مالي چارو مديريت |
| PFMS | د عامه مالي مديريت سيستم |
| SDG | د باثباته پرمختيا اهداف |
| SMAF | د متقابل حساب ورکولو د چوکاټ له لارې پرځان بسيا اينه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام |
| UNDP GEP | د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د جنسيتي برابروالي پروژه |
| UNIFEM | د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پرمختيايي وجهي صندوق |
| USAID | د امريکا د متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره |
| WEEA | د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا لپاره ملي کاري پلان |

# لنډيز

جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې (GRB) پروسه، د يو هېواد په عامه مالي اداره کې د جنسيت ليد د ځای پرځای کولو په موخه ترسره کېږي. دغه څېړنه پر دې فرضيې بنسټيزه شوې، چې دولتي بودجه جنسيتي ماهيت نه لري او په واقعيت کې د عامه عوايدو او عامه لګښتونو په تړاو د دولت پاليسی، پر ښځو او نارينه بېلابېلې اغيزې لري[1]. جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختيايي (UNDP) او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UN Women) په تخنيکي ملاتړ، د ماليې وزارت له خوا معرفي شوه. که څه هم، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د تګلاريز کاري پلان او د جنسيتي بودجه جوړونې د لارښود د پرمختيا په ګډون، دغه لړۍ پراخې او بېلابېلې لاسته راوړنې لري، خو بيا هم پر دغه موضوع اوس هم زيات کارونه جريان لري.

## د څېړنې اصلي موخې

د دغه څېړنې اصلي موخه، په افغانستان کې د جنسيتي بودجه جوړونې د فکري چوکاټ او د هغه د پلېتابه کچې ارزونه ده. دغه څېړنه، د جنسيت د نړيوالې تګلارې د غوښتنې او د جنسيتي برابرۍ د ژمنو د مالي تمويل د يو کړنلارې په توګه، د جنسيتي بودجه جوړونې په اړه يو ليد وړاندې کوي. دغه څېړنه، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پلېتوب پر لاره پراته خنډونو او ننګونو ته په پام سره، داسې ستراتيژيکې عملي لارې چارې په ګوته کوي، چې په ملي او سيمه ييزه کچه، په دې برخه کې بحثونه او تګلارې تر خپلې اغيزې لاندې راولي.

## څېړندود (چلند لاره)

دغه څېړنه، د يو شپږ مياشتنی څېړنيز کار په ترڅ کې (اپريل تر سپټمبر **۲۰۱۵**)، ترسره شوې او دريو برخو ته شاملېږي: ساحوي کار او مستقيمې مرکې، کتابتوني څېړنه او د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په تړاو ازاد بحثونه. مرکې د دغې مودې په بهير کې، د دوو ساحوي کارونو د **۲۰۱۵** ز. اپريل او جون مياشتو په ترڅ کې په کابل کې ترسره شوې، دولتي شريکانو، ملګرو ملتونو موسسو، نادولتي سازمانونو او د نړيوالې ټولنې سازمانونو ته شاملېدل. په داسې حال کې، چې د مرکه شويو کسانو نومونه افشاء نه شول، خو مرکه شوي کسان، د خپلو تجربو او کاري ورتياوو له مخې، په ژوره توګه په ګوته او د مرکې لپاره وټاکل شول[2].

لومړی ساحوي کار، په افغانستان کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پلېتوب پروسو د سپړلو په تړاو د معلوماتو د راټولولو او ارزولو په برخه کې په کابل کې ترسره شو. تر دې وروسته، د **۲۰۱۵**ز. کال په اپريل کې، په دې برخه کې د ترلاسه شويو لاسته راوړنو او شته ننګونو د مشخصولو په موخه، يو مفهومي يادښت چمتو شو، چې د افغانستان د حکومتولۍ غونډه په هغه ورکشاپ کې وړاندې شو، چې د **۲۰۱۵** ز. په مې کې په کابل کې جوړ شوی و. د دغه ورکشاپ ګډونوالو په ګډه هوکړه وکړه، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه، د دغه شننيزې څېړنې پرمختيا بايد ګام په ګام تعقيب شي. دويم ساحوي کار، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پلېتوب په پايله د رامنځته شويو ننګونو او فرصتونو د سم درک او پېژندنې په موخه، د **۲۰۱۵** ز. کال په جون کې په کابل کې په لاره واچول شو. په دې برخه کې مهمې مرکې له دولتي پاليسي جوړوونکو سلاکارانو او د وزارتونو له لوړ پوړو چارواکو سره ترسره شوې؛ دغه چارې همدا راز په دې معنا دي، ترڅو د پاليسي جوړونې او پلان جوړونې په موجودو پروسو کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د معرفي کېدو په موخه عملي لارې چارې او فرصتونه په ګوته او وڅېړي.

له همغږۍ او د معلوماتو له تبادلې څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د دغه څېړنې د څېړلو او راپور برابرولو پرمهال، جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه د کليدي او مهمو شريکانو لکه ماليې وزارت او د ښځو چارو وزارت د پام وړ وګرځول شوه. له دولتي لوړپوړو چارواکو او پاليسي جوړونکو سره ناستې يوازې د معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه جوړې نه شوې، بلکې په دغه ناستو کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د مخ پروړاندې حرکت او د پلېتوب څرنګوالي په اړه يې هم خبرې اترې وشوې. د ولسمشرۍ دفتر د چارو په اداره، اقتصاد وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون، د احصاييې مرکزي ادارې او د سيمه ارګانونو په خپلواکه اداره کې، چارواکو چې تر دې مخکې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه معلومات نه درلودل، د دغو مرکو په بهير کې، له دغه پروسې سره اشنا او په دې برخه کې د خپلو دندو پورې اړوندې ساحې مشخصې کړې.

---

۱ .ک. آشنايدر، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې روزنيز لارښود، ايچ بورن: دويچه ګيزلسچفت، ۲۰۰۲، ۱۰.

۲ د ترسره شويو مرکو لړليک په لومړۍ ضميمه کې موجود ده.

د ساحوی کار تر ترسره کېدو وروسته، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ۲۰۱۵ ز. کال په اگست کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په اړه، یو ازاد او پرانیستی بحث په لاره واچوه، چې د دغه څېړنې لومړنۍ موندنې هم د بحث په دغه ناسته کې گډونوالو ته وړاندې شوې. د بحث په دغه ناسته کې، دولتي شریکانو، د پارلمان او مدني ټولنې غړو او د نړیوالې ټولنې (دونرانو) استازو هم گډون کړی و. بحثونو پر درېیو مهمو برخو تمرکز درلود: (۱) د مرکزي او سیمه ییزې کچې حکومتولۍ د جنسیتي بودجه جوړونې او پلان جوړونې د چارو ښه والي (۲) د جنسیت د تفکیک په تړاو، د ځانگړو احصاییو او معلوماتو ته لاسرسی (۳) د عامه مالي ادارې په لړلید کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ځای پرځای کولو پړاوونه. له دغه بحثونو څخه ترلاسه شوې پایلې او سپارښتنې، په دغه څېړنه کې هم انعکاس موندلی دی.

## موندنې

د افغانستان دولت، د پالیسي جوړونې، تگلارو د تدوین او بودجه جوړونې له لارې، د ټولنیزو ملاتړو د وړاندې کولو، د جنسیتي نابرابریو د کمېدو او د ښځو د ځواکمنتیا په برخه کې، مهمه ونډه ادا کوي، چې دغه چاره په خپله، د جنسیتي برابروالي په تړاو د دولتي ژمنو د تعقیب یوه بېلگه ده. که څه هم، تراوسه پورې، د جنسیتي برابروالي په موخه، پراخې هڅې شوې ـ چې د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې په اجنډا کې یوه گډه موخه ده – خو بیاهم په افغانستان کې د ښځو وضعیت د جنسیت د ملي تگلارو او نړیوالې ټولنې له ژمنو سره واټن لري. که څه هم، جنسیتي برابروالي په ملي سندونو کې د یو عمده موضوع په توگه یاد شوې، خو په دې برخه کې د دولت له خوا کمه بودجه ځانگړې کېږي. دغه چاره په دې برخه کې د پلان شویو پروگرامونو د پلیتوب لړۍ ټکنی کړې ده. په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې لړۍ له یو شمېر ستونزو او محدودیتونو سره مخ دي. دغه محدودیتونه او ستونزې تر ډېره، د سیاسي، تخنیکي او رفتاري محدودیتونو او یو شمېر ننگونو لکه د رهبرۍ ملاتړ کموالی، د تخنیکي ظرفیتونو او تجربه لرونکو کدرونو او همدارنگه د جنسیت د تفکیکي احصاییې نشتوالي، زېږنده دي.

## پایلې

د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په ازموینه کې کلیدي عامل، د جنسیتي اړتیاوو او د پلان جوړونې په برخه کې د توپیرونو شننه، په مرکزي، ولایتي او سیمه ییزه کچه د فعالیتونو او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو ارزونه، ډلبندۍ او طراحي ده. د زیاتې بودجې ځانگړې کول به له افغان دولت سره مرسته وکړي، ترڅو خپلې ژمنې پوره کړي، د بودجې په برخه کې روڼتیا زیاته کړي او په دې توگه، د خلکو په وړاندې خپل مشروعیت پیاوړی کړي. په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه په لنډمهاله توگه کولی شي، د افغانستان حکومت ته په لاندې برخو کې لارښوونې وړاندې کړي:

- د پالیسیو د تسوید او د فعالیتونو د پلان کولو په برخه کې، په سازماني لیدلورو او کړنو کې تغییر او د داسې یوې بودجې ځانگړې کول، چې پرې د خلکو اړتیاوو او لومړیتوبونو ته رسېدنه وشي؛
- د حساسو فرهنگي شرایطو په پام کې نیولو سره، جنسیتي نابرابریو او تعبیض ته پاملرنه؛
- د جامع او مشارکتي پلان جوړونې د پروسو په ترسره کولو سره، د ښځو او ټولنو په ټولنیز او اقتصادي وضعیت کې ښه والي راوستل؛
- د جنسیتي برابروالي په پام کې نیولو سره د بودجې وړاندوینه او د ښځو او نجونو په برخه کې مالي پانگونې؛
- د اغېزناکو عامه خدمتونو د وړاندې کېدو، حساب ورکولو او مالي روڼتیا له لارې، د دولت او ولس ترمنځ د اړیکو په زیاتېدو کې مرسته.

له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه په گټه اخیستنې سره کولی شو، د ښې حکومتولۍ د باثباته پرمختیا تمه ولرو. د دواړو فکتورونو، یعنې د ملي یووالي حکومت د اصلاحاتو پروسې او د بشر حقونو پر بنسټ د نړیوالو مرستندویانو لکه جرمنی هېواد بهرني سیاست ترکیب، په دې برخه کې د گډو لېوالتیاوو د پراختیا او پرمختیا لامل گرځي.

## وړاندیزونه (سپارښتنې)

حکومت کولی شي، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د لا ښه پلي کېدو په موخه له موجوده سرچینو او پروسو څخه کار واخلي. د ښه تطبیق او پلیتوب لپاره اړینه ده، چې په ملي، ولایتي او سیمه ییزه کچه د پلان جوړونې او بودجه جوړونې له تګلارو څخه په ګټه اخیستنې سره، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه په ښه توګه سمبال شي. د بېلګې په توګه، دغه چارې باید د ولایتي بودجه جوړونې پالیسي او عامه مالي ادارې له اصلاحاتي بهیر سره همغږې شي.

سربېره پر دې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پلیتوب، په واک او اختیار او تخنیکي ظرفیتونو سمبال تجربه لرونکو کارکوونکو او کادرونو ته اړتیا لري. باید په ملي، ولایتي، سیمه ییزه کچه د تصمیم نیونې په پروسو کې د ښځینه سازمانونو برخه اخیستنه پیاوړې شي او د مدني ټولنې او شریکانو په برخه اخیستو سره، باید مشارکتي پلان جوړونه بنسټیزه شي. د ملي بودجه جوړونې بهیرونه نور هم باید شفاف شي او د مدني ټولنې د سازمانونو وړاندیزونو ته پکې باید ځای ورکړل شي. همدارنګه د عامه مالي ادارې په سیستم کې، د احصاییوي تحلیل او تجزیې ترڅنګ، ځانګړې جنسیتي تفکیکي دیتابیس رامنځته شي.

# ۱. پېژندنه

جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه له ډېر ارزښت څخه برخمنه ده؛ ځکه بودجه، د عامه خدمتونو او پرمختیایي لومړیتوبونو د سمبالښت او ترسره کېدو په برخه کې، د دولت د پالیسي اصلي او یوازینۍ وسیله ده. د ملي یووالي حکومت په خپله اصلاحي اجنډا کې له بودجې څخه "د خپلو سیاستونو د ترسره کېدو په تړاو د لومړنۍ وسیلې په توګه یادونه کړې ده" ۳. جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه، د ښځینه او نارینه وو پر بېلابېلو ډلو باندې د مالي سیاستونو او ملي بودجې د اغېزو د شننې په موخه، د ابزارو د برابرولو په برخه کې مهمه ونډه ادا کوي؛ له همدې امله، په دې برخه کې، چې دولتي او ملي بودجه د جنسیتي برابروالي لپاره خپلو تعهداتو ژمن دي، د دولتي پلان جوړونې او بودجه جوړونې پروسو د ارزونې او بدلون په برخه کې مرسته کوي.

د پلان جوړونې او بودجه جوړونې له پروسو سره په ارتباط ورکولو سره، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه په هممهاله توګه، یو تخنیکي کړنه او سیاسي پروسه ده: دغه لړۍ، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه او د اغېزو شننه یې، د لومړیتوبونو د ډلبندي کولو، د عامه مالي سرچینو د تخصیص او پرمختیایي مرستو په تړاو له سیاسي مفاهمیو او تصمیم نیونې پروسو سره ښیلوي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې موخه، په خپله یوه سیاسي چاره ده؛ لکه څرنګه چې د واک غښتلتیا ننګوي او رسمي او غیررسمي معیارونه تثبیت او د یو بل په وړاندې دروي. په زیاترو هېوادونو کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې دغه سیاسي مولفې، د پلي کېدو په لاره کې یې یوه ستونزمنه کړښه ده. د سیاستونو او تګلارو په چارچاپېر کې، د جنسیتي موضوعاتو پراختیا، یوه نامعموله انګېرنه نه ده. په افغانستان کې د لویډیځوالو په لیډلوري پر جنسیت تمرکز، چې د اسلامي، دودیزو او د افغاني ټولنې د ارزښتونو منعکسوونکي نه وي، زیاتره تر نیوکې لاندې راغلی دی. په پایله کې، هغه پروګرامونه، چې د ښځو لومړنیو اړتیاوو ته رسېدنه کوي، د منلو وړ واقع شوي، خو په همدې حال، هغه پروګرامونه چې د تبعیض پر له منځه وړلو یا په شته ونډو کې پر بدلونونو تمرکز لري، او د جنسیت د تګلارو ګټو د زیاتېدو په لټه کې دي، زیاتره له خنډ او ځنډ سره مخ شوي دي. جنسیتي برابروالی په عمل کې زیاتره، د پالیسي جوړونې پر پروسې، اجرااتو او تر هر څه زیات د ښځو پر ځواکمنتیا تمرکز لري. په همدې حال، دا باید له یاده و نه باسو، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې موخه، عامه خدمتونو او عامه ګټو ته د لاسرسي په برخه کې، د ښځو او نارینه وو؛ نجونو او هلکانو دواړو، ځواکمنول دي.

## ۱.۱ د ښځو او جنسیتي برابروالي په تړاو د افغانستان ژمنتیاوې

افغانستان، له نړیوالو معاهدو او کنوانسیونو لکه د ښځو په وړاندې، د هر راز تبعیض د مخنیوی کنوانسیون، چې افغانستان یې پر ۱۹۸۰ ز. کال لاسلیک او پر ۲۰۰۳ ز. کال ورسره یوځای شوی، د زریزې پرمختیا موخو او د باثباته پرمختیا موخو (SDGs) او د ښځو، سولې او امنیت په تړاو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ ګڼې له پرېکړه لیک او په پایله د خپل اساسي قانون پر بنسټ، خپل ځان د ښځو حقونو پر پیاوړتیا او پراختیا ژمن بولي. د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان تدوین (NAPWA) ۲۰۰۷ – ۱۷، په خپله پر دې دلالت کوي، چې افغان دولت د جنسیتي برابروالي او د ښځو د ځواکمنتیا په تړاو ژمن هېواد دی. د دغه کاري پلان مشخصه موخه، د ښځو په وړاندې د توپیري او تبعیضي چلند له منځه وړل او د ښځو د انساني او رهبري پانګې پراختیا ده. باید یادونه وکړو، چې د دغه پلان پلیتوب تر ډېره، پر یو شمېر برخو لکه: امنیت، حقوقي ملاتړ او بشر حقوق، رهبرۍ، سیاسي مشارکت، اقتصاد، کار، د بېوزلۍ له منځه وړل، روغتیا او زده کړې تمرکز لري، چې د ښځو د ژوندانه وضعیت په ښه کېدو کې زیات ارزښت لري۴. سربېره پردې، د دې لپاره، چې دولت په دې برخو کې خپلې ژمنتیاوې ترسره کړې وي، جنسیت په زیاترو ستراتیژیکو سندونو لکه د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره، د ملي لومړیتوبونو پلانونه، د ټوکیو متقابل حساب ورکولو چوکاټ، یو ګډ او ټولیز شاخص دی.

که څه هم د ۲۰۰۱ ز. کال راهیسې د افغان ښځو وضعیت، د زده کړې، روغتیا او سیاسي مشارکت په برخه کې، ښه شوی دی، خو له دې سره سره، په دې اړه د لازیاتو لاسته راوړنو او پرمختګونو ترلاسه کېدل، د جنسیت ملي ستراتیژۍ په اهدافو او د نړیوالو په ژمنتیاوو کې نغښتي دي. په افغانستان کې ښځې، له امنیتي، کورنۍ تاوتریخوالي، ټولنیز ګوښه توب او عدالت او پانګو ته د

۳ . د افغانستان دولت، «د متقابل حساب ورکولو د چوکاټ له لارې پرځان بسیاینه» (کابل: افغان دولت، ۲۰۱۵).

۴ . د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاري پلان، د جنسیت پراختیا او پلیتوب یې، چې له نورو دولتي پروسو سره په موازي ډول پرمخ ولاړ شي، په پنځو لاندې برخو کې تشریح کړی دی: ۱. پلان جوړونه، ۲. بودجه جوړونه، ۳. پلیتوب یا ترسره کول، ۴. څارنه، انسجام او راپور ورکول، ۵. څېړنه، ارزونه او د نویو معلوماتو چمتو کول. (د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاري پلان) ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸» (کابل: د ښځو چارو وزارت، ۲۰۰۸)، ۱۰۸ مخ.

لاسرسي له پلوه، بيا هم زيانمنونکي دي.[۵]

د ملي يووالي حکومت هڅه کوي، ترڅو دغه ناخوالو ته د خپل اصلاحي پروګرام په لړ کې، چې د «پرځان بسیاینه: د اصلاحاتو او همکاريو د تجديد لپاره ژمنتيا» سند په ترڅ کې د ۲۰۱۴ ز. کال په دسمبر کې د لندن په کنفرانس کې وړاندې شو[۶]، رسېدنه وکړي. د دغه اصلاحي پروګرام اصلي موخې، د ښې حکومتولۍ جوړښت، د وګړو د پرمختيايي حقونو له تامين څخه ډاډ ترلاسه کول، د پرمختيايي او مديريتي پلان جوړونې اصلاح او د مالي ثبات بېرته ټينګښت دي. د **۲۰۱۵**ز. کال په سپتمبر کې د لوړو پوړو چارواکو په ناسته کې، «د متقابل حساب ورکولو د چوکاټ پربنسټ د پرځان بسیاینې SMAF» سند وړاندې شو. دغه سند، د ملي يووالي حکومت د اصلاحاتو اجنډا او د ټوکيو د متقابل حساب ورکولو سند، د يو واحد سند په توګه سره يوځای کړ، چې لړترلړه د اوسني حکومت د مودې تر پای ته رسېدو پورې به هم د دولت او هم د نړيوالې ټولنې لپاره، يو لاربنود وي. SMAF، په شپږو کليدي برخو، يو شمېر موخې او شاخصونه تشريح کوي[۷].

د ملي يووالي حکومت، جنسيتي برابروالي ته په پام سره، د خلکو او نړيوالې ټولنې په وړاندې د خپلو ژمنتياوو پر پياوړتيا کار کړی، ترڅو له ښځو سره توپيري چلند او د ښځو په وړاندې تاوتريخوالو ته د پای ټکی کېږدي او د قانون په وړاندې عادلانه چلند ته د هغوی لاسرسی تضمين کړي. دولت اعلان کړی، چې د ښځو اقتصادي وضعيت او د هغوی ټولنيز ګوښه توب ته د رسېدنې په موخه، لاړې چارې ترلاس لاندې نيولې دي. دغه پروګرامونه، د ښځو لپاره د ښو اقتصادي او روزنيزو فرصتونو په وړاندې کولو سره، چې د ښځو لپاره د خوندي کاري چاپېريال د برابرېدو تضمين وي، د ښځو او نجونو لپاره يو شمېر امتيازات په پام کې نيسي. [۸] د SMAF په اصلاحي اجنډا کې د ښځو لپاره پنځه شاخصونه په ګوته شوي دي:

- د عدلي او امنيتي ځانګو په ګډون په حکومت کې د ښځو د ونډې اخيستنې زياتوالی؛
- د ښځو، سولې او امنيت په اړه د ملګرو ملتونو له **۱۳۲۵**(UNSCR) ګڼې پريکړه ليک سره سم، د افغانستان د ملي کاري پلان (NAP **۱۳۲۵**) پلي کول. [۹]
- له ځورونو سره د مقابلې د مقرراتو پلي‌توب؛
- د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي په برخه کې د څېړنيزو راپورونو سپارښتنو او پايلو خپراوي او پلي‌توب؛
- د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا لپاره د ملي کاري پلان جوړول او پلي کول.

## ۱.۲ د جنسيتي برابروالي لپاره د مالي سرچينو تامينول

د هېواد په اساسي قانون کې د جنسيتي برابروالي سمبالښت او شتوالي، د يو ارزښت او موخې په توګه نه شي کولی، دغه چاره د افغاني ټولنې په ورځنيو واقعيتونو او جوړښت کې تضمين کړي. د جنسيتي برابروالي لپاره هر راز ژمنتيا، د پلي کېدو لپاره هم له کيفي او هم له کمي پلوه مناسبې بودجې ته اړتيا لري. د ښځو لپاره د ملګروملتونو دفتر، په دې برخه کې د يو شمېر پانګونو يادونه کړې، چې د جنسيتي نابرابروالي جوړښتيزو فکتورونو او پايلو ته لکه: د ښځو په وړاندې تاوتريخوالي، روغتيا، زده کړه، له مزد پرته کار، سولې او امنيت ته، چې د نړۍ په کچه د جنسيتي برابروالي تحقق پر لاره خنډ او خنډ ګڼل کېږي، رسېدنه کوي.[۱۰]

د افغان دولت بودجه، تر ډېره د نړيوالو مرستندويانو پر مرستو متکي ده؛ لکه څرنګه چې د دغه هېواد کورني عوايد، د ياد هېواد د عملياتي او پرمختيايي بودجې يوازې يو پر درييمه برخه جوړوي. په همدې حال، د اصلاحاتو ټکنی پروسه او ناڅرګند سياسي

**۵** . وګورئ، د بېلګې په توګه نړيوال بانک، « د افغانستان په راتلونکې کې د ښځو ونډه: د لاسته راوړنو له لاسه وتل او د ننګونو دوام» (واشنګټن ډي. سي: نړيوال بانک، **۲۰۱۴**).

۶ .» پرځان بسیاینه: د نوو اصلاحات او همکاريو لپاره تعهد (پريزنتيشن، د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس، **۴** دسمبر **۲۰۱۴**).

۷ . د اصلاحاتو دغه شپږ کليدي برخې په لاندې ډول دي: د امنيت او سياسي ثبات ښه والی؛ له فساد سره مبارزه؛ د قانون حاکميت او بشر حقوق؛ د مالي ثبات بېرته ټينګښت او د عامه مالي مديريت او سوداګريزو بانکونو روڼتيا؛ د پرمختيايي مديريتي پلان جوړونې اصلاح او د وګړو د پرمختيايي حقونو له ترلاسه کېدو څخه ډاډ ترلاسه کول؛ د خصوصي سکتور پرمختيا او هراړخيزه وده او پراختيا، پرمختيايي برخه اخيستنې او د مرستو اغېزناکتوب.

۸ . «د پرځان بسیاینې سند» ۱۸ – ۱۹.

۹ . افغان دولت، «د ښځو، سولې او امنيت په اړه د ملګرو ملتونو د **۱۳۲۵** ګڼې پريکړه ليک پر بنسټ، د افغانستان د ملي کاري پلان طرح، **۲۰۱۵۲۰۲۲**» (کابل: د بهرنيو چارو وزارت، **۲۰۱۵**).

۱۰ . د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، «د جنسيتي برابروالي مالي تمويل» http://gender-financing.unwomen.org/en/about-us. (د ۲۰۱۴ ز. کال د اګست پر ۱۴ مه ورته لاسرسی وشو).

وضعیت، د دې لامل شوی، چې د پانګونو په کچه کې کموالی راشي. د دغه هېواد د کورنیو عوایدو کچه پر ۲۰۱۱ ز. کال له ۱۱،۲٪ سلنې څخه پر ۲۰۱۴ز. کال ۸،۷٪ سلنې ته راټیټه شوه، په داسې حال کې، چې لوړ امنیتي لګښتونه بیاهم مخ په زیاتېدو دي؛ له همدې امله، د افغانستان دولت د ۲۰۱۴ ز. کال بودجه، ۳۵۰ میلیونه ډالره مالي کسر ښيي.[11] له دې سره سره، پر ۲۰۱۵ ز. کال د دولتي عوایدو په کچه کې، د نږدې ۲۲٪ سلنې په زیاتوالي سره، «په عوایدو کې یو جوت بدلون» ترسترګو کېږي.[12] البته دغه لاسته راوړنې، د عوایدو د راټولو او همدا راز د فساد د ښه کنټرول په برخه کې د پراخو هڅو او د نویو مالیاتو د معرفي کېدو او د مالیاتو د کچې د زیاتېدو په پایله کې ترلاسه شوې.

د ۲۰۱۲ ز. کال لپاره د افغان دولت بودجه ۲.۲۳۲ میلیارده ډالر اټکل شوې دی ( دلندېز لپاره لاندې ۱ لومړی جدول وګورئ). [13] ، چې له دې جملې څخه (۶۲٪) سلنه یې عملیاتي او (۳۸٪) سلنه نور یې پرمختیایي بودجه ده. په ټولیزه توګه، د افغانستان ملي بودجه ۳۱٪ د کورنیو عوایدو له سرچینو او ۶۹٪ سلنه نور یې د بهرنیو مرستندویانو له خوا او پاته ۱٪ سلنه یې د پورونو په وسیله تمویلېږي. د ملي بودجه عمده برخه (۴۰٪،۲.۲۴۴ میلیارد ډالره)، امنیتي سکتور ته ځانګړې شوې ده. دغه برخه (۴۰٪،۲.۲۴۴ میلیارد ډالره) په هغه برخه پورې اړوندېږي، چې د بودجوي مرستو په لړ کې، له کورنیو عوایدو او بهرنیو مرستو څخه تامنېږي. البته د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د اړتیا وړ کلنۍ بودجه پر ۲۰۱۵ ز. کال، ۵،۴ میلیارده ډالره وه.

**۱ جدول: د ۲۰۱۲ (۱۳۹۵) مالي کال لپاره د افغانستان ۲،۲۳۵ میلیارده ډالري بودجه**

| سکتورونه | ٪ |
|---|---|
| امنیت | ۴۰ |
| حکومتولی | ۴ |
| زیربنا | ۲۰ |
| زده کړه | ۱۳ |
| روغتیا | ۵ |
| کرنه او د کلیو پراختیا | ۷ |
| ټولنیز ملاتړ | ۵ |
| اقتصادي حکومتولی | ۳ |
| متفرقه او احتمالي کوډونه | ۳ |
| سرچینه: د افغانستان دولت، «ملي بودجه: د ۱۳۹۵ ل. مالي کال» (کابل: د مالیې وزارت ۲۰۱۲) | |

د یادونې وړ ده، چې د ښځو چارو وزارت بودجه، د ټولنیز ملاتړ د بودجې یوه برخه ده، چې د دغې بودجې یوازې ۱٪ یوه سلنه جوړوي. د ملي بودجې سند، د وروستیو کلونو په لړ کې، له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه، یوازې د بودجې د اصلاحاتو د یوې برخې په توګه یادونه کوي، خو په دې برخه کې د راتلونکو هڅو او لاروچارو لپاره، د نورو پروګرامونو او برنامو په لټه کې نه وي.

هغه زیاتره پروګرامونه او برنامې، چې جنسیتي نابرابروالي او د ښځو ځواکمنتیا ته رسېدنه کوي، له دولتي بودجې څخه بهر سرچینو له خوا تمویلېږي. د بېلګې په توګه د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداره (USAID) د پنځو راتلونکو کلونو په موده کې به د ۲۱۸ میلیون ډالرو په شاوخوا، د افغان ښځو پر ځواکمنتیا پانګونه وکړي.[14] د ملي یووالي حکومت یوه موخه دا ده، ترڅو د نړیوالو مرستندویانو او تمویلونکو د مستقیمو مرستو له دوام څخه، چې د احتیاطي شرایطو پر بنسټ یې ورکوي، ډاډه شي. د دې لپاره، چې دغه موخه ترلاسه شي، نو یو مهم پیش شرط، د دولت د حساب ورکولو له لارې، د روڼتیا د کچې زیاتوالی دی او همدارنګه دغه مسله ده، چې دغه بودجه، څرنګه پلان ګذاري، پلې او کومو برخو ته ځانګړې کېږي. د نړیوالو مرستندویانو مستقیمې مرستې، چې عمده موخه یې په بودجه کې جنسیتي برابروالی ده، د پلان جوړونې کیفیت او وړتیا، د اړوند دولتي جنسیتي پروګرام پلېټوب

۱۱ . نړیوال بانک، «افغانستان: د لېږد له بهیر څخه د تېرېدو په حال کې» (د ۲۰۱۵ ز. کال د سپتمبر ۴-۵ ، د لوړ پوړو چارواکو ناسته، د نړیوال بانک ډله).

۱۲ . ډبلیو. بیرد و ک. پاینده، « پر ۲۰۱۵ ز. کال د افغانستان په عوایدو کې تغییر» (واشنګټن ډي. سي: د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت، ۲۰۱۲ ز).

۱۳ . افغان دولت، «د ملي بودجې سند: ۱۳۹۵ مالي کال» (کابل: د مالیې وزارت، ۲۰۱۲).

۱۴ . د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ، د افغان ښځو پرمختګ، «فرصتونه: د پرمختګونو په اړه،» https://promoteafghanwomen.org/en/about-us/about-promote (د ۲۰۱۵ ز. کال د نومبر پر ۱ نېټه ورته لاسرسی شو).

او همدارنګه په ځانګړو شویو پروژو کې د بودجې د لګولو د وړتیا اړتیا ده. د بودجې د تمویلي سرچینو له خوا، د بودجې د لګولو لپاره د مسیر ټاکل، د ملي یووالي حکومت د لومړیتوبونو د ډلبندي کولو، د پروګرامونو د پلانولو او پلیتوب په برخه کې، له پوره انعطاف پذیرۍ سره چمتو کوي. په واقعیت کې معنالرونکي عملي خدمتونه او پروګرامونه هغه دي، چې د ښځینه او نارینه وګړو د اړتیاوو، ګټو او په زړه پورتیاوو ځواب ویونکي وي او په ورته وخت کې، د دې جوګه شي، چې د دولت د مشروعیت د زیاتېدو په برخه کې اغېزناک او ګټور وي.

**۱ بسته: د پالیسۍ او ټولنیزو مذاکراتو پروسه، د عامه خدمتونو او ګټو د وېش ځرنګوالي ټاکي.**

د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړوني اړتیا او بنسټیزه کېدل، په هغه ډله ییز بحث کې په روښانه بڼه ځرګند شو، چې په دولتي ادارو، سیمه ییزو ښاروالیو او پروګرامونو کې د جنسیتي سلاکارانو په ګډون جوړ شوی وه. دوی ځرګند کړل، چې دوی پر دې قادر نه دي، ترڅو په بودجه کې په ښځو پورې د اړوندو پروګرامونو او برنامو لکه د ښځینه باغونو جوړولو، د ښځو لپاره د سواد زده کړې او حرفه یي کورسونو د دایرولو لپاره، زیاتوالی په پام کې ونیسي؛ ځکه چې په بودجه کې په ښځو پورې د اړوندو چارو لپاره ځانګړی باب شتون نه لري او نه دوی له داسې واک او اغېزې څخه برخمن دي، چې په دې برخه کې په منظم ډول کومه بودجه ځانګړې کړي. لکه ځرنګه چې مرکه شویو کسانو وویل، د ځانګې رییسانو، چې د پلان جوړوني او بودجه جوړوني د برخې مسوولین دي، تر ډېره دا نه مني، چې په ښځو پورې د اړوندو چارو او برنامو لپاره دې ځانګړې بودجه په پام کې ونیول شي؛ هغوی استدلال کوي، چې د ښځینه چارو او په هغوی د اړوندو پروګرامونو لپاره، کومه ځانګړې بودجه طرح او په پام کې نه ده نیول شوې. په دې توګه، د روښانو کړنلارو او مقرراتو په نشتوالي کې، دا شونې نه دي، چې په ښځو پورې د اړوندو چارو او برنامو لپاره، د بودجې له ځانګړي باب څخه ګټه واخیستل شي. په دې توګه، د ښځو د حقونو د پرمختګ او پیاوړتیا په موخه زیاتره برنامې او پروګرامونه، د نړیوالو مرستندویانو له خوا تمویلېږي. چې دغه چاره په خپله دغه استدلال پیاوړی کوي، له هغه ځایه، چې په دې برخه کې مرستندویان په عمل کې موخې ټاکي، نو په دې توګه، جنسیت یو غربي مفهوم او مفکوره ده.

## ۱.۳ په لړزاندو او حساسو شرایطو کې جنسیتي برابروالي او د ښځو ځواکمنول

افغانستان د یو جګړې ځپلي او نازکو شرایطو درلودونکی هېواد په توګه، له یو شمېر زیاتو ناخوالو سره لکه له وسله والو یاغیانو سره جګړه، خرابېدونکي امنیتي شرایطو او له فساد سره مبارزه، چې د پرمختیایي مرستو د خوندیتوب، اقتصادي ودې او د خدمتونو د وړاندې کېدو د ښه والي په برخه کې اړینه چاره ګڼل کېږي، مخامخ دی. دغه ټولې چارې، د نارینه وو او ښځو په ګډون، د وګړو پر ژوندانه په مساوي توګه اغېزه لري. په همدې حال، په جګړه ییزو شرایطو کې ښځې د نارینه وو په پرتله، تر دې ډېره له تبعیضي چلند، زیانونو، د بشرحقونو له نقض، عدالت، عامه خدمتونو او ټولنیز ملاتړ ته د لاسرسي له محدودیت سره مخامخې دي.

د امنیتي مسوولیتونو د لېږد بهیر له بشپړېدو سره، چې له اوږدمهالي ولسمشرۍ ټولټاکنې او د ملي یووالي حکومت له رامنځته کېدو سره ملګری و، د **۲۰۱۴-۲۰۱۵** کلونو په بهیر کې، د جګړو او ناامنیو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی؛ لکه ځرنګه چې دغه جګړې او ناامنۍ په ټولیزه توګه د ۱۱۰۰۲ تنو ملکي وګړو د مرګ ژوبلو (چې له دې جملې څخه د **۳۵۴۵** کسانو د وژل کېدو او د **۷۴۵۷** تنو نورو د ټپي کېدو) لامل شوې دی. همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویې پلاوي یعنې یوناما د **۲۰۱۵** ز. کال د راپور او شمېرنو له مخې، په دغه موده کې ټولټال **۳۳۵۴۰۰** کسانو د وسله والو نښتو له امله د خپلو کورونو پرېښودو ته مجبور شوي دي[۱۵]. دغه جګړې تر ډېره، ښځې او ماشومان زیانمن کړي دي؛ لکه ځرنګه چې له هرو څلورو زیانمن شویو کسانو څخه یوه یې ماشوم دی، او همدارنګه په دغه موده کې د ښځو مرګ ژوبلې **۳۷** سلنه زیاته شوې، چې دغه شمېرنه د نورو په پرتله، **۴** سلنه زیاتوالی ښيي. له همدې امله ده، چې افغانستان په نړیواله کچه د ښځو لپاره له ترټولو خطرناکه سیمه بلل شوې ده. [۱۶]

د افغانستان اوسنی وضعیت د اصلاحاتو په ټکني بهیر سره، مشخص کېږي. په دغه هېواد کې د وزګارتیا او بیکارۍ سلنه **۴۰٪** ده. نژدې **۳۲٪** وګړي، د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، دغه شمېرنه، له **۲۰۰۸** ز. راهیسې د نړیوالو له پراخو پرمختیایي مرستو سره سره بیا هم بدلون نه ده موندلې. د بشرپالو چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر د اټکل له مخې، د افغانستان **۷۰٪** سلنه وګړي، په ورځ کې تر **۲** ډالرو لږ عاید سره ژوند کوي [۱۷]. د بېوزلۍ لمنه تر ډېره په کلیوالي سیمو کې پراخه شوې، چې بیاهم د نارینه وو په پرتله، ښځې ترې زیاتې اغېزمنې کېږي. لومړنیو سروې ګانو، د امنیتي حالت او د کار بازار د وضعیت د خرابېدو له امله، په راتلونکي کې د بېوزلۍ د لا زیاتېدو په اړه خبر ورکوي. دغه شمېرنې ښیي، چې د فزیکي ناامنیو سربېره، اقتصادي ناخوندیتوب ورځ تربلې د هېواد وګړي په ځانګړې توګه، زیان منونکې ډلې لکه داخلي بې ځایه شوي خلک یا راستنیدونکي، ښځې او ماشومان اغېزمنوي.

---

۱۵ . په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، «د افغانستان کلنی راپور **۲۰۱۵**: په وسله والو نښتو کې له ملکي وګړو څخه ملاتړ» (کابل: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، ۲۰۱۲ ز).

۱۶ .»د ښځو لپاره تر ټولو ۱۰ خطرناک هېوادونه«، نوی اقتصاد، ۱۷ جون ۲۰۱۴، http://www.theneweconomy. com/insight/۱۰--of-the-most-dangerous-countries-to-be-a-woman (د **۲۰۱۵** ز. کال د اګست پر ۲۱ مه نېټه ورته لاسرسی وشو).

۱۷ . د بشرپالو مرستو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، «د انساني اړتیاوو لنډه ارزونه ۲۰۱۲»، (نیویارک: د بشرپالو چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، **۲۰۱۵**)، ۷.

د امنیت او بېوزلي پورې اړوندو موضوعاتو ته رسېدنه ډېره مهمه ده. ځکه دغه چاره د هوساینې او برابروالي او په ټولیزه د ټولنیزو اوضاعو د ثبات ټیکاو او ښه کېدو لامل ګرځي. په سکتوري چارو کې ښه والی، تر هغه مهاله، چې جګړې او ناخوالي او تبعیض دوام ولري، بیا هم ناشونی وي. اټکل کېږي، چې د ۲۰۱۲ ز. کال په بهیر کې د تاوتریخوالي او ناامنیو لړۍ نوره هم پیاوړې شي. د بشرپالو چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر په خپل یو وروستي راپور کې، هغو کسانو ته د پاملرنې غوښتونکی شوي، چې په جګړو پورې له اړوندو تاوتریخوالو څخه اغېزمن شوي دي. یعنې بېځایه شوي، له سوءتغذي سره مخامخ شوي او یا هم لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته یې لاسرسی محدود شوي دي.[۱۸]

د « زده کړه او روغتیا د ګواښ په درشل کې «[۱۹] تر سرلیک لاندې د ملګروملتونو یو راپور، څرګندوي، چې څرنګه د جګړو، د اسانتیاوو او امکاناتو د کموالي زېږنده تاوتریخوالي او ارعاب، زده کړې او روغتیایي خدمتونو ته د ماشومانو د لاسرسي پرلاره خنډ ګرځېدلی دی. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی دفتر او د ملګرو ملتونو د ماشومانو نړیوال صندوق د خپل د ۲۰۱۵ ز. کال په راپور کې، د ښوونځیو او د هغو د اړوندو کارکوونکو په وړاندې د جګړو او ښنتو په پایله کې ټولټال ۱۳۲ رامنځته شوي پېښې ثبت کړې دي، چې دا په خپله د ۲۰۱۴ ز. کال په پرتله، ۸۲ سلنه (د۷۱ پېښې) زیاتوالی ښیي. په افغانستان کې ټولټال تر ۳۶۹ زیات ښوونځي یا په بشپړ او یا تر یو بریده تړلي دي، چې دغه لړۍ، لږترلږه ۱۳۹۰۴۸ تنه ماشومان (۷۳۹۹۱ نجونې او ۶۵۰۲۷هلکان) او ۲۰۰ ښوونکي زیانمن کړي دي. د ناامنیو سربېره، مخالفو وسله والو ډلو، د نجونې زده کړې یا په بشپړ ډول منع کړې و یا یې محدودې کړې دي. په ورته وخت، خدمتونو او روغتیایي اړتیاوو ته د خلکو لاسرسي هم محدود شوی دی؛ لکه څرنګه چې پر ۲۰۱۵ ز. کال، د روغتیایي مرکزونو او اړوندو کارکوونکو په وړاندې یې، د ګواښ د ۲۴ پېښو په ثبتېدو سره، دغه لړۍ د ۲۰۱۴ ز. کال په پرتله د ۲۳ پېښو د زیاتېدو ښودونکی دی. دغه لړۍ، دا سې پېښو لکه د کلینیکونو او روغتیایي مرکزونو په زوره تړل، غارت او ترې د پوځي موخو لپاره د کاراخیستو مواردو ته هم شاملېږي. همدارنګه په کندز ښار کې د بې پوله ډاکټرانو پر روغتون د نړیوالو ځواکونو هوایي برید ، چې له امله یې د دغه روغتون ۴۲ کارکوونکي ووژل شول، هم په دغو مواردو کې شامل دي. د ۲۰۱۵ ز. کال په سپټمبر کې د طالب ځواکونو له خوا د کندز ښار نیول، دا وښوده، چې مسلکي او ټولنیزې ډلې لکه د موسسو ، نادولتي سازمانونو کارکوونکي، خبریالان، ښځې او د بشر حقوقو فعالان د طالبانو ، ځایي ملیشه آن د دوی د خپلو وګړو له خوا بیا هم زیانمنونکي دي. د دغو زیانمنونکو ټولنیزو ډلو په ساتنه کې، د دولتي امنیتي ځواکونو د کمزورتیاوو په پایله کې، د جدي او بشپړ ګواښ کچه مخ په زیاتېدو ده.

د افغانستان په ټولنه کې، د ښځو وضعیت څېړل، لا هم په لوړه کچه د ښځو په وړاندې د توپیري چلند او له لومړنیو خدمتونو ، سیاسي او اقتصادي ګډون څخه د دوی د محرومیت ښودنه کوي. د ۲۰۱۴ ز. کال د ټولنیز او جنسیت شاخص[۲۰] ، چې په ټولنیزو بسنتیونو کې د ښځو په وړاندې د توپیري چلند نړیوال شاخصونه دي، د یوې ګډې ارزونې په لړ کې جوتوي، چې افغانې ښځې اوس هم په لوړه کچه له توپیري چلند ، ټولنیزو کړنو او قانوني اکټونو سره مخامخې دي. دغه شاخص، د "د رسمي او نارسمي قوانینو " په توګه د ټولنیزو بنسټونو توپیري چلند ، هغه ټولنیز معیارونه او کړنې ګڼي، چې د ښځو د محرومیت لامل ګرځي او په پایله کې حقونو ، عدالت، سرچینو او د ځواکمنتیا فرصتونو ته د هغوی د لاسرسي د محدودیت لامل کېږي[۲۱]. دغه شاخص، افغانستان د ښځو په وړاندې د کمیت پر بنسټ د توپیري چلندونو لکه د هغوی په وړاندې تاوتریخوالي، هلکانو ته لومړیتوب ورکول، له وخت مخکې ودونه، ټولیز چاپېریال ته د لاسرسي محدودیت، نابرابره مېراث او د ځمکې او شتمنیو د مالکیت له حق څخه د محرومیت له مخې، په ترټولو لوړه کچه (په بشپړ ډول منفي) راولي.

د "د افغانستان د جنسیتي برابروالي د راپور ورکولو کارت" [۲۲] تر سرلیک لاندې څېړنې، چې د سولې او دموکراسي لپاره د برابرۍ سازمان (EPD) ترسره شوې، د هغو چارو پر څېړلو لاس پورې کړی، چې افغان دولت تراوسه پورې په کلیدي برخو کې د جنسیتي برابروالي د پرمختګ له اړخه، ترسره کړې او په لاندې توګه یې لړلیک وړاندې کوي: د سولې پروسې، سوله، زده کړه، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي، عدالت ته لاسرسي، سیاسي ګډون، سرچینو او خدمتونو او اقتصادي فرصتونو ته لاسرسي، له زیانمنونکو

۱۸ .»په ۲۰۱۲ کال کې، د انساني اړتیاوو لنډه څېړنه»، **۵**.

۱۹ .» زده کړه او روغتیایي خدمتونه، تر ګواښ لاندې: هغه مهمې لېوالتیاوې او پېښې، چې روغتیایي خدمتونو او زده کړې ته د ماشومانو لاسرسی اغېزمنوي» (کابل: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی او د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق، ۲۰۱۲).

۲۰ . د اقتصادي او پرمختیایي همکاریو سازمان پرمختیایي مرکز OECD، «د ټولنیزو بنسټونو او جنسیت شاخص: د ۲۰۱۴ز. کال ترکیبي راپور» (پاریس: د پرمختیا مرکز OECD، ۲۰۱۴).

۲۱ . د اقتصادي او پرمختیایي همکاریو سازمان پرمختیایي مرکز OECD، «د ټولنیزو بنسټونو او جنسیت شاخص» **۲**.

۲۲ . د سولې او دموکراسي لپاره برابري، «د افغانستان د جنسیتي برابروالي د راپور ورکولو کارت: د ښځو او جنسیتي برابروالي لپاره د ژمنتیاوو په تړاو، د افغان دولت د پرمختګونو ارزونه» (کابل: د سولې او دموکراسي لپاره د برابرۍ سازمان، ۲۰۱۴).

ډلو څخه ملاتړ او د پوهاوي کچې لوړول. دغه څېړنې، د جنسيتي برابروالي لپاره د شاخصونو يوه ټوليزه کتنه وړاندې کوي او همدا راز د دې مسلې د سنجونې او پرتلنې لپاره يو لړ ابزار وړپېژني، چې افغان دولت تراوسه د جنسيتي برابروالي او د ښځو د ځواکمنتيا په برخه کې تر کومه بريده پر خپلو ژمنو عمل کړی دی. دغه څېړنه، چې د هغه سروې له مخې چمتو شوې، چې د سولې او دموکراسي لپاره د برابرۍ سازمان د ښځو د ولايتي شبکې د **۱۵۴** غړو ترسره شوي، په يادو کليدي برخو کې د دولت لاسته راوړنې او کمزورتياوې تر ارزونې لاندې نيولې دي. د دغه ارزونې له مخې، د جنسيتي برابروالي د پرمختګ په برخه کې د دولت اجرااتو ته په ټوليزه توګه د امريکايي درجه بندۍ له مخې، له A-F څخه، C+ نمره ورکړل شوې ده. په دغه درجه بندۍ کې A تر ټولو لوړه نمره ده. C+ نمره د يو شمېر پرمختګونو ښودونکې ده، چې په دې برخه کې ترلاسه شوي دي، خو لکه څرنګه چې ښځې څرګندوي، لا هم زيات شمېر وړتياوي او فرصتونه پر خپل ځای پاتې دي، چې کولی شي، د ګټې وړ وګرځي. په دغه ارزونه کې د حيرانتيا وړ خبره دا ده، چې سرچينو ته د ښځو د لاسرسي د اسانتياوو په برخه کې د دولت وړتياوو ته تر ټولو ټيټه نمره (D-) ورکړل شوې ده. له بده مرغه دغه پايله، په ياد راپور کې تر دې زيات څېړل شوې نه ده، خو دغه څېړنه په وروستيو جزيياتو کې يادونه کوي، چې بنسټيزو خدمتونو او پرمختيايي پروګرامونو ته د لاسرسي په موخه د ښځو اړتياوو ته د پروګرامونو په پلانولو او د تصميم نيونې په بهيرونو کې په پوره اندازه پاملرنه نه ده شوې. له هغه ځايه، چې خدمتونو او سرچينو ته د ښځو د لاسرسي له اړخه، دولت C نمره ورکړل شوې ده، نو دغه چاره، پاکو اوبو، معلوماتو، معلوماتي تکنالوژۍ، برېښنا، عامه ترانسپورت ته لاسرسي او همدارنګه د سرچينو او ټوليزو پرمختيايي خپرونو په اړه د تصميم نيونې په پروسو کې د هغوی برخه اخيستنې ته شاملېږي. د افغانو ښځو په تړاو نړيوالو راپورونو، تر ډېره له زيانمنونکو قشرونو لکه د کورنۍ سرپرستې ښځې، چې بېوزلې دي، کوچۍ ښځې، کونډې ښځې او معلولې ښځې څخه د ټولنيز ملاتړ په تړاو د دولت ژمنتياوې له پامه غورځولې دي. د سولې او دموکراسي لپاره د برابرۍ په راپور C- نمره د دې ښودنه کوي، چې افغان دولت د هوساينې او رفاه حکومتولۍ په برخه کې پاتې راغلی او له همدې امله ده، چې د ټولنيزو ملاتړونو له لارې د زيانمنونکو قشرونو اړتياوو ته په سمه توګه رسېدنه نه ده شوې.

په افغانستان کې د نجونې د زده کړې په اړه بايد ووايو، چې عملي خنډونه لکه کلتوري او ټولنيز خنډونه، په ښوونځي کې له زده کړې څخه نجونې محرومې کړې دي. د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د نړيوال صندوق، د هېواد پروګرام کاري پلان[23]، **۲۰۱۵** -۱۹، په دې برخه کې له لاندې مواردو څخه يادونه کوي:

> «د نجونو د زده کړې د کچې له لوړېدو سره سره، دې ته په پام سره، چې نجونې تر هلکانو وروستې پاتې دي، نو د پام وړ نابرابرۍ بيا هم پر خپل ځای پاتې دي. په ښارونو کې د هرو ۱۰۰ هلکانو په مقابل کې، **۷۸** نجونې ښوونځي ته ځي؛ په داسې حال کې، چې دغه شمېره په کليوالي سيمو کې **۵۰** نجونې د ۱۰۰ هلکانو په پرتله ده. د زده کړو د پايلو کيفيت او همدارنګه په ځنډ نوم ليکنې ته په پام سره، په ټوليزه توګه په کليوالي سيمو کې زده کړې ته لاسرسی له ننګونو ډک ښکاري. له ښوونځي څخه د **۳.۵** ميليونو بهر ماشومانو له جملې څخه **۷۳** سلنه يې نجونې دي. کارګر، معلول او له جګړو څخه زيانمن شوي ماشومان تر ډېره د خپلې زده کړې حق، يو دروغ ګڼي. د کارګرو ماشومانو شمېر بيخي زيات دی، لکه څرنګه چې د افغان ماشومانو يوه پرځلورمه برخه، په استثماري کار کې شامل دي».

د زده کړې په برخه کې د دغو توپيرونو د له منځه وړلو په موخه بايد د نجونې د زده کړې پر وړاندې له اوسنيو عملي او فرهنګي خنډونو سره مقابله وشي. د افغانستان په ښوونځيو کې د ماشومانو د نوملیکنې کچه تر ډېره، ښوونځيو ته د ماشومانو د لاسرسي په څرنګوالي پورې اړوند ېږي. د ماشومانو له هستوګنو څخه د ښوونځيو زيات واټن او همدارنګه د ښوونځيو ناخوندي او ناامنې لارې، د دې لامل شوي، چې يو شمېر ماشومان په ځانګړې توګه نجونې ښوونځي ته له تګ ډډه وکړي. په کليو کې د ټولنيزو ټولګو جوړېدل، د ماشومانو په ځانګړې توګه د نجونې د نوملېکنې لړۍ د پراخېدو لامل شوی دی[24]. په همدې حال، د زده کړې لپاره د نجونې هوډ او د نوملیکنې پروسه همدارنګه د نجونې د زده کړې په تړاو د کورنۍ او د ټولنې د غړو له ليد او چلند څخه اغېزمنه ده. البته د نجونې د زده کړې لپاره د مساعد چاپېريال د برابرېدو او همدارنګه منع کېدل په اړه يې، د ټولنې د مشرانو او ملايانو منتقدانه نظر جدي او مهم دی. په پايله کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې له ليد څخه، په ښوونځيو کې د نجونو د داخلېدو او نوملیکنې په موخه فعاليت او کار، د يو لړ مواردو لکه د مناسب ترانسپورتيشن د برابرولو، د ښار او يا کلي په مرکز کې د ښوونځيو جوړولو او د ښځينه ښوونکو ګمارلو په برخه کې د بودجې بېلولو او پلان جوړولو ته اړتيا لري.

---

۲۳ . د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق، «د هېواد پروګرام کاري پلان **۲۰۱۵** – ۲۰۱۹» (د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو نړيوال صندوق، ۲۰۱۴)، ۳.

۲۴ . نړيوال پرمختيايي ديپارتمنت، «د افغانو نجونو د زده کړې له خنډونو سره مبارزه» https://dfid.blog.gov. uk/۲۰۱۴/۰۷/۱۲/-tackling-barriers-to-education-for-afghan-girls (د **۲۰۱۵**ز. کال د اکتوبر پر **۱۵** مه ورته لاسرسی وشو).

## ۲. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې مخينه

د جنسيت پراختيا له **۱۹۹۵** ز. کال راهيسې، کله چې په پيکنگ کې د ښځو څلورم نړيوال کنفرانس جوړ شو، د جنسيتي برابروالي د ترلاسه کېدو او د ښځو حقونو د ودې او پرمختيا په موخه، پر يوه منل شوې نړيواله تګلارې بدله شوې ده. د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنيزې شورا د **۱۹۹۷** ز. راپور، د جنسيت د پراختيا په اړه دغه تعريف وړاندې کوي:

> د جنسيت ليد، په ټولو برخو او کچو کې د ښځو او نارينه وو په تړاو، د ټولو پلان شويو کړنو لکه پاليسي جوړونو يا پروګرامونو د پايلو د ارزونې يوه لړۍ ده، ترڅو د نارينه وو د اندېښنو او تجربو په شان د ښځو اندېښنې او تجربې، داسې په پام کې ونيول شي، چې په ټولو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ډګرونو کې د پاليسيو او پروګرامونو د طرحې، اجرا، څارنې او ارزونې نه بېلېدونکې برخه وي، په دې توګه نارينه او ښځې دواړه له ګټو څخه يې په مساوي توګه برخمن او کومه متداومه نابرابرۍ پکې ملموسه نه وي. د دغه ستراتيژۍ وروستي هدف، د جنسيتي برابروالي ترلاسه کېدل دي. [۲۵]

په ټوليزه توګه د جنسيت پراختيا، تر هر څه مخکې، د دولتي او خصوصي سازمانونو په دننه، د پاليسي جوړونې، خدمتونو او پرمختيايي پروګرامونو په بهيرونو کې د جنسيتي برابروالي د عناصرو مدغمول او بنسټيزه کول دي. د دغه چارې اوږدمهاله موخه، پر يو برابر او مناسب چاپېريال، د ټولنيزو، کلتوري او تاريخي تثبيت شويو توپيري ارزښتونو، قوانينو او دودونو بدلول دي، ترڅو جنسيتي برابروالی رامنځته شي. دغه لړۍ، د يو شمېر مشخصو فعاليتونو او غښتلتياوو اوږدمهاله پروسه ده، چې ښځې او نارينه دواړو ته شاملېږي او دواړه تر خپلې اغېزې لاندې راولي، خو البته تر ډېره له مقاومتونو سره هم مخ کېږي.

دولتونو، د پيکنګ د ښځو نړيوال کنفرانس تر «د اقدام لپاره د پيکنګ پلاټفورم» تر سرليک لاندې، وروستي قطعنامه کې ژمنه کړې، چې نه يوازې په پاليسي جوړونه او تګلارو کې د جنسيت ليدلوري ځای پرځای کوي، بلکې د خپل مالي عامه مديريت په سيستم (PFMS) کې يې هم مدغموي. دغه لړۍ اوس د جنستي ځواب ويونکې بودجه جوړونې (GRB) په نامه پېژندل کېږي. د اروپا شورا له خوا د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې يو تعريف په داسې ډول وړاندې شوی دی:

> جنسيتي ځواب ويونکې بودجه [۲۶]، د بودجه جوړونې په بهير کې د جنسيت د جريان کارول دی. په دې معنی سره، چې د بودجې ځواب ويونکې ارزونه، د جنسيتي برابروالي د پرمختګ او دودولو په موخه، د بودجه جوړونې، د عوايدو ترلاسه کولو او لګښتونو په ټولو بهيرونو او پروسو کې د جنسيت ليد مدغموي. [۲۷]

پر دغه ژمنتيا، چې ملي بودجه، بايد جنسيتي ځواب ويونکې وي، په يو شمېر نړيوالو هوکړه ليکونو لکه د مونتري اجماعي هوکړه ليک (۲۰۰۲) ز. او د پرمختيا لپاره د مالي تمويل په تړاو د دوحې اعلاميه (۲۰۰۸) کې ټينګار شوی دی. سربېره پر دې، د پرمختيا لپاره د مالي تمويل په اړه دربيم نړيوال کنفرانس، چې پر (**۲۰۱۵**ز.) کال په اديس ابابا کې جوړ شوی و، دغه ژمنتيا، چې دولتونه بايد د جنسيتي ځواب ويونکې عامه مديريت ته رسېدنه وکړي، د بيا لپاره تصريح کړې او «د مالي، اقتصادي، ژوند چاپېريال او ټولنيزو پاليسي جوړونې په برخه کې د جنسيت د هدفمندې پراختيا او پانګونې باندې» [۲۸] ټينګار کړی دی؛ په ځانګړې توګه د دغه کنفرانس د اجنډا دربيم بند په ځانګړې توګه «د بودجه جوړونې په بهير کې روڼتيا او برابر ګډون، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې پرمختګ او د هغه د تعقيب»، [۲۹] ژمنتيا ته اشاره لري.

د زريزې پرمختيا پر اهدافو په تمرکز سره، هغه زياته معياري پاملرنه، چې د جنسيتي برابروالي او د ښځو د ځواکمنتيا په برخه کې په تېره لسيزه کې، صورت وموندله، په کافي اندازه، په دې برخه کې د کافي بودجې د بېلېدو منعکسوونکې نه ده. په داسې حال کې، چې زياتره نړيوالو مالي مرستو پر هغو پرمختګونو تمرکز درلود، چې د ټولنيزې روغتيا او زده کړې په برخه کې بايد ترسره شوي وای، خو په اقتصادي او همدارنګه سولې او امنيت سکتور کې د جنسيتي برابروالي په تړاو پانګونې د سياسي او مالي ژمنتياوو

---

۲۵ . ملګري ملتونه، «د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنيزې شورا د **۱۹۹۷** کال راپور « ( د **۱۹۹۷**ز. کال د سپمتر ۱۸ مه، A / ۳/۵۲).

۲۶ . په نړيوالو ادبياتو کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې، د جنسيتي نفوذ منونکې بودجه جوړونې او د جنسيت پر بنسټ جوړونه، د يو بل پر ځای کارول کېږي.

۲۷ . اروپايي شورا، «د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه معلوماتي سند» (DG II (۲۰۰۴) ۵، استراسبورګ)، ۲.

۲۸ . ملګري ملتونه، «د پرمختيا لپاره د مالي تمويل په تړاو د اديس ابابا دربيم کنفرانس د اقدام اجنډا» (نيويارک: ملګري ملتونه، ۲۰۱۵)، ۲، ۳ بندونه.

۲۹ . ملګري ملتونه، «د اديس ابابا د کنفرانس د اقدام اجنډا»، ۱۵ او ۳۰ بندونه.

ترمنځ کره واټن او د درز شتوالي ته اشاره لري.[۳۰] البته تر **۲۰۱۵** ز. کال وروسته د پرمختیا د اجنډا د تعریف لړۍ ته په پام سره، زیاترو هېوادونو د با ثباته پرمختیا له هدفونو څخه په بېل ډول، د جنسیتي برابروالي او د ښځو او نجونې د ځواکمنتیا په برخه کې له بریا ډکې خپرونې طرحې کړي، خو بیا هم پلي کېدل یې معنالرونکو او هدفمندو مالي سرچینو، لکه کورنیو عوایدو او نړیوالو رسمي مرستو ته اړتیا لري.

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر د «جنسیتي برابروالي لپاره د مالي تمویل» پروګرام، له ۲۰۰۱ ز. کال راهیسې، د یو شمېر دولتونو او مرستندویانو په ملاتړ، د ملي بودجې په دوران کې د جنسیتي برابروالي د زیاتېدو په برخه کې د یو لړ هڅو لامل ګرځېدلی، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، د پالیسي جوړونې، پلان جوړونې او بودجه جوړونې بهیرونه جنسیتي ځواب ویونکې دي. د جنسیتي برابروالي لپاره د کافي مالي سرچینو د بېلولو لړۍ د په رسمیت پېژندلو یوه نښه، د ټولې نړۍ د مالیې وزیرانو لپاره په لوړه کچه د جنسیت د عمل ټولنې رامنځته کېدل دی. دغه ټولنه، د نایجریا د مالیې وزیر په وړاندیز او د نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندوق تر څارنې لاندې رامنځته شوه[۳۱]. د دغې ټولنې اصلي موخې، د جنسیت په تړاو د لاسته راوړنو په برخه کې د مالي سرچینو او ظرفیتونو لوړاوي، له ښځو او نجونو څخه د ملاتړ په برخه کې د ملي بودجو زیاتې اغېزمنتیا، د مالیو وزارتونو د نوښتګرو کړنلارو د شریکولو له لارې، د زده کړو او اغېزمنتیاوو د کچې کره کول، تر **۲۰۱۵** ز. کال وروسته کلونو په اجنډاوو کې د جنسیتي برابروالي له موخې لرونکو سیاسي خوځښتونو څخه ملاتړ او د مالي ژمنتیاوو تعقیب ده. د نورو نړیوالو مالي ناستو او غونډو لکه د نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندوق د پسرلنیو او کلنیو غونډو په پرتله، د دغې ټولنې غونډې په هرو شپږو میاشتیو کې د مالیې وزیرانو په کچه یوځل جوړېږي.

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر له ۲۰۱۱ تر **۲۰۱۵** ز. پورې د «د جنسیتي برابروالي د مالي تمویل په برخه کې د ځواب ویلو پیاوړتیا» تر نامه یو نړیوال پروګرام د نړۍ په ۱۲ هېوادونو کې پلي کړه. د دغه پروګرام ټولیزه موخه، د جنسیتي برابروالي په برخه کې د ملي ژمنتیاوو د مالي تمویل لپاره له مرستو او کورنیو عوایدو څخه د ګټه اخیستنې او د مالي تمویل د پرېکړو او کړنو په برخه کې د دولت او تمویلوونکو د ځواب ویلو پیاوړتیا ده. دغه پروګرام، له دولتونو، مرستندویانو، کارپوهانو او مدني ټولنو سره د کار په برخه کې، له څو سطحي جامعې کړنلارې څخه کار اخیستلې. له دغه پروګرام څخه ټولیزه ترلاسه شوي درسونه[۳۲]، له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو په برخه کې، د سیاسي ملاتړ او حقوقي چوکاټ د شتون اړتیا په ګوته کوي، چې د ښځو لومړیتوبونو او د جنسیتي برابروالي پایلو ته په پوره توګه رسېدنه شوې، اهمیت ورکړل شوی او له مالي اړخه تمویل شوي دي. په همدې توګه، د ملي پرمختیا او اوږدمهالو پانګونو له پلانونو سره د جنسیتي برابروالي د لومړیتوبونو د مدغمولو اړتیا، د جنسیتي ځواب ویونکې پلانونې او بودجه جوړونې په تړاو په تخنیکي ظرفیت جوړونو کې، محسوسېږي، ترڅو عملیاتي چوکاټونه او پلان جوړونې نور هم جنسیتي ځواب ویونکې شوي او د ښځو پورې اړوندو لومړیتوبونو ته ټولیزه پاملرنه وشي. یو بل مهم فکټور، د سرشمېرنې په تړاو پانګونې دي. زیاتره وختونه د جنسیتي تفکیک کوونکو شمېرنو او معلوماتو نشتوالی، هغه ستونزه ده، چې د جنسیتي تحلیل پر مخ خنډ ګرځي او دغه چاره ستونزمنوي، ترڅو د جنسیتي برابروالي په اړه ترلاسه شوي پرمختګونه په سمه توګه سنجش او تعقیب شي. په پایله کې باید څرګند کړو، چې مدني ټولنه له مهمو شریکانو څخه ده، چې کولی شي، په دې برخه کې پالسیي جوړوونکو او بودجه جوړوونکو ته معلومات وړاندې کړي او د خپلو پانګو او لګښتونو په تړاو دولت او مرستندویان مسوولیت پذیره وګرځوي.

---

**۳۰ . د اقتصادي او پرمختیایي همکاریو سازمان، «له ژمنې تر عمله: د باثباته پرمختیا د اهدافو په پلي کې د جنسیتي برابروالي او ښځو حقونو مالي تمویل»، ( OECD DAC د جنسیتي برابروالې شبکه، ۲۰۱۵ ز).**

**۳۱ . د عمل ټولنې اوسني غړي، د بنګله دیش، موریتانیا، نایجریا، رومانیا، رواندا، سیری لیون، سویدن او ختیځ تیمور د مالیې وزیران دی. نړیوال بانک، «د مالیې وزیرانو لپاره د جنسیت د عمل ټولنه» -http://www.worldbank.org/en/topic/gender/genderequality-community of-practice-for-finance-ministers (د ۲۰۱۲ ز. کال د اپریل پر ۴ مه ورته لاسرسی وشو).**

**۳۲ . «د جنسیتي برابروالي په موخه په مالي تمویل کې د ځواب ورکولو زیاتوالی» (د پروګرام لنډیز، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، ۲۰۱۵ ز).**

**۲ بسته: جنسيتي بودجه جوړونه څرنګه کولی شي، له افغانستان سره د ښځو د ځواکمنتيا او جنسيتي برابروالي په تړاو د خپلو ژمنتياوو په ترسره کولو کې مرسته وکړي؟**

د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې کارونه، يو تخنيکي او سياسي بهير دی، چې په بېلابېلو ډګرونو لکه حکومتولۍ، مالي عامه مديريت، له خلکو څخه استازيتوب او د مرستو د اغېزمنتيا په برخه کې، د برابريو د زياتېدو لامل ګرځي. جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې ته بايد د ضمني او بېلې پروژې په سترګه و نه کتل شي، بلکې تر ډېره هغه وسيله ده، چې په بېلابېلو برخو لکه د پاليسي جوړونې، پرمختيايي پلان جوړونې، د پروګرامونو د پلېتوب او د ارزونو په بهير کې ګټور تمامېږي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې ليد، په ځانګړې توګه کولی شي د افغانستان د ملي بودجې په لاندې برخو کې مرستندوی واقع شي:

- د پرمختيايي پروګرامونو او عامه خدمتونو له ګټو څخه د نارينه وو او ښځو دواړو برخمنېدو په برخه کې، د لومړيتوبونو او بېلابېلو خنډونو په تړاو، د شننو په وړاندې کولو سره، د ملي او سکتوري پاليسيو شکل ورکول؛
- په ملي، ولايتي او سيمه ييزه کچه د بودجه جوړونې او د تخصصي پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې په بهيرونو کې، له جنسيتي شننې څخه کار اخيستنه؛
- د هغو معنادارو پروګرامونو پېژندنه، ډلبندي او پلېتوب، چې د جنسيتي برابروالي، د ملي بودجې او پرمختيايي مرستو د اغېزمنتيا د زياتوالي لامل ګرځي؛
- د مالي او پرمختيايي برخو د پلان جوړونې په اړه د سيمه ييزې حکومتولۍ شموليت.
- د مشارکتي او هراړخيزې پلان جوړونې او په ملي کچه د بودجه جوړونې د بهيرونو پياوړتيا؛
- د دې مسلې په مطرح کولو سره او د روڼتيا رامنځته کول چې څومره مالی سرچينې د ښځو د ځواکمنتيا او جنسيتي برابروالي پروګرامونو ته ځانګړې شوې او څرنګه به ولګول شي، ؛
- په دې برخه کې د خدمتونو وړاندې کول او پرمختيايي پانګونې، چې نارينه او ښځې په مساوي توګه د عامه خدمتونو له سرچينو او پرمختيايي مرستو څخه برخمن کېږي؛
- له دې څخه د ډاډ ترلاسه کول، چې اقتصادي او مالي رياضت او د خدمتونو د کچې کمېدل به په نابرابره توګه، ښځې په ځانګړې توګه، بېوزلې، محرومې او بې وسې ښځې نه زيانمنوي؛
- په بودجه کې د وړاندوينې وړ مالي وجوهو په بېلولو او ثابت ساتلو سره، د جنسيتي برابروالي په اړه د ملي ژمنو پلي کول.

## ۲.۱ جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه څرنګه کار کوي

جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه، د ملي بودجې نظام په دننه کې د جنسيت ليد مدغموي او دغه چاره هدفمندوي، ترڅو د عوايدو، د کورنيو سرچينو او رسمي پرمختيايي مرستو په ويش کې، د جنسيتي نابرابروالي پراخ سياستونه تحليل او رسېدنه ورته وکړي. د پلان جوړونې او بودجه جوړونې نظام مرکزي ده او د جنسيتي برابروالي او ښځو ځواکمنتيا د پرمختګ او پرمختيا په پرتله، له ملي پرمختيايي پروژو سره د عوايدو او لګښتونو د بهيرونو د همغږي کولو په پام کې نيولو سره، تر ډېره د سياسي لومړيتوبونو څرګندوی دی.

په دې توګه، جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې، د ښځو موضوعاتو ته د رسېدنې په موخه او يا په هر سکتور کې د ښځو او نارينه وو لپاره د پولي سرچينو د مساوي تخصيص لپاره په پام کې نه ده نيول شوې؛ بلکې دغه چارې ته په ټوليزه توګه، د ملي بودجې په تړاو د ترسره شويو پلان جوړونو او ارزونو له ليده کتل کېږي. بنسټيزه پوښتنه دا ده، چې بېلې شوې مالي سرچينې څرنګه وکارول شي، ترڅو له جنسيتي برابروالي سره سم اقتصادي او عادلانه اغېزمنولارو چارو ته په پام سره، دولتي موخې هم ترلاسه شي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې پلېتابه نه يوازې د جنسيتي برابروالي لامل ګرځي، بلکې سربېره پر دې، د يو لړ نورو ارزښتونو او ګټو لکه د ټوليزو لګښتونو په تړاو د روڼتيا د زياتېدو لامل هم ګرځي. جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه، همدارنګه د مرستو له اغېزمنتيا، باثباته پرمختيا او هر اړخيزه اقتصادي ودې په برخه کې هم مرسته کوي.

له هغه ځايه، چې ملي بودجې تر ډېره د دې امر منعکسوونکې دي، چې دولتونه څرنګه کولی شي، ټوليزې سرچينې بسيج و وويشي، ترڅو د خلکو اړتياوې پوره شي، نو جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه مرسته کوي، چې د پاليسي د بهير او او د تطبيق په برخه کې يې د ژمنه شويو سرچينو ترمنځ احتمالي توپيرونه شنل او په ګوته کړي. زياتره د ښځو او نجونو پرمختيايي لومړيتوبونه او له ټوليزو خدمتونو څخه د هغوی ګټه اخيستل، له هغه سره ډېر توپير لري، چې نارينه او هلکان ترې برخمن کېږي. دغه چاره تر ډېره، د هرې ټولنې د موجودو ټولنيزو دودونو او رواجونو، تمو او همدارنګه په هره ټولنه کې د ښځو او نارينه وو د بېلابېلو مسووليتونو زېږنده ده. د بېلګې په توګه، د روغتيايي خدمتونو په برخه کې اسانتياوې او امکانات، د جنسيتي توپير ښودونکي دي. روغتيايي خدمتونو او امکاناتو ته د ښځو لاسرسي تر هغه ډېر پيچلي دي، چې نارينه ورته لري؛ ځکه د روغتيايي مرکزونو زيات واټن، همدارنګه مناسبو ترانسپورتي وسيلو ته د ښځو د لاسرسي نشتوالي او فرهنګي خنډونه، چې يوې ښځې ته اجازه نه ورکوي، چې د نارينه ډاکټر له خوا معاينه شي، هغه څه دي، چې ټوليزو روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې، جنسيتي توپيرونه په ګوته

کوي. دغه چارې ته په پام سره، د ښځینه روغتیايي کارکوونکو روزنه او ګومارنه باید د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه کې باید لومړیتوب وګرځول شي، ترڅو په دې برخه کې د نابرابرۍ لړۍ ته د پای ټکی کېښودل شي. همدا راز دې ته هم باید پام وشي، کله چې ښځینه روغتیايي کارکوونکي له کوره بهر کار کوي، نو د ټولنیزو دودونو او رواجونو سرغړونکې ګڼل کېږي؛ په دې توګه هغوی کولی شي، د دوو ګوابښونو واحد هدف وي، یعنې هم د وسله والو او هم د خپلې کورنۍ او ټولنې د ګوابښ هدف شي.

جنسیتي بودجه جوړونه هم کولی شي د حکومت دننه او هم تر هغه بهر پیل او پلې شي. په ټولیزه توګه ماليې وزارت د ښځینه سازمانونو سره په همغږۍ، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې لړۍ رهبري کوي. ماليې وزارت د بودجې نظام د مدیریت او څارنې په برخه کې تر ټولو مخکښه اداره ده؛ لکه څرنګه چې د ملي بودجې د لګښت په تړاو کړنلارې ټول د همدې وزارت له خوا صادرېږي او تصویبېږي. د بودجې په سټنډرده کړنلاره لکه د بودجې په متحدالمال او د بودجې د راپور ورکولو په فورم کې، د جنسیتي اجزاوو ځای پرځای کول، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په بنسټیزه کولو او تخصصي کولو کې ډېره مهمه ونډه لري.

د ښځو ملي سازمان، په دې برخه کې چې جنسیت داسې یوه موضوع ده، چې له ټولو ملي پالیسي جوړونو او پلان جوړونو له بهیرونو څخه تېرېږي، مهمه ونډه ترسره کوي او همدارنګه په جنسیت پورې د اړوندو لومړیتوبونو په تړاو د دولت پر اغېزمنو کړنو څارنه کوي. که څه هم په انفرادي توګه د واک کارول هم مهم دی، خو جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه باید په سازماني کچه او د یو شمېر مهمو لړیو پر بنسټیز کولو باید تمرکز وکړي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې دغه لړۍ باثباته او بادوامه ده. د حکومتي تشکیلاتو له دایرې څخه بهر، د مدني ټولنې سازمانونه، څېړنیزې او اکاډمیکې ادارې او د پارلمان غړي په دې برخه کې هغه مهم شریکان دي، چې کولی شي، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په بهیر کې راښکېل کړای شي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې طرحې کولی شي، د بودجې پر ټوله برخه، یا نویو مالي قوانینو او لګښتونو برخو باندې تمرکز وکړي او یا هم د تجدید وړ عوایدو لکه مالیاتو او د ګټه اخیستونکو پر ورکړو کار وکړي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې یو شمېر طرحې پر سترو اقتصادي خپرونو او د مالي عامه مدیریت د سمونونو پر لړۍ تمرکز کوي، په داسې حال کې چې یو شمېر نورې بیې، له پورته ښکته کړنلارو د بېلګې په ډول په سیمه ییزه کچه د جنسیتي پلان جوړونې پر ابزارو تمرکز لري. په ټولیزه، د جنسیتي بودجه جوړونې نوښتونه او طرحې، پر هغه مشارکتي او هراړخیزې بودجه جوړونې تمرکز کوي، چې د ښځو د غوښتنو په بر کې او د جنسیت په برخه کې شعوري پلان جوړونې ته پاملرنه کوي.

د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تر ۸۰ زیاتې طرحې په لاره اچول شوې دي. پاکستان او هند په سیمه کې د هغو هېوادونو له ډلې څخه دي، چې نژدې لس کاله مخکې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو کار شروع کړی ده. په دواړو هېوادونو کې د ماليې وزارتونو، د دغه لړۍ اصلي او محوري لوبغاړي وو. که څه هم د هر هېواد بېلابېلو شرایطو، اوضاعو او ځانګړې سیاسي وضعیت ته په پام سره، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتوب چارې په هر هېواد کې توپیر کوي او په موخو، لړلید، فعالانو او فعالیتونو کې یې د توپیر لامل ګرځي، [۳۳] ، خو په ټولیزه توګه د دغه خپرونو نوښتونه تر ډېره پر کلیو، مشخصو او دوه اړخیزو ملاتړ شویو موخو، حساب ورکولو او د تغییر د رامنځته کېدو په برخه کې کار کوي. دغه موخې لاندې برخو ته شاملېږي:

- د جنسیتي توپیرونو په اړه د شننو وړاندې کول او بودجه جوړونه او د پالیسیو په طرح کې د جنسیتي اغېزو په اړه د شریکانو د پوهاوي د کچې لوړول؛
- د بودجوي ژمنتیاوو په تړاو، د خپلو جنسیتي ځواب ویونکو لارو چارو د لید او انګېرنو په برخه کې د دولتي ادارو د ځواب ویني پابښت ؛
- د دولتي بودجو او پالیسیو داسې بدلون او تنظیم، چې د جنسیتي برابرۍ د پرمختګ لامل شي.

د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې نړیوال طرحو او نوښتونو تراوسه پورې، په سترو اقتصادي پلانونو، د بودجه جوړونې

۳۳ . دغه درې پړاوه په اصل کې، په شارپ کې تشریح و وټاکل شو، «د عدالت لپاره بودجه جوړونه: د عملي بودجه جوړونې په چوکاټ کې د جنسیتي بودجې نوښتونه» (نیویارک: UNIFEM، ۲۰۰۳ز)، ۱۸.

بهیرونو او همدارنګه د ښځو او نجونو د ځواکمنولو او د جنسیتي نابرابروالو د کمولو په برخه کې[۳۴] مرسته کړې ده. مثبتې ترلاسه شوې پایلې لاندې برخو ته شاملېږي:

- د ټولنیزو معیارونو او دودونو او د جنسیت د ونډې په اړه پوهاوی؛
- د جنسیتي نابرابروالي په اړه معلوماتو ته لاسرسی؛
- د ملي پلان جوړونې او بودجه جوړونې په بهیرونو کې د جنسیت لید ځای پرځای کول، په دولتي ادارو کې د جنسیت د ظرفیت پراختیا او د بودجې د تصمیم نیونې په بهیر کې د ښځینه کسانو د شمېر زیاتول؛
- په سیمه ییزه کچه د مشارکتي او هر اړخیزې پلان جوړونې بهیرونه؛
- د ښځو او نجونو لپاره د سرچینو ځانګړې کول؛
- د شعوري او د شواهدو پر بنسټ او پالیسیو د طرحې له لارې، د عامه خدمتونو وړاندې کول؛
- د عامه خدمتونو په وړاندې کېدو کې د دولتونو حساب ورکول او د روڼتیا زیاتول.

**۳ بسته: په جرمني کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تجربې**

له مالي شرایطو او بېلابېلو جوړښتونو پرته، د جنسیتي ځواب ویونکي بودجه جوړونې نړیوالي تجربې، له ورته ننګونې او پایلو سره مخ دي. د بېلګې په توګه د برلین فدرال دولت، د جنسیتي ځواب ویونکي بودجه جوړونې لومړنی هڅې د مشرانو جرګې د مالي ځانګې په لارښوونې سره پر ۲۰۰۳ ز. کال پیل شوې. دغه لړۍ، د ولسوالی په کچه پر حکومتولی په تمرکز سره له عامه خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې شننې وړاندې کول. د برلین مشرانو جرګې، پر ۲۰۰۳ ز. کال، له هغې سیالی څخه ملاتړ وکړ، چې د ټولنې په کچه د جنسیتي ځواب ویونکي بودجه جوړونې په تړاو سره ترلو پروژو ته جایزې وړاندې کولې. د بېلګې په توګه، دغه پروژې، د روغتیایي لومړنیو خدمتونو له اړخه د نجونو او هلکانو اړتیاوو ته رسېدنه کوله. په دې برخه کې د برلین د سنا مجلس له تجربو څخه ترلاسه شویو درسونو، د جنسیتي ځواب ویونکي بودجه جوړونې په تړاو یو ټولیز انځور وړاندې کړ: سیاسي اراده، د مالي دیپارتمنټ تر مشرۍ لاندې یو ښکاره سازماني جوړښت،

جوړونې په بهیرونو کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د فکتورونو او وسیلو اجباري ځای پرځای کول، زغم او لېوالتیا او له ملموسو پایلو سره ډېرې نورې عملي بېلګې.

## ۲.۲ په افغانستان کې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه: ترسره شوي اقدامات

په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکي بودجه جوړونې لید، د لومړي ځل لپاره د مالیې وزارت له خوا د مالي عامه مدیریت په بودجوي کړنلارو کې وروپېژندل شو. دغه چاره، په تدریج سره د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پرمختیایي صندوق (UNIFEM)، د ښځو لپاره د ملګروملتونو دفتر او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) په مالي مرستې سره، د اجرا وړ وګرځېده. د جرمني د نړیوالو همکاریو اداري (GmbH GIZ)[۳۵] ان د پیل له پړاوونو، په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې له لارو چارو څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. البته په دې برخه کې تر ټولو مهمه موضوع، پر ۲۰۰۸ ز. کال د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو د هغه مهال د مالیې وزیر څرګندونې وې. نوموړي وویل، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه به د جنسیتي برابروالي لپاره مهم تضمین وي. تر دې وروسته، د خپلواکو بودجوي واحدونو د بودجو د ارزولو او څېړلو د واکونو په درلودلو سره، په مالیې وزارت کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ځانګه رامنځته شوه. دغه پرمختیا، د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان (NAPWA ) او په ټولو وزارتونو او خپلواکو ادارو کې د جنډر واحدونو د رامنځته کېدو په تړاو د هغه د سپارښتونو له وړاندې کېدو سره هممهاله وه. وروسې، د جنسیتي بودجه جوړونې ځانګې، د یو شمېر مرستندویانو په مالي مرستې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې یو شمېر ټولګو ته پراختیا ورکړه او په خپلواکو بودجوي واحدونو کې یې د ورپېژندلو په موخه یو

۳۴ . که څه هم د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې یو لړ لارښودونه او کړنلارې پراخې شوې، خو د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د اغېزو ارزونه او تفسیر، د هغه د ماهیت د پیچلتیاوو او د بنسټیزو شواهدو د کموالي له امله له خنډ سره مخ شو. ان له دې سره سره، چې د بودجې د تخصیص په تړاو کوم د پام وړ بدلون هم نه شو ترلاسه، خو بحثونو او یو شمېر وسیلې، د جنسیتي برابروالي په تړاو پروسو د زیاتېدو او پراخېدو لامل شو. د بحث لپاره وګورئ: ای. کومبز «د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې اغېز» (د GSDRC د څېړنو مرکز ۹۷۷ ګڼه راپور، د حکومتولۍ او د ټولنیزې پرمختیاوې د سرچینو مرکز، ۲۰۱۳).

۳۵ . د (GTZ) د جنسیتي پراختیا پروګرام د ۲۰۰۷ ز. کال راپور یادونه کوي، چې د مالیې وزارت، د جنسیتي بودجه جوړونې پر مفاهیمو او پروسو باندې خبر و او د خپلو بودجو د تدوین په برخه کې، له خپلواکو بودجوي واحدونو سره د مرستې په موخه ترې کار واخیست. هغه مرکه شویو کسانو، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په اړه معلومات درلودل، په هغه کنفرانس کې یې ګډون وکړل، چې په دې برخه کې د (GTZ) له خوا جوړ شوی و. تر ۲۰۱۱ ز. کال پورې (GIZ) د (GTZ) یعنې د جرمني د نړیوالو تخنیکي همکاریو اداره په نامه پېژندل کېده.

ورکشاپ جوړ کړ. په همدې برخه کې، پر ۲۰۰۹ ز. کال د شپږو کليدي وزيرانو او د ولسي جرګې د رييس په ګډون، يو ګردې ميز جوړ شو. د دغه ګردې ميز ګډونوالو پرېکړه وکړه، چې په ټولو وزارتونو کې د ښځو د ځواکمنتيا او د جنسيت د ځانګړو پروژو د پليتوب په موخه، بايد يوه ځانګړې جنسيتي بودجه او ۵ ميليوني اضافي بودجه په پام کې ونيول شي. د ماليې وزارت چارواکو وويل، چې دغه بودجه هېڅکله په سمه توګه و نه کارول شوه، له همدې امله په ورپسې کلونو کې کمه شوه او په پای کې د ۲۰۱۴ ز. کال په بهير کې، د اقتصادي رياضت له امله لغوه شوه. نادولتي سازمانونو راپور ورکړ، چې ناڅرګندو غوښتنليکونو د دې لامل شو، چې د دغه بودجې د بسپنې لپاره، غوښتنې ناشونې کړي.

## ۲.۳ لومړنۍ څېړنې: د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه اصلاح

د ماليې وزارت، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام د جنسيتي برابروالي د پروژې په ملاتړ (UNDP GEP)، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د اصلاح او په خپلواکو بودجوي واحدونو کې يې ازماينښتي لړۍ پيل کړه. همدارنګه د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، د ملي پاليسي د تدوين او ترې د څارنې او د پلان جوړونې په برخه کې، د ښځو چارو له وزارت څخه ملاتړ وکړ.

د ماليې وزارت تراوسه پورې په شپږو وزارتونو کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې ازماينښتي لړۍ پيل کړې ده: د پوهنې وزارت، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت، د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت، د عامې روغتيا وزارت او د لوړو زده کړو وزارت. دغه وزارتونه د ښځو د ژوندانه د ښه والي په برخه کې د خپل سکتوري ارزښت له مخې وټاکل شول. دغه لړۍ په راتلونکي کې په نورو وزارتونو کې د پلي کېدو په موخه هم پلان شوې ده. په دې برخه کې د پروګرامونو غوراوي، د ښځو ډېرو عملي اړتياوو ته رسېدنه کوي، چې د هغوی د بېړنيو درک شويو اړتياوو ځواب ويونکي وي، ترڅو د ښځو د هغو ستراتيژيکو ګټو د زياتېدو او پراخېدو لامل شي، چې د اوسنۍ ونډې او د ځواک په غښتلتيا کې د بدلون لامل ګرځي او په ټولنه کې تبعيضي چلند ته رسېدنه کوي.

د ماليې وزارت د بودجې متحدالمالونه (BC۱ او BC۲)، چې جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې معرفي کوي، صادر کړل. BC يا د بودجې متحدالمال، هغه لومړنۍ فورمه ده، چې د ماليې وزارت ټولو خپلواکو دولتي بودجوي واحدونو ته لېږي، ترڅو په لړۍ کې يې، د راتلونکې مالي کال لپاره، د خپل اړتيا وړ بودجه وټاکي. (په لاندې برخه کې ۲ نمبر جدول ته مراجعه وکړئ، چې د بودجې دوران معرفي کوي). په همدې حال کې دغه متحدالمال، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په برخه کې، له ټولو وزارتونو څخه غواړي، ترڅو د راتلونکي مالي کال لپاره، له بودجې څخه د نارينه او ښځينه ګټه اخيستونکو شمېر، د ښځو لپاره د بېلې شوې بودجې سلنه او د جنډر/ ښځو لپاره د وړانديز شويو پروژو لنډ معلومات هم وړاندې کړي. خو په دغه متحدالمال او ضميمه کې، د دې لپاره کوم معيار نه دی ټاکل شوی، چې د بودجې څو سلنه د ښځو لپاره بېله شوې او هغوی ترې ګټه اخلي. لکه څرنګه چې د جنسيتي بودجه جوړونې په ستراتيژيک کاري پلان کې ورته اشاره شوې، ماليې وزارت دغه مسله درک کړې، چې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې او په ټوليزه توګه جنسيتي موضوعاتو په اړه د پوهاوي د کموالي له امله، د وزارتونو له خوا په دې برخه کې وړاندې شوي معلومات، د قناعت وړ نه و. همدارنګه تراوسه پورې هېڅ راز مستند شواهد شتون نه لري، ترڅو وښيي، چې يادو وزارتونو، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پايلو په توګه، د ښځو لپاره د ټولنيزو او اقتصادي ګټو د زياتېدو لپاره کار کړی وي. داسې ښکاري، چې د جنسيتي بودجه جوړونې په تړاو اصلاحات تراوسه پورې داسې پايلې له ځانه سره نه لري، چې وکولی شي، سکتوري او ملي پلان جوړونې لړۍ تر ډېره جنسيتي ځواب ويونکې کړي. که څه هم د ملګروملتونو د پرمختيايي پروګرام د GEP پروژې راپور د دې ښودنه کوي، چې تر ازماينښت لاندې وزارتونو د بودجې په پرېکړه ليک کې د جسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې ادغام، د يو لړ پرمختګونو (له ۲۷٪ سلنې پر ۲۰۱۱ ز. تر ۲۹٪ سلنې پورې پر ۲۰۱۳ز) [۳۲] لامل شوی دی، خو دغه راپور د سلنې په محاسبې سره په دې اړه نور جزييات نه وړاندې کوي.

۳۲ . «د جنسيتي برابروالي پروژه: د پروژې د کلني پرمختګ راپور ۲۰۱۳ز.» (نيويارک: د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام، ۲۰۱۳) ۱.

**۲ جدول: د ملي بودجې دوران**[۳۷]

| د بودجې پروسې | توضیحات |
|---|---|
| د بودجې طرح | د مالیې وزارت د بودجې دستورالعمل (BC۱ و BC۲ نمبر متحدالمالونه) دولتي خپلواکو بودجوي واحدونو ته لیږي.<br>BC۱: د خپلواکو بودجوي واحدونو، د بودجې اړوندو څانګو، له اقتصاد وزارت سره په سلا مشورې او د خپل جوړښتیز چوکاټ او پالیلو پر بنسټ، خپل لومړیتوبونه تنظیم او په ګوته کوي. اقتصاد وزارت، تر څېړلو وروسته، د پروژو ډلبندي شوي لړلیک مالیې وزارت ته سپاري. وړاندیز شوي لومړیتوبونه، د بودجې د کمېټې او مرستندویانو له خوا څېړل کېږي.<br>BC۲: مالیې وزارت BC۲، د بودجوي سقف په ټاکلو او د پروژو د پراختیا چوکاټ او لګښتونو له کړنلارې سره، ټولو خپلواکو بودجوي واحدونو ته لیږي. ولایتي سکتوري ریاستونه، له بودجوي تخصیص څخه برخمن دي، چې مرکزي خپلواک بودجوي واحدونه ورته ټاکي او اټکل کوي.<br>خپلواک بودجوي واحدونه، د وړاندیز شویو برنامو او پروژو په اړه دقیق اټکلونه او جزییات وړاندې کوي. د خپلواکو بودجوي واحدونو استازي، د بودجې د استماعیې په غونډه کې، له خپلو بودجو څخه دفاع کوي. د مالیې وزارت ملي بودجه نهایي کوي او د تایید لپاره یې کابینې ته لیږي. |
| د بودجې تصویب | د مالیې وزارت د لومړیتوبونو او د بودجې سقف په ټاکلو سره، په کابینه کې د بودجې د تاییدېدو لپاره منځمال چوکاټ چمتو کوي. په دې توګه مالیې وزارت BC۲ (۲ متحدالمال) صادروي. کابینه ملي بودجه تاییدوي. تر دې وروسته د ملي بودجې سند پارلمان ته لیږل کېږي. لومړی مشرانو جرګې او بیا ولسي جرګې ته وړاندې کېږي. په ولسي جرګه کې بېلابېل کمېسیونونه ملي بودجه تر بحث لاندې نیسي او په اړه یې خپل سپارښتونه وړاندې کوي. په پای کې د ولسي جرګې د مالي او بودجې کمېسیون، د بودجې سند د ولسي جرګې عمومي غونډې ته وړاندې کوي، ترڅو د ولسي جرګې غړي د تصویب یا رد په اړه یې پرېکړه وکړي. که بودجه تصویب شوه، نو د توشیح لپاره ببرته حکومت ته لیږل کېږي. |
| ۳. د بودجې پلیتوب | د ملي بودجې سند د ولسمشر له خوا تر توشیح وروسته، پلی کېږي. خپلواک بودجوي واحدونه، خپله بودجه ترلاسه او په ولایتونو کې د خپلو واحدونو لپاره د بودجې سقف تعیینوي. په ولایتونو کې بودجه د مالیې وزارت اړوندې څانګې (مستوفیتونو ) له خوا ، اړوندو ادارو ته معرفي او تردې وروسته د پروژو د پلي کېدو کار پیلېږي. عملیاتي بودجه په ربعواره بڼه د اړوندو واحدونو حساب ته لیږدول کېږي او پرمختیایي بودجه د اړتیا پرمهال انتقالېږي. |
| ۴. د بودجې څارنه او تفتیش | مالیې وزارت له خپلواکو بودجوي واحدونو څخه د راپور تر ترلاسه کولو وروسته، د بودجې د پلیتابه له څرنګوالي څخه څارنه پیلوي. د مستوفیتونو او ولایتي واحدونو له خوا راپورونه، د مالیې وزارت او خپلواکو بودجوي واحدونو د څارنې بنسټ جوړوي او په ترتیب سره مالیې وزارت ته وړاندې کېږي. د کال په نیمایي کې د بودجې له تطبیق څخه څارنه او څېړنه، چې د مالیې وزارت له خوا ترسره کېږي، اړوند سپارښتنې وړاندې کوي او د هر مالي کال په پای کې، وروستنې مالي حسابونه چمتو کوي. په همدې حال، د تفتیش عالي اداره، له عامه مالي مدیریت څخه یو تفتیش ترسره کوي، ترڅو څرګند شي، چې ټاکل شوې بودجه او پیسې، د ټاکل شویو موخو لپاره لګول شوې او که څنګه. |

## ۲.۴ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ستراتیژیک کاري پلان

مالیې وزارت، د یو ازمایښتي پروګرام د یوې برخې په توګه، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتابه لپاره، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د GEP پروژې په مرسته، یو ستراتیژیک کاري پلان ته پراختیا ورکړه.[۳۸] د مالیې وزارت د دغه تګلارې په لړ کې، د ښځو او نارینه وو دواړو اړتیاوې، د بودجې د طرح او چمتو کېدو په بهیر کې په پام کې نیولې، ترڅو دغه ډاډ ترلاسه شي، چې ملي بودجه د جنسیتي برابروالي د موخو او ټولنیز عدالت منعکسوونکې ده. دغه تګلاریز کاري پلان په مشخصه توګه پر دوو عمده ټکو ټینګار لري: (۱) ټولو وزارتونو او خپلواکو ادارو ته د مبتکرانه پروګرامونو او مالي ملاتړو وړاندې کول، ترڅو جنسیتي برابروالي ترلاسه شي او (۲) په ټولو وزارتونو کې د جنسیتي برابروالي په موخه، د مالیې وزارت او د بودجې د خپلواک ریاست د کړنو، ظرفیتونو او پلانونو پیاوړتیا. د دغه درې کلنې تګلارې معرفي، کېدای شي په وزارتونو او دولتي ادارو کې، د یو شمېر پروګرامونو او پروسو د پیلېدو لامل شي. دغه پروګرام، ټول هغه پړاوونه فهرست کوي، چې د بودجې د طرح، تصویب او پلیتابه په بهیرونو او ازمایښتي پروګرامونو د پراختیا په لړ کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د شاملېدو په موخه، په ملي او سیمه ییزه کچه ترسره شي. له مرستندویانو سره همغږي، د جنسیت پر بنسټ د بودجې د پریکړو او متحدالمالونو تدوین، د جنسیتي تفکیکي ډیټابیس چمتو کول او په دې اړه څېړنه، چې څرنګه کولی شو، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې ښه والي راولو، له هغو نورو مسایلو څخه چې په دغه پروګرام کې یې وړاندوینه شوې ده.

۳۷ . د افغانستان بودجوي بهیر، د مالي او عامه لګښتونو د ادارې قانون (۲۰۰۵)، د تدارکاتو قانون (۲۰۰۸)، د تفتیش قانون (۲۰۱۳) له خوا تنظمېږي. د افغانستان اصلي بودجه، چې د کورنیو عوایدو او نړیوالو مرستو په وسیله تمویلېږي، عملیاتي او پرمختیایي بودجو ته شاملېږي. ۳ ضمیمه، د بودجې د طرحې او چمتو کېدو لړۍ ښیي.

۳۸ . افغان دولت، «د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ستراتیژیک کاري پلان»: په ملي بودجه کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د لید ادغام « (کابل: د مالیې وزارت، ۲۰۱۵ز).

له دغه پلان سره سم، د مالیې وزارت د همغږۍ یو بین الوزارتي کمیټه جوړوي، ترڅو د جنسیتي بودجه جوړونې پروسې وڅېړي. په ټولو وزارتونو کې د جندر واحدونه به پیاوړي شي، ترڅو وکولی شي، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتابه له بهیر څخه څارنه وکړي او همدا راز مالیې وزارت د وزارتونو د چارو په مدیریت کې به د جنسیتي برابروالي شاخصونه شامل کړي. په همدې حال، مالیې وزارت هڅه کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې د بودجې د تصویبېدو پرمهال، د بودجې کمېټه د هغو پروګرامونو پر تایید ټینګار وکړي، چې د جنسیتي بودجه جوړونې د پلیتوب په برخه کې د یوې کړنلارې په توګه، د ښځو پر پرمختګ تمرکز ولري. په مالیې وزارت او په مرکز او ولایتونو کې په نورو خپلواکو بودجوي واحدونو کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو د فردي او سازماني ظرفیتونو پراختیا، چې د عامه مالي مدیریت د یوې برخې په توګه د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتوب په برخه کې تر ټولو مهم ګامل ګڼل کېږي، په دغه پلان کې له نورو یاد شویو ټکو څخه دي.

د دغه څېړنې د لیکلو پر مهال، مالیې وزارت او د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ستراتیژیک پلان له پلیتوب څخه د ملاتړ په موخه د ور ملي او نړیوالو سلاکارانو د غوراوي او ټاکلو په درشل کې وو. دغه موضوع لا پر خپل ځای پاته ده، چې ولیدل شي، آیا د عامه مالي مدیریت په روانو سمونونو په بهیر کې به د دغه ستراتیژۍ مسوده تر بیاکتنې لاندې ونیول شي او که څنګه او اړوندو ګامونو او پړاوونو د پلیتوب په موخه به کله پلی شي. که څه هم په دې برخه کې د رهبرۍ، همغږیو او تخصص په اړه ننګونې لا پر خپل ځای پاته دي، خو په ټولیزه توګه، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو دغه ستراتیژي د دولت لپاره یو روښانه مسیر ټاکي. په پایله کې، د دغه ستراتیژۍ ښه تطبیق، د سیاسي ملاتړ او ځانګړو کارکوونکو غوښتنه کوي، چې د تطبیق له لړۍ څخه یې څارنه وکړي.

## ۲.۵ د جنسیتي بودجه جوړونې لارښود او معلومات پاڼه

د (EPD) پروژه، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي د پروګرام او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر په استازیتوب، د جنسیتي بودجه جوړونې د ستراتیژیک کاري پلان د بشپړېدو په موخه، یو لارښود او معلوماتې پاڼه جوړه کړه. دواړه د نړیوالو معیارونو پر بنسټ تدوین شوي او په ډېره ښه بڼه د افغانستان د مالي عامه مدیریت په برخه کې د یو لړ تګلارو او شرایطو منعکسوونکي دي. دغه مواد دا تشریح کوي، چې څرنګه د کلنۍ بودجې په پروسه کې، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه په پام کې ونیول شي. دغه توکي، په دې برخه کې یو شمېر بېلګې او چک لیستونه هم وړاندې کوي. همدا راز د (EPD) پروژې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو د مالیې وزارت او ښځو چارو وزارت د چارواکو په ګډون یوه روزنیزه ناسته جوړه کړه، ترڅو هغوی دغه روزنې بیا وروسته تر ازمایښت لاندې وزارتونو کې د کورسونو د جوړولو له لارې او همدارنګه د جنسیتي بودجه جوړونې په برخه کې خپلو استازو ته هم ورسوي. داسې یوه ستراتیژي، چې تر جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې مخکې په جندر پورې له اړوندو مفاهیمو او مسایلو څخه پیلوي، ثابته کړې، چې بیا تکرارېدونکې ده. د مالیې وزارت د معلوماتو له مخې، د هغه روزنیز کورس ګډون کوونکو، چې د (EDP) پروژې له خوا جوړ شوی وو، تراوسه د دې فرصت نه دی موندلی، چې د جنسیتي بودجه جوړونې اجنډا پرمخ یوسي.

# ۳. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتوب فرصتونه

د شته فرصتونو او سرچینو په پام کې نیولو سره، د یوې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې چاره ممکنه ده. هغه فرصتونه، چې د جنسیتي شعوري بودجه جوړونې چارې تسهیلوي، د هغو برابرو او مناسبو شرایطو چوکاټ دی، چې په لاندې ۳ ګڼه جدول کې، تشریح شوی دی. دغه مساعد او برابر شرایط، په درېیو برخو وېشل شوی دی: د اجنډا ملاتړ او تنظم چارې؛ د چوکاټونو له لارې، رسمي تطابق او برابروالي، کړنلارې او قوانین او دوامدار او رښتیني پلیتوب یې.

**۳ جدول: په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تدوین په موخه د مناسبو شرایطو چوکاټ**

| ځانګړې | مساعد شرایط | په افغانستان کې رښتیني فرصتونه |
|---|---|---|
| ملاتړ او د اجنډاوو تنظیم | • د برابروالي لپاره چاپېریال:<br>• , د ښځو د ځواکمنتیا او جنسیتي برابروالي په برخه کې د ژمنتیاوې شتون.<br>• , د سیاسي تغییر او سیاسي فرصت جوړښتونه.<br>• , د جنسیتي برابروالي لېوالتیاوې<br>• د بودجه جوړونې پروسو په تړاو د درک شتوالي.<br>• د ښځو سازمانونو او مدني ټولنې سازمانونو شتون او د هغوی فشار | • د ښځو د ځواکمنتیا او جنسیتي برابروالي په تړاو د ملي یووالي حکومت بیا ټینګار.<br>• ځان بسیاینې ته د رسېدو ستراتیژي او په پروسو کې د اصلاحاتو هوډ (په عامه مالي مدیریت، سیمه ییزه حکومتولۍ او د خلکو پرمختیایي حقوقو په اړه اصلاحات)<br>• د ښځو سازمانونو شتوالي: د ښځو چارو وزارت او په وزارتونو کې د جنډر واحدونه.<br>• په مالیه وزارت او یو شمېر مدني ټولنو او پارلمان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د وړتیاوو شتوالي.<br>• د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په اړه په ترسره شویو ازادو بحثونو کې، د یو زیات شمېر ګډونوالو له خوا له دغې پروسې همغږی ملاتړ. |
| رسمي پاملرنه | • د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې لپاره د ښکاره مفهومي چوکاټ شتوالی<br>• په پروسه کې د یو شمېر مهمو لوبغاړو لکه رسمي چارواکي، سیاستوالو ، د مدني ټولنې سازمانونو ، نړیوالو مرستندویانو (ملګري ملتونو ، نړیوال بانک او نورو مرستندویانو ) ښکېلتیا<br>• د سیاسي ارادې شتوالی<br>• مثبتې سازماني کړنلارې | • د مالیې وزارت د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ستراتیژیک کاري پلان، معلومات پاڼه او روزنیز لارښود او ازمایښتي پروګرام.<br>• د ښځو ، ځوانانو او بېوزلو قشرونو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د ولسمشر ځانګړي پروګرامونه.<br>• ملي کاري پلان: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د **۱۳۲۵** ګڼې پرېکړه لیک پر بنسټ، ملي کاري پلان او د «ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره ملي کاري پلان» (WEEA ) ، د لومړنۍ طرحې تدوین.<br>• د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام څارنیزه ډېټابېس<br>• په مالي عامه مدیریت کې د اصلاحاتو د ترسره کېدو په موخه د نړیوال بانک تخینکي مرستې.<br>• په ولایتي او سیمه ییزه کچه، د حکومتولۍ له ګډو پروسو څخه د مالي تمویلوونکو ملاتړ. |
| اجراآت | • عملي شواهد<br>• سیاسي مشرتابه<br>• د تداوم لپاره ستراتیژي | • د پروژې د ځانګړنو څېړنه (د ولسمشرۍ دفتر د چارو اداري عمومي ریاست )<br>• د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پروسې ازمایښتي پروګرامونو پراختیا او ارزونه او د جنډر ریاستونو رامنځته کول.<br>• د عامه مالي مدیریت او ولایتي بودجه جوړونې د اصلاحاتو په چوکاټ کې، د ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ځای پرځای کولو موقع<br>• د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د کارولو په تړاو د ولسمشرۍ دفتر حکم او لارښوونه<br>• د ملکي خدمتونو او د تحصیلي موسسسو په تعلیمي نصاب کې، اصلاحات او نوي مضامین (د بېلګې په توګه، د عامه مدیریت په برخه کې لیسانس او د جنسیت او په ښځو پورې اړوندو موضوعاتو په برخه کې ماستري). |
| د انجیلا او ، هنګین د مقالې پر بنسټ، «د فمنیستي پالیسۍ د تغییر په توګه، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه: د مطلوبو شرایطو چوکاټ». http://www.vw۳/i/d/wu/fileadmin/wu.ac.at/Session_۲_O_Hagan_Presentation.pdf ( د **۲۰۱۵**ز. کال د جولای پر **۱۵** مه ورته لاسرسی وشو ) | | |

د اصلاحاتو د څو اړخيزو پروسو شتوالي، ملي يووالي حکومت ته د دې زمينه برابروي، ترڅو جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه، په خپلو راتلونکو پاليسيو او پلانونو کې هم په ملي او هم په سيمه ييزه کچه شامل کړي. دغه فرصتونو ته په پام سره، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې لپاره يو شمېر فرصتونه تر سترګو کېږي، چې لاندې برخو ته شاملېږي:

- له نورو ملي پلانونو او پاليسيو سره، د جنسيتي بودجه جوړونې همغږي کول؛
- د ملي بودجې په بهيرونو کې د جنسيت پراختيا؛
- د امنيت شورا د **۱۳۲۵** ګڼې پريکړه ليک پر بنسټ د ملي کاري پلان او همدارنګه د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا کاري پلان لپاره بودجه او فنډ؛
- په ولايتي او سيمه ييزه کچه د جنسيتي ځواب ويونکې پلان جوړونې او بودجه جوړونې پياوړتيا؛
- د مدني ټولنې د سازمانونو او پارلمان ښکېلول؛
- د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې لپاره د نړيوالو ډونرانو د مرستو راجلبول.

## ۱ .۳ له ملي پلانونو او پاليسيو سره د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې همغږي کول

هغه ګامونه، چې تراوسه پورې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په تړاو اخيستل شوي، يوه سطحي برېا ده او د قانون جوړونې په چوکاټ او کچه نه دي منعکس شوي. د قوانينو اوسنی چوکاټ، د هغو وزارتونو او ادارو د جوړښت منعکسوونکي دي، چې هېڅکله پکې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې مسله نه ده ياده شوې او نه هم جنسيتي شنني، د بودجې صورتونه کره کوي. د افغانستان د مالي چارو او عامه لګښتونو د ادارې قانون، د جنسيت او په ښځو پورې اړوندو مسايلو په اړه هېڅ کومه ماده نه لري. البته د دغه قانون د تعديل په موخه لابينګې يا تبليغاتي هڅې کولی شي، د دې لامل شي، چې په ياد قانون کې د جنسيت موضوع او په ځانګړې توګه د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې مسله ورشامل کړای شي.

په دې اړه د يوګندا د عامه مالي چارو وروستي خپور شوی قانون يوه بېلګه ده. د دغه قانون په نوې بڼه کې داسې يوه ماده موجوده ده، چې له ماليې وزارت څخه غواړي، چې د ملي بودجې د سند له وړاندې کېدو سره دې يوځای داسې يو بل رسمي سند هم وړاندې کړي، چې له دې څخه تصديق کوي، چې ملي بودجه، جنسيتي ځواب ويونکې بودجه ده. دغه ماده په صراحت سره: «د داسې لارو چارو پر ترسره کېدو ټينګار کوي، چې د دې لامل شوي، چې له فرصتونو څخه ښځې، نارينه، معلوليت لرونکي کسان او د ټولنې نور بې وسه قشرونه ګټه واخلي او ورته لاسرسی ولري».[39] مدني ټولنې په يوګندا لس کاله د دې لپاره لابينګ او تبليغات وکړ، ترڅو د دغه هېواد په مالي عامه مديريت قانون کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه ځای پرځای شي او پنځه نور کلونه يې په بر کې ونيول، ترڅو جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه په نوي قانون کې په تصويب ورسېده.

په افغانستان کې، د عامه مالي مديريت د لارې دويمې نقشې تدوين، چې د نړيوال بانک له خوا پراختيا مومي او ترسره کېږي، تر ټولو غوره فرصت دی، ترڅو جنسيتي بودجه جوړونه، د دغه هېواد د مالي اصلاحاتو له اوسنيو او راتلونکو بهيرونو سره همغږې شي. دغه اصلاحات، د هغو برخو د مدغمولو او هغوی ته د رسېدنې په موخه ترسره کېږي، چې تر دې مهاله شتون نه لري او يا په عامه مالي مديريت کې د لومړي دور تر اصلاحاتو وروسته نه دي ترسره شوي. د عامه مالي مديريت د لارې نقشه، د نورو مسئلو ترڅنګ، د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې او په ولايتي بودجه جوړونه کې پر اصلاحاتو تمرکز لري او همدارنګه غواړي، د افغانستان په عامه مالي مديريت کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د باثباته کولو لپاره، بنسټيز، تخنيکي او حقوقي شرايط هم وړاندې کړي. جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه د هغو لومړيتوبونو په ډله کې ده، چې بايد د اصلاحاتو په پروسو کې پرې بحث وشي، خو په دې برخه کې ترسره شوي بحثونه ډېر لومړني او سطحي دي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پراخبستو بحثونو پر مهال، ګډونوالو پر جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې، چې د عامه مالي مديريت سمونونو ته هم شامل وي، ټينګار وکړ.

د بودجې د مشخصاتو څېړنه، چې د چارو ادارې د عمومي رياست له نوښتونو څخه دي، د ټولو سکتورونو پر ولايتي او پرمختيايي پروګرامونو کتنه کوي. دغه څېړنه، چې د کلني اقدام په توګه او احتمالا په دې موخه ترسره کېږي، چې ماليې وزارت بايد په راتلونکې کې يې ترسره کړي، په دې لټه کې ده، ترڅو د بودجې د پليتابه، د پرمختيايي بودجې د تخصيص، او په پروګرامونو او

39 . د عامه مالي ادارې قانون: ۲ ګڼه ضميمه «(د يوګاندا رسمي جريده، ۱۱ ګڼه، اتم دور، ۲ مارچ ۲۰۱۵، د يوګاندا دولت).

فرعي پروګرامونو کې يې د ترسره کېدو په تړاو معلومات راټول کړي. دغه څېړنه همدا راز دغه فرصت چمتو کوي، ترڅو د پلان جوړونې، تفتيش او سنجونې د موخو لپاره، د جنسيت تفکيکي ډيټابيس د جوړېدو لپاره لاره هواره کړي.

## د ملي بودجې په کړنلارو کې د جنسيت پراختيا

افغانستان د **پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې** له میتود څخه کار اخلي. دغه لړۍ د يو ازمايښتي پروسې په بڼه پيل شوې او له هغه مهاله تراوسه پورې، ټولو واحدونو ته معرفي شوې. په عامه مالي مديريت کې د اصلاحاتو لومړي پړاو، چې پر ۲۰۱۰ کال ترسره شول، دې ته اشاره لري، چې د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه کولی شي په ساده شوې بڼه په ۲۰۱۱ ز. کال کې په بشپړه توګه اجرا شي، خو بيا هم دغه لړۍ په تدريجي توګه ترسره شوه. د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه، له دولتي اهدافو سره ډېرې نژدې بودجه جوړونې او پلان جوړونې لړۍ سره ملګرې ده؛ لکه څرنګه چې د بودجې پلان، د پروګرامونو او فرعي پروګرامونو او پلان شويو پروژو د پليتوب په موخه، د اړتيا وړ لګښتونه او بودجه تحليل او تجزيه کوي. د موخو د ترلاسه کېدو لپاره د حساب ورکولو په موخه، د بودجو له پليتوب سره په ټکر واقع دی.

د **پايلو لپاره د پلان جوړونې** له ليده، د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه، په ګوته شويو اهدافو او شاخصونو ته په پام سره د پروګرام د پلان جوړونې ليد ته اړتيا لري. په ماليې او اقتصاد وزارتونو کې، مرکه شويو کسانو څرګند کړل، چې د خپلواکو بودجوي واحدونو، د پلان جوړونې او بودجه جوړونې ځانګې، لا هم د هغو پروګرامونو د پراختيا او ارزښت ګذارۍ په برخه کې له ستونزو سره مخ دي، چې له لومړيتوبونو او معيارونو سره همغږي او برابر دي. له همدې امله دغه چاره، د اړتيا وړ بودجو په اړه د معلوماتو د وړاندې کېدو چارې ننګوي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې وسيلې لکه د جنسيتي توپيرونو او د جنسيتي اغيزو تحليل کولی شي، په خپلواکو بودجوي واحدونو او ولايتونو کې د پايلو لپاره د پلان جوړونې او په ټوله د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې په پروسه کې ښه والي رامنځته کړي. جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه بايد د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه په کړنلارو او روزنيزو ماډيولونو کې ځای پر ځای شي.

د **بېوزلي لپاره بودجه جوړونه**، په افغانستان کې د بودجه جوړونې يو بل اړخ دی. په دغه برخه کې، له بېوزلي سره د مبارزې په تړاو د خپلواکو بودجوي واحدونو، لګښتونه تعقيب او په اړه يې راپور برابرېږي. په دغه ځانګه کې، پر هغو پالسيو او هغو پروګرامونو تمرکز کېږي، چې د بېوزلي د کچې په راټيټېدو کې مرسته کوي. د بېوزلي لپاره د بودجه جوړونې لومړنی ښېلګه او ننبه پر ۲۰۰۸ ز. کال څرګنده شوه. له هغه ځايه، چې اقتصاد وزارت په هېواد کې د بېوزلي د ارزونې او له بېوزلي سره د مبارزې په برخه کې کار کوي، نو دغه وزارت د سل ورځنې پلان په توګه، د هېواد په لر او بر کې د بېوزلي په اړه يوه ارزونه ترسره کړه.[40] دغه ارزونې د هغه کاري ځواک په تړاو تحليلونو ته شاملېږي، چې له مزد پرته کار او مراقبتي اقتصاد ته پاملرنه کوي. د جنسيت مسئلې سربېره، نورې نابرابروالي لکه د عمر، د ځمکې د مالکيت او د اوسېدو ځای (ښار/کلی) هغه نور مهم موارد دی، چې بايد وڅېړل شي.

د بېوزلي لپاره بودجه جوړونه له جنسيتي بودجه جوړونې سره ډېر توپير لري؛ ځکه د لومړي ډول تحليلونه پر کورنۍ يوازې د فرد په توګه تمرکز لري؛ په داسې حال کې دويم ډول بودجه جوړونه دا هدفمند ګرځوي، ترڅو د کورنۍ په دننه د جنسيت ونډه او د واک جوړښتونه او له وخت څخه پر ګټه اخيستنې، سرچينو او د تصميم نيونې لړيو ته پر لاسرسي يې اغيزې وڅېړي. دواړه کړنلارې بايد په يو وخت د ګټې اخيستنې وړ او عملي شي.

## د ملي کاري پلان ( NAP ۱۳۲۵ ) او د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا پلان (WEEA) لپاره بودجه

په جګړه ځپلو هېوادونو کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه په دې وروستيو کې يوه خپره شوې څېړنه ښيي، چې د ځانګړې جنسيتي بودجې په ځانګړې توګه د لومړنيو ټولنيزو خدمتونو په برخو کې نشتوالي، ممکن په مهمو دولتي سکتورونو لکه د سولې او امنيت او اقتصادي ځانګو کې د جنسيتي نابرابروالي لامل شي.[41] دغه ګواښ او خطر بايد په افغانستان کې په پام کې ونيول شي. لکه څرنګه د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د ازمايښتي سکتورونو په تړاو په ازادو بحثونو کې هم وړانديز وشو، چې د کورنيو چارو وزارت هم بايد په دې برخه کې تر ازموينې لاندې ادارو په ډله کې شامل کړای شي. سربېره پر دې، د مرستندويانو استازو دې ته ليوالتيا لرله، چې جنسيتي ځواب بودجه جوړونه څرنګه کولی شي، د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق پروګرام په اغېزمنولو سره، د ښځو له امنيت او خونديتوب سره مرسته وکړي. البته د ملي پلانونو له جملې څخه دوه

۴۰ . افغان دولت ، «سل ورځنی پلان « (کابل: ماليې وزارت، ۲۰۱۵).

۴۱ . آر. هولمز، آر. اسلاتر، ای. هکر او بيريزويس کاجا ، «په جګړه ځپلو هېوادونو کې جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه: يوه څېړنه»، (کاري څېړنه ۱۷، د له هېواده بهر د پرمختيا انستيتوت، د خوندي معيشت د څېړنو کنسرسيوم، لندن، ۲۰۱۴).

يې، د امنيت شورا د ۱۳۲۵ ګڼې پريکړه ليک پر بنسټ، ملي کاري پلان (NAP ۱۳۲۵ ) او د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا کاري پلان (WEEA)، په امنيتي او اقتصادي سکتورونو کې د جنسيتي ځانګړې بودجه جوړونې ارزښت پاملرنه کوي.

## د NAP ۱۳۲۵ ملي کاري پلان: ښځې، سوله او امنيت

د امنيت شورا د ۱۳۲۵ ګڼې پريکړه ليک پر بنسټ ملي کاري پلان د ۲۰۱۵ ز. په نيمايي کې په لاره واچول شو. دغه پلان او همدارنګه د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا پورې راتلونکې اړوند پلان (د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا کاري پلان)، دواړه د پليتوب او ترسره کېدو لپاره مناسبې بودجې او مالي سرچينې ته اړتيا لري. په دغه پلان کې، د کافي مالي سرچينو نشتوالي ته اشاره شوې ده. د دغه پلان اړوند او د پريکړې کميټه، د ملي او نړيوالو مالي سرچينو سربېره، په دې برخه کې د ملي بودجې په چوکاټ کې د تخصيص د زياتېدو غوښتونکې شوې دی. د يوې ترکيبي بودجې له لارې (الف) د دولتي مالي سکتوري پلانونو ب) له ملي بودجې څخه بهر مالي سرچينې او مرستې، چې د مرستندويانو له خوا چمتو کېږي، د دغه پلان تطبيق او پليتابه له يوې خوا له دولت سره مرسته کوي، ترڅو د دغه پلان لپاره د رسمي دولتي بودجې د بهلولو له لارې په دې برخه کې خپل جديت وښيي، او له بلې لخوا دغه چاره به مرستندويان پر دې قادر کړي، ترڅو لنډمهال پلانونه طرح، تطبيق کړي، چې دغه لړۍ په خپل وار سره کولی شي، دولت دې ته چمتو کړي، چې د تصميم نيونې په پروسو کې په ځانګړې توګه امنيتي برخه کې د ښځو اغېزمنتيا ته پاملرنه وکړي. په دې برخه کې تر ټولو جوته خبره، د سولې په لوړه کچه خبرو کې د ښځو د برخه اخيستنې موضوع ده.

## WEEA: د ښځو اقتصادي ځواکمنتيا

جنسيتي برابروالي يوازې د پرمختيايي موخې په توګه، مهمه نه ده، بلکې دغه چاره، د کار بازار ته د ښځو د لاسرسي د پياوړتيا په موخه يوه وسيله هم ده. څېړنې ښيي، چې يوازې هدف، په اقتصادي، حکومتولۍ او سياسي پروسو کې د ښځو برخه اخيستنه نه ده، بلکې تر ټولو مهمه موخه د ښې اقتصادي حکومتولۍ او ټولنيزې هوساينې رامنځته کول دي. سربېره پر دې، لکه څرنګه يو شمېر اقتصادي څېړنو ثابتې کړې، جنسيتي برابروالي، په ځانګړې توګه د زده کړې او د کار بازار په تړاو، د اقتصادي ودې او د بېوزلۍ کچې د راټيټېدو په برخه کې هم ګټور واقع کېږي.[۴۲]

د ښځو اقتصادي ځواکمنتيا او د بېوزلۍ د کچې راټيټول، د ملي يووالي حکومت د لومړيتوبونو په اجنډا کې قرار لري. د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت او د ښځو چارو وزارت د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا پلان لومړۍ طرح چمتو کړې، چې پر څلورو بنسټونو بنسټيزه شوې ده:

- د ښځو لپاره حقوقي چوکاټ، سياسي او مسلکي چاپېريال؛
- د ښځو لپاره د دندې او کار مناسب چاپېريال؛
- په بازارونو او خصوصي سکتور کې د ښځو مناسبه برخه اخيستنه؛
- په ټولنو او مدني سازمانونو کې د ښځو مناسبه برخه اخيستنه.

دغه پلان يادونه کوي، چې په خپلواکو بودجوي واحدونو کې له جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې څخه ګټه اخيستل، ممکن يو مرستندوی فعاليت وي، خو په ورته وخت کې، په دې برخه کې يوازې د بودجې بېلول او تخصيص ورکول بسنه نه کوي، بلکې د دغو پيسو او بودجو او لګښتونو په مټ ترلاسه شوي اغېزې هم په هماغه کچه ارزښتناک دی. دغه پلان، د هڅو د شريکولو په موخه، د کار، ټولنيزو، شهيدانو او معلولينو چارو له وزارت او د ښځو چارو له وزارت سره، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې تر ازمايښتي پروګرام لاندې وزارتونو د همغږۍ غوښتنه کوي. همدارنګه د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د کمېټې جوړول، د بېلګې په توګه کولی شي، د ښځو د اقتصادي ځواکمنتيا په تړاو د مستقيمې او نامستقيمې بودجې د لګښت په اړه د پروخت معلوماتو د برابرولو او د تحليل په برخه کې بې مرسته وکړي.

۴۲ . نړيوال بانک، «د نړيوالې پرمختيا راپور ۲۰۱۲ز: جنسيتي برابروالي او پرمختيا» (واشنګټن، ډي. سي: نړيوال بانک ۲۰۱۲ ز).

## ۳.۲ په ولایتي او سیمه ییزه کچه د مشارکتي پروګرام د پلان جوړونې او بودجه جوړونې پیاوړتیا

د سیمییزي حکومتولۍ ښه والي او پرمختیا، د ملي یووالي حکومت له مهمو اهدافو څخه دی. په ولایتي یا سیمه ییزه کچه د پالیسي جوړونې څېړنه، د نورو مسلو ترڅنګ، د «د بودجه جوړونې او پلان جوړونې ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا په مانا ده؛ یعنې دا چې، په ټولو ولایتونو کې د خپلې پرمختیایي چارو په برخه کې، کره او عمده ونډه لري».[۴۳]

سیمه ییزې پروسې، لکه ولایتي بودجه جوړونه، له ښکتني پورته ته مشارکتي پلان جوړونه او د ټولنې پر بنسټ څارنه، په دې برخه کې له مهمو اغېزلرونکو فکتورونو څخه ګڼل کېږي. جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه، تر ډېره په ټاکل شویو سکتورونو کې د جنسیتي پوهاوي ورکولو په پلان جوړونې سره پیلېږي. د ځانګړې نامناسبه جنسیتي وضعیت جنسیتي شننه، د اړتیاوو او لومړیتوبونو پر بنسټ، د خدمتونو د وړاندې کېدو او پراختیا لړۍ د چمتو کولو په موخه، د ښځو او نارینه وو اړتیاوو او ځواکمنتیاوو ته پاملرنه کوي.

د ولایتي بودجه جوړونې موخه دا ده، چې ولایتي چارواکي وکولی شي، چې په خپلو اړوندو ساحو او د خپل واک په چوکاټ کې، بودجوي پروسې پلان ګذاري، تدوین، پلي اوترې څارنه وکړي. په سیمه ییزه او ولایتي کچه د بودجه جوړونې د پالیسۍ پلیتوب، د پرځان بسیاینې لپاره د حساب ورکولو د متقابل چوکاټ (SMAF) د اصلاحاتي اجنډاوو له مهمو موخو څخه دي. د بودجې په تړاو پرېکړې تراوسه پورې په مرکز کې ترسره کېږي. لکه څرنګه چې مرکزي خپلواک بودجوي واحدونه، د خپلو ولایتي واحدونو لپاره د بودجې سقف او تخصیص ټاکي. په ټولیزه توګه، خپلواک بودجې واحدونه، په ولایتونو کې د خپل هر واحد لپاره، ځانګړې بودجوي سقف لري. په همدې حال، ولایتي واحدونه، د پروګرامونو د ډلبندۍ او بودجه جوړونې په برخه کې ډېره لږه اغیزه لري. دغه چاره، هغوی په یو ستونزمن حالت کې راولي، ترڅو وکولی شي، سیمه ییزو اړتیاوو او د لومړیتوبونو پرمختیاوو ته ځواب ویونکې وي.

د دغه څېړنې د چمتو کېدو پرمهال، په دې برخه کې دوې کړنلارې د تسوید په درشل کې وو: په ولایتي کچه د بودجه جوړونې کړنلاره، چې د مالیې وزارت له خوا چمتو شوې وه او د ولایتي ستراتیژیکي پلان جوړونې کړنلاره، چې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې له خوا تر کار لاندې نیول شوې وه. دواړه کړنلارې، د ولایتي فعالانو لپاره، چې د سیمه ییزې پلان جوړونې، بودجه جوړونې او څارنې په بهیر کې شامل دي، یو لړ تګلارې وړاندې کړي. دغه ولایتي فعالان عبارت دي له: د مالیې وزارت ولایتي واحدونه (مستوفیتونه)، خپلواکه فرعي بودجوي واحدونه (ولایتي ریاستونه)، والیان او ولسوالان، پرمختیایي شوراګانې، ولایتي شوراګانې، د ټولنې مشران، سیمه ییز استازي او د مدني ټولنې فعالان.

د مالیې وزارت **د ولایتي بودجه جوړونې د پالیسۍ** طرح چمتو کړې ده. په دغه طرح کې، له فساد او بیوزلۍ سره د مبارزې په برخه کې د اقداماتو ترڅنګ، جنسیتي برابروالي د یوې ټولیزې او هراړخیزې موضوع په توګه یاده شوې، ترڅو ولایتي ادارې، د خپلو بودجو په وړاندیزونو کې یې باید په پام کې ونیسي. که څه هم مقررې کړنلارې په دې برخه کې د هغوی د اجرااتو په موخه، تفصیلي تشریحات نه لري. دغه پلان، په سیمه ییزه کچه د بودجه جوړونې او پلان جوړونې په برخه کې یوازې د ښځو د یوې ادارې ګډون ته اشاره لري، چې هغه د ولایتي عامه مالي مدیریت په کمېسیون کې د ښځو چارو ریاست غړیتوب دی.

د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې، د **ولایتي ستراتیژیکي پلان جوړونې** مفاهیمو ته پراختیا ورکړه. دغه چاره هر ولایت پر دې قادروي، ترڅو د امنیت، حکومتولۍ، ټولنیزو – اقتصادي پرمختیاوو په برخو کې د مرکزي کچې په شان، پلانونه او تګلارې جوړې کړي. د دغو مفاهیمو پر بنسټ، په ولایتونو کې د ستراتیژیکي پلان جوړونې چارې، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په تخنیکي مرستې سره، به د هر ولایت د والي له خوا رهبري شي. په سیمه ییزه کچه د ستراتیژیکي پلان جوړونې په تدوین سره مشارکتي او هر اړخیزه پلان جوړونه هم به د دغو مفاهیمو یوه برخه وي. په دغو مفاهیمو کې که څه د جنسیت د پراختیا خبره شوې، خو د پلان جوړونې په لړ کې یې د پلیتوب څرنګوالي ته یې اشاره نه ده شوې. نو په دې برخه کې باید پالیسي ډېره روښانه وي. لکه څرنګه چې دغه پلان وړاندیز کوي، د ښځو چارو ولایتي ریاست نه یوازې د حکومتولۍ په برخه سلامشورو کې، بلکې د هرې موضوعي سلامشورې په جریان کې باید حضور ولري. مرستندویان ( د بېلګې په توګه GIZ )، د دغه پلان جوړونې د لومړي دور د کارونې په برخه کې، باید پر هغو پراخو کړنلارو ټینګار وکړي، چې پرې ډاډ حاصلېږي، چې په دغه ستراتیژیکه پلان جوړونه کې د ښځو اړتیاوې او لومړیتوبونه منعکس کېږي.

---

۴۳ . «د ځان بسیاینې چوکاټ» ۱۲.

نامتمرکزه بودجه، لکه څرنګه چې په ولایتي بودجه جوړونه او د ستراتیژیکې پلان جوړونې په پالیسیو کې په ګوته شوې، هم د بودجې د تدوین او هم پر پایلو د څارنې په برخه کې د ولسي سلامشورو پر اخیستلو ټینګار کوي. د سیمه ییز ګډون له لومړیتوب او پلان جوړونې څخه ګټه اخیستنه په دې معنا ده، چې ښځې او نارینه دواړه کولی شي، خپلې ورځنۍ اړتیاوې په ګوته او د ښه کېدو په برخه کې یې رښتینۍ حل لارې وړاندې کړي. پر دې سربېره، سیمه ییز رسمي چارواکي، د مرکزي چارواکو په پرتله د سیمې پر وضعیت او ستونزو ښه خبر وي او په دې برخه کې تر هغوی لازیات معلومات له ځانه سره لري. له متمرکزې پروسې څخه نامتمرکزې پروسې د بودجه جوړونې د لړۍ بدلون، چې د سیمه ییزو ادارو د زیاتې برخه اخیستنې ښودونکې دي، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د مدغمولو لپاره هم یو ښه فرصت او چانس ګڼل کېږي، خو دغه چاره باید له رسمي پالیسیو، کړنلارو او څارنو سره یوځای ترسره شي.

مرکه شویو کسانو څرګنده کړل، چې د جنسیت او وسیلو په اړه یې همدا راز د مشارکتي او په جنسیت پورې حساسې پلان جوړونې د شننې په اړه پوره معلومات شتون نه لري. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو پالیسي جوړونې او پوهاوي تراوسه پورې یوازې د مرکز په کچه متمرکزه ده او په ولایتي کچه د جنسیتي بودجه جوړونې لړۍ اوس نوی پیل شوې ده. البته باید ووایو، چې له هیلو ډکه یوه کړنلاره، کېدای شي، په ولایتي ریاستونو کې په دې برخه کې د تخنیکي او سازماني ظرفیتونو د لوړوالي لامل شي، ترڅو دغه ریاستونه وکولی شي، له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې په چوکاټ کې، د ښځو او نارینه وو اړتیاوو ته د رسېدنې او په سیمه ییزه کچه د بودجه جوړونې په بهیر کې د هغوی د پرمختیایي لومړیتوبونو د مدغمولو په موخه، د یوې وسیلې په توګه کار واخلي.

د مرستندویانو ځانګړي پروګرامونه، لکه د (GIZ) د سیمه ییز ظرفیت جوړونې پروګرام، چې له سیمه ییزو ټولنو او حکومتي جوړښتونو سره نژدې اړیکې لري کولی شي، د سیمه ییز ګډون او جنسیتي ځواب ویونکې پلان جوړونې په برخه کې د سیمه ییز حکومت او مدني ټولنې د سازمانونو له موجود ظرفیت څخه په ملاتړ سره، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پراختیا او ترویج لامل شي. البته په دې برخه کې کولی شو، د هغو ټولنو لپاره، چې له وړاندې د جنسیتي برابروالي لپاره پلان جوړونه کړې، په بودجه کې یوه اضافي تشویقي بودجه هم په پام کې ونیسو. په ټولیزه توګه، په سیمه ییزه کچه مشورتي پلان جوړونه او د تفتیش لړۍ، چې ښځو او له مدني ټولنې څخه د جنډر ملاتړو ته هم شامل وي، د دغه ډاډ د ترلاسه کېدو لامل ګرځي، د جنسیتي برابروالي پروګرامونه له کاغذه په عمل کې پلی کېږي.

یو شمېر مرکه شویو کسانو په دې برخه کې خپلې اندېښنې هم څرګندې کړې. د هغوی په باور، کله چې سیمه ییز مشران او ولایتي چارواکي د سیمه ییزې پلان جوړونې او بودجه جوړونې په برخه کې مسوول وي، نو نامتمرکزه سیستم کېدای شي، د ښځو او په ښځو پورې اړوندو موضوعاتو لکه جنسیتي برابروالي لپاره د کمې بودجې د بېلېدو لامل شي. هغوی څرګندوي، چې سیمه ییز فعالان او چارواکي تر ډېره انحصار او خپلو شخصي ګټو ته تمایل لري. په زیات احتمال، هغوی نه غواړي، چې د تصمیم نیونې په بهیرونو کې د ښځو ګټې او لیدلوري شامل کړای شي. که څه هم ښځې د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو غړې وي، خو دغه چاره د دې لپاره تضمین نه شي برابرولی، چې د دوی ګټې او غوښتنې د سیمه ییزو چارواکو له خوا په پام کې نیول کېږي.

البته بېلابېلې کړنلارې کولی شي د دې لامل شي، چې د ښځو اړتیاوې او لومړیتوبونه واورېدل شي او په پام کې ونیول شي: د ښځینه استازو تنظیمول او د سیمه ییزې پلان جوړونې په جوړښت او تصمیم نیونو موقعیتونو کې د ښځو د شمېر زیاتول. دغه چاره د دې لامل ګرځي، ترڅو هغوی خپلو ګټو او لومړیتوبونو ته اهمیت ورکړي. په یو شمېر سیمو کې دا ډېره ستونزمنه ده، چې یوه ښځه دې، له یو چا سره ګډ لیده کاته ولري؛ یعنې ښځې یوازې په پرمختیایي شوراګانو حضور پیدا کولی شي او بس. پر دې سربېره، مقررې او انګیزې ممکن د جنسیتي ځواب ویونکې پلان جوړونې لامل شي. مقررې په جدي توګه د دې غوښتنه کوي، چې پلانونه باید په ښکاره د ښځو ګټو ته شامل وي، ترڅو ومنل شي، له دې پرته به رد شي. په دې برخه کې بله احتمالي انګیزه، د بودجوي تصمیم نیونې په بهیر کې، د جنسیتي شوي پلانونو لپاره د زیات امتیاز منل دی. همدارنګه هغه ټولنې، چې د جنسیتي برابروالي لپاره پلان ګذاري کوي، باید اضافي بودجه ورکړل شي.

له بده مرغه،خو بیاهم دغه ټولې ممکنې کړنلارې به بیا هم نمایشي او سمبولیکې وي. یعنې که د خلکو، مدني ټولنې سازمانونو او دولتي چارواکو له خوا پرې سمه څارنه و نه شي، نو ممکن د نورو د پرې ایستلو لپاره یو ځواک وي. د بېلګې په توګه ویل شوی، چې یوه ودانۍ چې په ار کې د نجونو د لیلیې لپاره پلان شوې وه، د سیمه ییزو چارواکو له خوا نیول شوی او ترې د دفتر په توګه استفاده کېږي. په همدې حال، اوسمهال تری پوره څارنه نه ترسره کېږي، ځکه هېڅ راز سرغړونه، له کومې پایلې او تبیهي عمل سره مخه نه ده. احتمالي پایلې ښایي یو لړ تنبیهي اقدامات لکه جریمه، انظباطي اقدام او یا له دندې څخه ګوښه کېدل په بر کې ونیسي.

**۴ بسته: د ښاروالیو په بودجو کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې څخه کار اخيستل**

ښاروالۍ په افغانستان کې يوازينۍ اداری دی، چې کولی شي خپل ترلاسه کړي عوايد، بېرته په خپله مصرف کړي. په دغو ادارو کې مرکه شويو کسانو وړانديز وکړ، چې بايد داسې لارې چارې ترلاس لاندې ونيول شي، چې څرنګه کولی شو، د ښاروالیو د بودجې په دوران کې، جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه هم په پام کې ونيسو. د بېلګې په توګه، په ترکيه کې د ښاروالیو د بودجې په دوران کې، جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه تجربه شوې ده. البته په ښاروالیو کې د بودجې د پلان له مرحلې بيا تر پلي کېدو پورې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې لړۍ به ډېره ساده او اسانه وي. ځکه دلته د اړتياوو بيان ډېرې مشخصې او څرګندې دي؛ ځکه پلان جوړوونکي چارواکي هر څه په خپلو سترګوويني او له هغه سره سم ګام اخلي.

## ۳.۳ د مدني ټولنې او پارلمان برخه اخيستنه

د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په نوښتونو کې د مدني ټولنې، رسنيو او پارلمان ستراتيژيکه او زياته برخه اخيستنه ډېره حياتي او ارزښتناکه ده. د پارلمان يو شمېر غړو ځو کاله مخکې، د ښځو لپاره د يو وجهي صندوق د جوړولو او د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په تړاو يو لړ بحثونه په لاره اچولي وو. يو شمېر نادولتي سازمانونه (NGOs) لکه د سولې او دموکراسۍ لپاره د برابرۍ سازمان (EPD) او همدارنګه د روڼتيا څار سازمان د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې او ملي بودجې په تړاو څېړنه کړې او په دې برخه له ښو تجربو څخه برخمن دي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په تړاو د ازادو بحثونو د ترسره کېدو په بهير کې، له مدني ټولنو او دولتي ادارو څخه يو شمېر ګډونوالو پر دې ټينګار وکړ، چې د مدني ټولنې سازمانونه د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د بهير د پرمخ بيولو په برخه کې مهمه ونډه ادا کولی شي. پر دې سربېره، د ملي يووالي حکومت اصلاحاتي اجنډا هم، د حکومت او مدني ټولنو د سازمانونو ترمنځ د ښو اړيکو پر جوړولو ټينګار لري او په دې برخه کې يې، د وګړو د منشور پراختيا او د دولت او مدني ټولنو ترمنځ د درک او پوهاوي منشور يې خپور کړ.

په دې برخه کې د مدني ټولنې برخه اخيستنه مرسته کوي، چې د خلکو اړتياوې په ښه توګه تحليل او په ګوته شي، لومړيتوبونه پراختيا ومومي، د بودجې د طرحې او تطبيق پر بهير څارنه وشي او پر دولت د رسنيو فشار زيات شي، ترڅو د خپلو ژمنو د ترسره کېدو او عامه خدمتونو د وړاندې کېدو په برخه کې ځواب ويونکی وي. همدارنګه په ښځو پورې اړوند سازمانونه او همدارنګه د جنسيت د ترويج مدافعې او د بشر حقوقو ادارې په دې برخه کې هغه اصلي او کليدي لوبغاړي دي، چې کولی شي، د جنسيتي برابروالي په تړاو د خپلو ژمنو، پاليسيو او کړنو په اړه دولت او نړيوالې ټولنې ونو ښتي او تر محاسبې لاندې يې راولي. دغه سازمانونه، چې له دولت، نړيوالې ټولنې او نورو شريکانو سره، د جنسيتي برابروالي په تړاو د هغوی د تګلارو، پروګرام او مالي ژمنتياوو په تړاو، له هغوی سره حساب وکړي، مهم لوبغاړي او فعالان ګڼل کېږي. دوی په بالقوه توګه له دغه ځواک څخه برخمن دي، چې پر دولت او سياستوالو فشار راوړي، چې په عمل کې د جنسيتي برابرولي لپاره، مالي امکانات بېل کړي. د منتقدو سازمانونو او لوريو په رول، د مدني ټولنې سازمانونه کولی شي، د بودجې د ټاکلو او پلان جوړونه او د لومړيتوب لرونکو ځانګو په برخه کې د لګښتونو د بدلون په برخه کې، د ټولنو په ګډون سره، د سيمه ييزې پلان جوړونې له بهير څخه ملاتړ وکړي. هغوی د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پېژندنې او کيفيت د زياتېدو لامل ګرځي او د ساتونکې په توګه عمل کوي.

د مدني ټولنې سازمانونه په عمل کې کولی شي، چې د بودجې په تړاو د حساب ورکولو لړۍ او څارنيزو وسايلو ته پراختيا ورکړي. البته دغه چاره په خپل وار، د تفتيش لپاره د شواهدو د چمتو کېدو لامل ګرځي. د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره مخکنې شرط، د هغوی ظرفيتونه (لکه د جنسيتي او مالي موضوعاتو، پرمختيايي پلان جوړونې، معلوماتو ته لاسرسي او په سيمه ييزه، ولايتي او مرکزي کچه له چارواکو سره د اړيکو د جوړولو په برخه کې د هغوی تخصص او وړتيا) ده، ترڅو د بودجې د پلان جوړونې، څارنې او تفتيش په بهيرونو کې ګډون وکړي. د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره دا ډېر مهم دی، ترڅو پوه شي، عامه مالي مديريت څرنګه کار کوي او د بودجې پر دوران کوم ميکانيزمونه زياتې اغيزې لري.

د افغانستان د روڼتيا څار سازمان پر **۲۰۱۵**ز. کال د يو پاليسي لنډيز په خپراوي سره، استدلال وکړ، چې د ولايتي بودجه جوړونې پاليسي بايد «د پلان جوړونې، بودجه جوړونې او څارنې او روڼتيا په برخه کې د خلکو د منصفانه برخه اخيستنې» په موخه د تاييد وړ وګرځي «[۴۴]. دغه راپور يادونه کوي، چې د مدني ټولنې سازمانونه، اوسمهال يوازې په ماليې وزارت کې د بودجې په مشورتي او د بودجې د مسودې په اړه د نظر څرګندولو په ناسته کې ګډون کولی شي. په همدې حال، د نظر څرګندول په دې معنا نه ده، چې دغه سپارښتونو ته پاملرنه کېږي. د روڼتيا څار سازمان، ماليې وزارت ته وړانديز کوي، چې د بودجې په تړاو بايد مهم اسناد د خلکو د لاسرسي وړ وګرځوي او د بودجې په پروسه کې د عامه پوهاوي او د خلکو د برخه اخيستنې ستراتيژۍ ته پراختيا ورکړي؛ دغه د پاليسۍ لنډيز همدارنګه يادونه کوي، د تفتيش عالي اداره بايد د خلکو د نظريو (فيډبک) سيستم جوړ کړي، ترڅو د ناوړو ګټه اخيستنو په تړاو له خلکو څخه راپورونه ترلاسه او ورته رسېدنه وشي.[۴۵]

---

۴۴ . س. پوپل، «په افغانستان کې ځواب ويونکې، شفافې او مشارکتي بودجه جوړونه» (کابل: د افغانستان د روڼتيا څار سازمان، **۲۰۱۵**)، ۱.

۴۵ . س. پوپل، «په افغانستان کې ځواب ويونکې، شفافې او مشارکتي بودجه جوړونه» ۳.

د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په پروسه کې د پارلمان برخه اخیستنه د دوو دلیلونو له مخې ارزښتناک دی: لومړی، ملي شورا د کلنۍ بودجې تصویبوونکې او په قانون بدلونکې مرجع ده. دویم دا چې دغه ارګان، د تصمیم نیونې په ټولیزو کړیو کې ونډه لري او کولی شي، د ښځو د ارزښت او موقعیت په تړاو عامه احساس او پوهاوي ته جهت ورکړي. د بېلګې په توګه مرکه شویو کسانو ادعا وکړه، که په پارلمان کې د اقتصادي ریاضت په تړاو غوښتنې مطرح کېږي، نو پارلمان په لومړي سره، په ښځو پورې د تړلو موضوعاتو لپاره، بېله شوې بودجه ځنډوي. د پارلمان ښځینه غړو، کله چې د جنسیتي بودجه جوړونې په تړاو بحثونه پیل شول، نو په دوامداره توګه په دې برخه کې کار وکړ. په همدې حال، شواهد ښیي، چې دا د ښځو لپاره یوه ثابته شوې ستونزه ده، چې خپله اجنډا په پارلمان کې پرمخ یوسيِ؛ آن هغوی د لفظي ځورونې موخه هم ګرځي او دغه وضعیت د پارلمان د ښځینه غړو ترمنځ د اختلافونو په رابرسیره کېدو سره، نور هم پسې خرابېږي. له دې امله، دا ډېر مهم دی، چې د جنسیتي برابروالي په تړاو فعالیت، یوازې په ښځو پورې مربوط نه دی، بلکه دغه چاره د مقننې قوې، ملي پرمختیايي پلانونو او سیمه ییزو پالیسیو په مرسته بنسټیزه کېږي، چې په خپل وار سره په دولتي ملاتړو او مرستو پورې تړلې دي.

## ۳.۴ له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه د نړیوالو د ملاتړ پر لاره پرتې ننګونې

جنسیتي برابروالي ته رسېدنه، د افغانستان او نړیوالې ټولنې ګډې موخې دي. له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې کار اخیستنه ځکه د دواړو (افغان دولت او نړیوالې ټولنې لپاره) یوه ګډه موخه ده، چې دغه چاره د مرستو د اغېزمنتیا لامل ګرځي. دغه لړی، د پایلو د ترلاسه کېدو او همدارنګه په عوایدو کې د زیاتوالي او اقتصادي ودې په موخه، یوې اغېزمنې بودجې ته شاملېږي. له مرستندویانو سره د نژدې او ستراتیژیکو همکاریو رامنځته کول، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې، بنسټیزه ونډه ادا کوي. همدارنګه دغه پروسه، د سیاسي فشار د زیاتوالي، د مالي تمویل د منطق او استدلال د پیاوړتیا او د مرستو د اغیزمنتیا په برخه کې ګټور واقع کېږي. په دې برخه کې مهم او کلیدي شریکان، په ملګرو ملتونو پورې اړوند سازمانونه، پرمختیايي بانکونه، نور مرستندویان او نور تمویلوونکي دي، چې د عامه مالي مدیریت او بودجې په برخه کې کار کوي.

اوسمهال، په افغانستان کې د نړیوالو سازمانونو د پالیسۍ بحثونو تر ډېره د روزنې، روغتیا، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي، د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا په ځانګړې توګه په ښځو پورې حساس کلتور او په امنیتي ځواکونو او د سولې په پروسه کې د ښځو پر برخه اخیستو، تمرکز لري. مرستندویان، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه د داسې وسیلې په توګه درک کوي، چې دولت اړباسي، ترڅو د ښځو د کاري او ژوندانه شرایطو د ښه والي په موخه، په مناسبه توګه پلان جوړونه او بودجه جوړونه وکړي. له دې نه اخوا، له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه شوې، چې د مالي مرستو د تمویل او د افغانستان د باثباته پرمختیا (SDGs) اهدافو د وروستي پړاو د پلیتابه په موخه، له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه ملاتړ وکړي. د پرمختیا د مالي تمویل په اړه دریېم نړیوال کنفرانس، چې پر **۲۰۱۵** ز. کال په ادیس ابابا کې جوړ شو، د جنسیتي برابروالي په برخه کې د اصلاحاتو لپاره د مالي تمویل په تړاو د نړیوالو ژمنو پر تکرار او زیاتوالي ټینګار وکړ. د دغه کنفرانس پریکړه لیک، له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د نړیوالو د مالي ملاتړ لپاره، یو مسیر ټاکي. دغه پریکړه لیک، له هېوادونو څخه غواړي، چې د جنسیتي برابروالي او د ښځو د ځواکمنتیا په برخه کې، د سرچینو تخصیصونه، تعقیب او په اړه یې راپور وکړي. همدارنګه یاده پریکړه لیک، د عامه مالي مدیریت، اداري او د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې د هېوادونو د پرمختیا لپاره، پر ظرفیت جوړونې ټینګار کوي.[۴۲] د پرمختیا بېلابېلې تګلارې، لکه رسمي پرمختیايي مرستې، د جنسیتي برابروالي او د ښځو د ځواکمنتیا لپاره یو لړ فرصتونه وړاندې کوي. مرستندویان تر ډېره ملي او نړیوالو نادولتي موسسو ته پیسې ورکوي، ترڅو داسې خپرونې پلي کړي، چې د جنسیتي برابروالي په برخه کې کار کوي. د دې په پرتله، د دولتي جنسیتي برابروالي نوښتونو ته د مرستندویانو مالي ورکړې، له سکتوري خپرونو – تر ډېره د روغتیا، ښوونې او روزنې سکټورونو – همدارنګه دولتي جنسیتي ځانګو څخه لکه د جنډر واحدونو او د عامه مالي مدیریت د اصلاحاتو، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ته هم شاملېږي، مالي ملاتړ کوي.

د بودجې له چوکاټه بهر دمرستو په پروسه کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ابزارو او اصولو ادغام، له مرستندویو او همکارو موسسو او هېوادونو سره مرسته کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي، چې د دوی له خوا شوي مرستې، د جنسیتي برابروالي او ټولنیزې هوساینې په برخه کې زیاتې اغیزناکې دي. همدارنګه دغه چاره، د مرستندویانو او دولت، د پلان جوړونې، د بودجې د تخصیص، تعقیب او راپور ورکولو دوران د بشپړتیا لامل ګرځي. د جنسیت بېل شاخصونه، لکه د برابروالي د کچې ښه والې، امنیت او د بیوزلې د کچې ټیټوالي، د مرستو د اغېزو او د دولت د حساب ورکولو د سنجولو په برخه کې مرسته کوي.

۴۲ . ملګرې ملتونه، «د ادیس ابابا د عمل اجنډا» **۱۱۵** پاراګراف، **۵۲**.

له جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې څخه د نړيوالو مرسته کولي شي، په سياسي او تخنيکي برخو کې اغېزناکه ثابته شي. د مرستندويانو کنفرانس همدارنګه د هغوی دوه اړخيز او څواړخيز هوکړه ليکونه، د ملي پاليسي د لومړيتوبونو په ګوته کولو کې، په مستقيمه توګه اغيز کوي. افغان چارواکو زياتره لېترلږه د مرستندويانو د دغه کړنلارې په رسميت پېژندلو سره، د هغوی غوښتنې منلې او د تاييد وړ ګرځولي دي. پر پاليسيو او بودجو د نړيوالې ټولنې اغيزې کولی شي، دولت تر فشار لاندې راولي، ترڅو بدلون ته ژمن واوسي. په ورته وخت، يو شمېر مرکه شويو کسانو په ځانګړې توګه د جنسيتي برابروالي په اړه، وويل، دغه ډول مداخله، کېدای شې د دې ګواښ رامنځته کړي، چې دغه ډول ماموريتونه د سيوري په څېر وي (يعنې تلپاتي نه وي).[47]

د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، په هغو پروسو کې پر پانګونه لاس پورې کوي، چې په افغانستان کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې لامل وګرځي. د دغو مستقيمو تخنيکي مرستو سربېره، مرستندويان او نړيوال سازمانونه بايد په خپلو پاليسيو او پلانونو کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د ابزارو پر ترويج او دودلو لاس پورې کړي او د جنسيتي برابروالي په برخه کې خپلې مالي ورکړې تعقيب کړي. نړيوال بانک په افغانستان کې د عامه مالي چارو د اصلاحاتو له لړۍ څخه ملاتړ کوي، او همدارنګه د عامه مالي مديريت د ريفورم د **۲** د لارې نقشې د پرمختيا په برخه کې مرسته کړې ده. د نړيوال بانک استازی، چې د دغې څېړنې لپاره ورسره مرکه شوې، وويل، نړيوال بانک او شريک يې د بريتانيا د نړيوالې پرمختيا ديپارتمنت دواړه، د خپلو افغاني همکارانو د غوښتنې له مخې، يو ځل د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې له پروسې تخنيکي ملاتړ وکړ.

د پاليسي جوړوونکو، مرستندويانو او نړيوالو سازمانونو ترمنځ زياتې همغږې شوې هڅې او همکارۍ، د دې لامل ګرځي، چې د پاليسي جوړونې، پلان جوړونې او ارزونې په پروسو کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې له ابزارو څخه کار واخيستل شي.

هغوی کولی شي، د اړوندو ادارو د پاليسي جوړوونکو د نژدې کېدو وسيله وګرځي او کولی شي، هغوی ته د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه معلومات وړاندې کړي. همدارنګه دوی کولی شي، د بودجې له چوکاټه بهر او د رسمي بودجې د چوکاټ په دننه، د بودجې جوړونې په پلانونه کې له جنسيتي تحليل او ګډ جنسيتي پلان جوړونې څخه ملاتړ وکړي. د بېلګې په توګه، ) (GIZ او د جرمني د مالي خدمتونو شرکت (KFW) ، يو پروګرام له دولتي سازمانونو سره په همغږي سره اجرا کوي. همدارنګه دغه سازمانونه پر دې وتوانېدل، چې بودجې مشورتي ملاتړ وړاندې کړي. له وجهي مرستندويو صندوقونو سره د بېلګې په توګه د افغانستان د بيارغونې لپاره وجهي صندوق سره، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې پروسې همغږه کول، کولی شي، د ګډ پلان او د بودجې د پلان جوړونې د ښو کړنلارو د پياوړتيا په برخه کې د ګډو طرحو په پېژندنه کې، يوه اغېزناکه کړنلاره وي. د افغانستان د بيارغونې لپاره وجهي صندوق، چې د **۳۴** مرستندويانو له خوا يې مالي ملاتړ کېږي، د بودجې په چوکاټ کې، پرمختيايي فعاليتونه تمويلوي. د دغه سازمان د مالي تمويل نوې ستراتيژي، د دولت له بيړنيو لومړيتوبونو سره - لکه څرنګه چې د پرځان بسيايني چوکاټ په سند کې بيان شوی او د جنسيت پراختيا ته هم شاملېږي - د پرمختيايي مرستو د همغږي کولو په موخه، تدوينه شوې ده. د افغانستان د بيارغونې لپاره د وجهي صندوق د جنسيت کاري ډله، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پياوړتيا او پرمختګ لپاره يو ډېر ښه پلاټفورم دی. دغه ډله اوسمهال، د خپل (ريفرنس) د شرايطو د بيارغونې په پروسه کې قرار لري، هغه راپورونو او فيدبکونو ته پاملرنه کوي، چې د افغانستان د بيارغونې لپاره د وجهي صندوق ستراتيژيکې ډلې ته وړاندې کېږي. په دغه برخه کې بله شبکه، د هېواد لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر (يوناما) او د مرستندويانو د همغږي کاري ډلې دي، چې ښځو لپاره د ملګرو متلونو د دفتر د ريس له خوا يې مشري کېږي، چې دغه چاره کولی شي، د هېواد لپاره د ملګرو ملتونو دفتر په ډله او مرستندويو ټولنو کې، له جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې څخه دفاع او لابينګ وکړي

د امريکا د نړيوالې پرمختيايي ادارې د پروموت پروګرام د يو لړ پروګرامونو او د پاليسي جوړونې د پروسو له لارې، د ښځو د اقتصادي او رهبري ځواکمنتيا د زياتولو په لټه کې دی. دغه پروګرام او همدا راز د مسلکي زده کړې او باثباته اقتصاد د پرمختيا لپاره د (GIZ) د کار بېلګه او حکومتولې پورې ځانګړی پروګرام، کولی شي، د ښځو د اقتصادي ځواکمنولو د کاري پلان د طرحې او تطبيق په برخه کې، عملي او پاليسيي ملاتړ وړاندې کړي. د امريکا د نړيوالې پرمختيايي ادارې (**USAID**) له خوا تمويل شوی پروګرام، چې د افغانستان د سيمه ييزې حکومتولۍ د پياوړتيا طرحې په نامه يادېږي، د مالي او پراختيايي پلان جوړونې او عامه خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې، د ولايتي حکومتولۍ د ښه والي په موخه په لاره اچول شوی دی. د دغه پروګرام د يوې برخې په توګه، يو لوړپوړی سلاکار به زده کړې او روزنې وړاندې کړي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې د افغانستان د ولايتي بودجه جوړونې په بهير کې، جنسيتي بودجه په پام کې نيول کېږي.

---

۴۷ . وګورئ ۴، ۱ برخې.

# ۴. په افغانستان کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې محدوديتونه او ننګونې

په افغانستان کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې بهير له يو شمېر پرمختګونو او لاسته له راوړنو سره سره، بيا هم له يو شمېر محدوديتونو سره مخامخ دی، چې په دقيقه توګه په سياسي، تخنيکي کړنلارو او چلندونو کې ربښه لري، چې په لاندې توګه دي:

- د جنسيتي برابروالي د پرمختګ او ترويج په موخه د يو ملاتړ شوی چاپېريال نشتوالی؛
- د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د درک او په هغه پورې د اړوندو اضافي ګټو او اغېزو د پېژندنې په برخه کې نيمګړتياوې؛
- په دغه بهير کې د شاملو لوبغاړو او لورو ترمنځ د همغږۍ د کمزورتيا ترڅنګ، له دغه لړۍ څخه په لوړو سياسي او مديريتي کچو کې د رهبرۍ متناقض ملاتړ؛
- د جنسيتي برابروالي، د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې او عامه مالي مديريت په برخه کې د تخصص له پلوه، د مفهومي چوکاټ او تخنيکي ظرفيتونو نشتوالی؛
- د بشري ځواک او مالي تمويل د سرچينو کموالی؛
- د جنسيتي تفکيک د ډېټابيس نشتوالی او معلوماتو د لاسرسي محدوديت؛
- د بودجه جوړونې مرکزي بهير او په سيمه ييزه کچه د بودجه جوړونې ترمنځ د اړيکې نشتوالي؛
- په دغه بهير کې، د رسنيو، مدني ټولنې سازمانونو او د پارلمان د غړو کمزورې برخه اخيستنه.

دغو ننګونو ته مستقميه رسېدنه کولی شي، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په برخه کې د پراخو لاسته راوړنو او برياوو لامل شي، خو دغه چارې ته رسېدنه، د يادوو ننګونو او محدوديتونو د سرچينو په سمه او دقيقه پېژندنه کې ربښه لري. د دغه راپور د چمتوکولو په موخه ترسره شوي مرکې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجې د تطبيق او پليتوب پر لاره د يو زيات شمېر ننګونو او ستونزو ښودونکې دي.

## ۴.۱ د جنسيتي برابروالي لپاره چاپېريال

بايد ووايو، چې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې او د هغه د ګټو او اغېزو د پېژندنې او درک په برخه کې توپيرونه او اختلافات، په دې برخه کې تر ټولو کره خنډ ګڼل کېږي. په ټوله کې، د جنسيت د پراختيا په تړاو، يو منفي ليد محسوسېږي؛ د ښځو د حقونو بحثونه يو تخنيکي اصطلاح ګڼل کېږي، چې د فرصتونو او سياسي چوکاټ څخه بهر ورته پاملرنه کېږي. مرکه شويو کسانو استدلال وکړ، چې د جنسيت مفهوم، د نړيوالې اجنډا د يوې برخې په توګه پېژندل کېږي او دوی د هغو کړنلارو او تګلارو په وړاندې، چې د لويديځ له خوا ورته پاملرنه کېږي، د ټولنيز او فرهنګي زغم د نشتوالي په اړه خبرې وکړې. دلته، روغتيا، زده کړه او اقتصادي ځواکمنتيا هغه مفاهيم دي، چې د ښځو د پرمختګ په برخه کې ټولو ته د منلو وړ دي؛ په داسې حال کې، چې دلته دودونه او رواجونه د هر هغه ليد په مقابل کې درېږي، چې د ښځو پر حقونو د افغاني کلتور په وړاندې د يو ګواښ په توګه تمرکز لري. دغه ليد همدا راز له طالبانو سره د سولې د خبرو په برخه کې هم منعکس شوی دی. افغان دولت له يوې خوا وايي، چې د ښځو حقونه به هېڅکله له طالبانو سره د سولې خبرو قرباني نه شي، له بلې خوا داسې يوه لېوالتيا موجوده ده، چې د ښځو له حقونو څخه، د يو سياسي بحث په توګه ګټه واخلي.

دغه انګېرنه، چې د جنسیتي برابروالي کړنلارې، له کلتوري ارزښتونو او سیمه ییزو شرایطو سره سر نه خوري، ښایي د هغو کسانو د هوډ او منفي لید پایله وي، چې د دغه موخې له لاسته راوړونو څخه د ملاتړ پرځای، پر ممنوعیت یې ډېر باور لري. بله ستونزه، د هغو محدودیتونو او ننګونو په تړاو د ژورې پوهاوې او پېژندنې نشتوالي ده، چې افغانې ښځې ورسره لاس او ګرېوان دي. په ټولیزه توګه دا ټولې ننګونې، د داسې د منلو وړ ټولنیزو او فرهنګي عناصرو د نشتوالي زېږنده ده، چې د ښځو د وضعیت د ښه والي لامل ګرځي او په پایله کې جنسیتي نابرابروالي ته رسېدنه کوي او د عدالت د ټینګښت لامل ګرځي. ۴۸

یو شمېر مرکه شویو کسانو ادعا وکړه، چې په دې برخه کې ملي او نړیوالو سیاستونو او مالي ژمنو ته په پام سره، په سیمه ییزه کچه، د ښځو د ژوندانه په شرایطو کې ډېرې لږې اغیزې محسوسې دي.

دغه چاره کېدای شي، د متقابلو سیاسي او ټولنیزو اغېزو او تخنیکي محدودیتونو زېږنده وي: د کاغذ پر مخ د سیاسي ملاتړ تناقض او د افغانستان په حکومتولۍ او نړیوالو مرستندویو سازمانونو په مدیریت کې د جنسیت د پراختیا د ظرفیت نتشوالی.۴۹

د یو شمېر مرکه شویو کسانو له انده، جنسیت د دې پرځای چې یو اقدام وي، تر ډېره یو شعار دی. د جنسیت او د ښځو د ځواکمنتیا اصطلاح زیاتره د کورنیو او نړیوالو شریکانو له خوا د یو بل پرځای کارول کېږي. د جنسیت په تړاو بحث، تر ډېره، د ښځو د حقونو او د هغوی د برخې او ونډې په تړاو له خبرو سره جوخت وي. په دې اړه بحثونه، چې نارینتوب څرنګه د افغانستان د خلکو په فرهنګ کې نفوذ کړی او هلکان څرنګه د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالو ښکار ګرځېدلی دی، او سمهال تازه پیل شوي دي.۵۰

ملي او نړیوالو سلاکارانو یادونه کړې، چې د جنسیت پرمختګ، پلیټوب او ارزونه، لا هم د یوې ستونزمنې لړۍ په توګه پرخپل ځای پاته دي. همدارنګه ویل شوي، چې دغه چاره اوس هم معموله ده، چې په روزنیزو کورسونو کې د ښځینه کارکوونکو او ګډونوالو شمېر په ګوته کېږي، ترڅو د خپرونو جنسیتي اغېزې وارزول شي. دغه د "د ارقامو د شمېرلو فرهنګ" دغه چاره ستونزمنوي، ترڅو د جنسیت د اړیکو پیچلتیاوې اوارې شي. په همدې توګه، مرستندوی سازمانونه هم په خپلو داخلي سیستمونو کې د پایلو پر کیفیت د تمرکز پرځای، په ټولیزه توګه پر شمېرو تکیه لري. د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د ځانګړي سرمفتش د تفتیش راپور۵۱ یادونه کوي، چې د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او د امریکا د نړیوالې پرمختیایي ادارې هېڅکله له خپلو مرستو څخه په مناسبه توګه تفتیش نه دی کړی او همدارنګه په افغانستان کې له ښځو څخه د ملاتړ په برخه کې د خپلو مرستو او پیسو لړۍ هېڅکله نه ده ارزولې. دغه تیوري، چې څرنګه فعالیتونه او ماموریتونه کولی شي، ټولنیز بدلون تر خپلې اغیزې لاندې راولي او د جنسیتي برابروالي لامل وګرځي، د زیاترو ځانګو لپاره منعکس شوی نه دی.

## ۴.۲ سیاسي اراده او د رهبرۍ ملاتړ

د وړ او مستعدو کارکوونکو نشتوالي او په سیاسي او رهبري کچه کې د رښتینې ژمنې نشتوالی، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتوب په لاره کې نور محدودونکي فکټورونه دي. د رهبري ملاتړ، په ځانګړې توګه د پلان جوړونې، مالي او پرمختیایي چارو په تړاو په دولتي ادارو کې د پالیسي جوړوونکو له خوا، ډېر مهم دی. تر هغه چې سیاسي رهبري، د ښځو د ځواکمنتیا په موخه هغه څه، چې د جنسیتي برابروالي په اړه د کاغذ پر مخ لیکل شوي، په عمل کې پلي نه کړي، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه بیا هم د مفهومي چوکاټ په توګه پاته کېږي.

د افغانستان ولسمشر اشرف غني په ډېره جوته بڼه د ښځو د ځواکمنتیا او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په اړه خپله ژمنه څرګنده کړه. نوموړی د لوړې د ادا کولو په مراسمو کې، د خپلې میرمنې رولا غني هڅې یې وستایلې او د نوموړې له

۴۸ . آریه نجات د «د افغانستان د نوې لومړۍ مېرمن» ترسرلیک لاندې په خپله مقاله کې پر دې واقعیت په نیوکې سره، چې له دې سره سره، چې د ښځو د حقونو په برخه کې په کافي اندازه جوړښتونه او سازماني تشکیلات لکه د ښځو چارو وزارت او د جندر واحدونه موجود دي، د ښځو د چارو ستراتیژیستانو پر داسې لارو چارو تمرکز و نه کړ، ترڅو د ښځو له حقونو سره داسې مرسته وکړي، چې د لومړنیو او بیړنیو چارو لکه: امنیت، دندې، سرپناه او روغتیا په شان مهم او ارزښتناک وګڼل شي. دا زیاتوي، په تېرو ۱۲ کلونو کې د ښځو د ځواکمنولو مفروضات او کړنلارې باید د نوي حکومت، ملي او نړیوالو شریکانو او د افغانستان د لومړۍ مېرمن د کار لپاره، مشخصې شي. وګورئ: آریه نجات، «د افغانستان نوې لومړۍ مېرمن» فارن پالیسي، د ۲۰۱۴ ز. کال د اکتوبر ۹ مه، afghanistans-new-first-lady /۰۹/۱۰/۲۰۱۴/http://foreignpolicy.com (د ۲۰۱۵ ز. کال د اګست پر ۲ مه ورته لاسرسی وشو).

۴۹ . د لازیاتې مطالعې لپاره وګورئ: احمد شهیر انیل، ملک کارلیج او سید پرتو، «په افغانستان کې د ښځو لپاره د ملي کاري پلان پلیتوب: یوه ارزونه» (کابل: د افغانستان د عامه پالیسۍ د څېړنو سازمان،۲۰۱۴).

۵۰ . د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په دې وروستیو کې په دې اړه یوه څېړنه خپره کړې ده: چونا آر. اچاویز، سیدمهدي موسوي و لیاویلفردا ر پیلنګو، « د جنسیتي نابرابروالي بل اړخ: نارینه او نارینتوب په افغانستان کې» کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د افغانستان لپاره د سویډن کمېټه، ۲۰۱۲).

۵۱ . «افغانې ښځې: جامعو ارزونو ته اړتیا ده، ترڅو د دفاع وزارت او نړیوالې پرمختیایي ادارې پرمختګونه وسنجوي او وارزوي» (د تفتیش راپور، د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش، ۲۰۱۴ز.)

مرستو څخه مننه وکړه. د ولسمشر دغه بیانیه، په ملي او نړیواله کچه د پاملرنې وړ وګرځېده او ان د ځینو لپاره له حیرانتیا ډکه وه؛ په ځانګړې توګه دا چې تر دې مخکې ولسمشر حامد کرزي، هېڅکله په عام محضر کې له خپلې میرمنې سره یوځای نه و لیدل شوی. د افغانستان لومړۍ مېرمن، تراوسه پورې د افغانستان د ښځو د ژوندانه چارو د ښه کېدو په برخه کې په کار سره، تل په عام محضر کې څرګند ېږي. له دې سره، په تولیزو چارو د دې برخه اخیستنه، له دوو بېلابېلو غبرګونونو سره مخ دي؛ ځینې یې ستاییې او ځینې بیا پرې نیوکه کوي.

ولسمشر غني، د ملي کاري پلان (NAP) ۱۳۲۵ (۲۰۱۵) د پرانېستنې پرمهال، په ښکاره وویل، چې "د ښځې لیدلوري باید د حکومتولۍ په بهیر کې د تصمیم نیونې د کړیو نه بېلېدونکې برخه وي" او " د دې لپاره، چې د ښځو لیدلورو ته په رښتینې توګه پاملرنه وشي، موږ باید له وینا څخه عمل ته خپل حرکت پیل کړو، ترڅو دغه پروګرامونه پلي او عملي شي ".[52] نوموړي د ښځې ضد روحیې باندې سخته نیوکه وکړه. باید ووایو، چې د جنسیتي برابروالي په اړه د ده خبرې او شخصي چلند، په دې برخه کې د ده د کړنو منعکسوونکی دی؛ لکه څرنګه چې نوموړي د ښځو چارو وزارت ته لارښوونه وکړه، چې د کابینې په کچه د جنسیت ځانګړې کمېسیون د تشکیل پر شرایطو کار وکړي. غني همدا راز په افغانستان کې د ښځو لومړنی پوهنتون د جوړېدو چارې د پیلېدو نوښتګر دی.

البته بیا هم اصلي ننګونه، نورو دولتي تصمیم نیوونکو ته د ده د کړنو لېږد دی. مرکه شویو کسانو نورو دولتي چارواکو ته د دغه سیاسي ارادې د لېږد په اړه پوښتنې او اندېښنې مطرح کړې. د بېلګې په توګه، د جنډر واحد یو شمېر کارکوونکو وویل، چې د دوی د اړوند وزارت رهبري، جنسیت ته د یوې موضوع په توګه پاملرنه کوي، خو په دې برخه کې د اړتیا وړ چارې نه ترسره کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، جنسیت ته د یوې اجنډا لرونکې موضوع په توګه رسېدنه کېږي.

همدارنګه د پیاوړي سیاسي ملاتړ د ښودلو په موخه، په مناسبو پوستونو کې د مناسبو کسانو د لرلو اړتیا رامنځته کوي. په داسې حال کې، چې د جنډر واحد، داسې یو پوستې نه دی، چې په وزارتونو کې د بودجې لړۍ تر خپلې اغېزې لاندې راولي. د جنډر واحدونو استازو ادعا وکړه، چې په دې برخه کې، د مالیې وزارت له سپارښتنې سره سره، چې د دغه واحد استازی باید د وزارتونو د بودجه جوړونې په پروسه کې ګډون وکړي، دوی نه شي کولی، د خپلو اړوندو وزارتونو د بودجه جوړونې په پروسو کې برخه واخلي. د جنډر په واحد کې زیاتره ټاکل شوي کسان، ځوانان او د کمو تجربو درلودونکي کسان دي او له همدې امله هغوی نه شي کولی، له خپلو واکونو څخه په سمه توګه استفاده وکړي، ترڅو د تصمیم نیونې پر پروسو کې اغېزناک وي یا دوی د رهبرۍ د تصمیم نیونې د میکانیزم یوه برخه وي.

## ۴.۳ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې او د هغه د ابزارو د پلیتوب په تړاو سازماني پوهاوی

په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې طرحې تر ډېره د بشري ځواک له کموالي سره مخ دي، او په دې برخه کې، کوم بشري ځواک چې موجود دي هم، له محدودو تخنیکي وړتیاوو څخه برخمن دي. هغه خنډونه چې په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق په لاره کې موجود دي، یوازې د دغه موضوع په اړه د واقعي پېژندنې نشتوالی نه دی، بلکې په دې برخه کې د ښځو چارو په وزارت او نورو خپلواکو بودجوي واحدونو کې د بنسټیزو کړنلارو د پلي کولو او پلان جوړونې په موخه، د تخنیکي ظرفیتونو نشتوالی او محدودیت هم ترسترګو کېږي.

د ښځو چارو وزارت دغه مسله شریکه کړه، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو بحثونو کې زیاترو شریکانو پر دې ټینګار وکړ، چې په جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه کې باید د ښځو د موضوعاتو لپاره ځانګړې بودجه په پام کې ونیول شي. په دې توګه، د مرستندویانو استازي، پراخو څانګو ته په پاملرنې سره، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې له مفهوم سره ناآشنا ښکاري.

نژدې هر مرکه شوي، په اړوندو څانګو او ادارو او همکارو ادارو کې د جنسیت او بودجه جوړونې په تړاو د ظرفیت او تخنیکي پوهې پر نشتوالي ټینګار وکړ، او دغه چاره یې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق په برخه کې یو خنډ وباله. په دې برخه کې په ځانګړې توګه خپلواک بودجوي واحدونه او د هغوی اړوند جنسیتي واحدونه د سرچینو او ظرفیتونو له نشتوالي سره مخ دي، ترڅو پر دې وتوانېږي، چې د جنسیتي ځانګړې بودجې په تړاو تحلیل ترسره او په اړوندو ادارو کې جنسیتي نابرابروالي په

52 . د ولسمشرۍ دفتر، «ولسمشر غني وویل: «د سولې په خبرو کې د افغان ښځو ونډه به رښتینې وي» http://president.gov.af/en/news/۴۸۹۱۹, ۳۰ June ۲۰۱۵ (د ۲۰۱۲ ز. کال د مارچ پر ۳ مه ورته لاسرسی وشو).

ګوته او د هغه پر بنسټ بودجه او پلان جوړ کړي. په تړليزه توګه، د بودجې وړانديزونه، د افغانستان د ملي پرمختيا له ستراتيژي، د ملي لومړيتوبونو د پلان له معيارونو او يا د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان سره سم نه چمتو کېږي. په ټوله کې، تخنيکي ظرفيتونه، د جنسيتي تجربو او د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې او عامه مالي مديريت له ليده په مرکز او ولايتونو کې له يو لړ نيمګړتياوو سره ملګري دي. د دې ترڅنګ، د ماليې وزارت ادعا کوي، چې د داسې متخصصينو موندل، چې د جنسيتي بودجه جوړونې او د جنسيت د پراختيا له تجربو څخه برخمن وي، ډېره ستونزمنه چاره ده، خو بيا هم که چيرې همداسې متخصصين پيدا هم شي، نو دوی نه شي کولی، چې هغوی ته مناسب معاش ورکړي. د ماليې وزارت وايي، چې يو مهال يو شمېر نړيوال سلاکاران د کارکوونکو د ظرفيتونو د لوړاوي په موخه په کار وګمارل، خو هغوی له دې پرته چې د وزارت کارکوونکو ته وړ مهارتونه ولېږدوي، خپلې دندې پرېښودې.

په دې برخه کې د ښځو چارو وزارت نه ګډون او په ياد وزارت کې د ظرفيتونو نشتوالی، ترڅو په دې برخه کې له نورو وزارتونو سره مرسته وشي، د دې لپاره يو دليل دی، چې ولې خپلواک بودجوي واحدونه، د جنسيت د پراختيا او د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د تطبيق د زياتوالي او معيارونو د پراختيا په تړاو کار کې کمزوري دي. له هغه ځايه، چې د بودجې دوران او د جنسيت پراختيا چارې دواړه په خپل ماهيت کې پېچلې چارې او نورې څانګې لري، پر دې بنسټ، دغه مسله د هر برخه اخيستونکې لپاره له ډېرو زياتو ننګونو سره مخ دي، ترڅو مناسب ميکانيزم او کافي وخت ومومي، چې په عمل کې پر جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې لاس پورې کړي. له بلې خوا د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې چارې تر ډېره د ملکي خدمتونو کارکوونکو په مسووليتونو پورې هم اړوند ېږي؛ په داسې حال کې، چې د هغوی زياتره کسان، له دغه موضوع سره د يوې اضافي او ضمني موضوع په توګه چلند کوي.

يو شمېر مرکه شويو ويل، چې په ښارونو کې د ښځو شبکې او ښځينه نخبه، په سيمه ييزه کچه له ښځو سره اړيکې نه لري، چې دغه چاره په خپله، د هغه واقعيت څرګندوی دی، چې هغوی په آر کې، د نابرابروالي د کچې د ټيټوالي او د ښځو د شرايطو د ښوالي په لټه کې نه دي. همدارنګه د مرکو په لړ کې دغه مسئله، د نارينه وو رسمي چارواکو له خوا مطرح شوه، چې جنډر داسې يوه تړليزه او ګډه موضوع نده او همدارنګه د ښځو پرمختګ داسې پرمختيايي موخه نه ده، چې دوی په خپلو پستونو کې مسوول وي، ترڅو د خپلو سکتوري پاليسيو د پراختيا او پليتابه په برخه کې په پام کې ونيسي. دا د دې ښودنه کوي، چې د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان او له دولتي ژمنو سره يې مطابقت او پلې کول يې، د ښځو او ښځينه فعالانو پر اصلي دنده بدله شوې ده. په همدې حال، دا په خپله يو غير مسلکي ليد دی، چې په جنسيت پورې اړوند موضوعاتو ته رسېدنه، يوازې د ښځو چارو وزارت او د ښځينه فعالانو مسووليتونه ګڼي.

## ۴.۴ د ښځو په سازمانونو کې شته ستونزې

په ښځو پورې اړوند سازمانونه، د هېواد د سياسي او اداري مسلو په تړاو د تصميم نيونې په پروسو کې هېڅ راز اغيزې نه لري. د دوی حکمونه تر دې چې اجرايي وي، تر ډېره مشورتي دي. دغه اداری، له وړ کارکوونکو او مالي امکاناتو څخه برخمنې نه دي او همدا راز د تصميم نيونې په کچه کې له واکه بې برخه دي. ماليې وزارت، د ښځو چارو وزارت او په نورو ادارو او وزارتونو کې د جنډر څانګې، هغه اداري دي، چې تمه کېږي، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د طرح او تطبيق په برخه کې يو خوځنده ځواک وي. که څه هم د ښځو چارو وزارت او په وزارتونو او اړوندو سکتوري ادارو کې، د جنډر څانګه، د جنسيت د پراختيا موضوع په تړاو مسوول ګڼل کېږي، خو هغوی نه امکاناتو ته لاسرسي لري او نه هم د پاليسي جوړوونکې پريکړو په کړيو کې، له کوم نفوذ برخمن دي، ترڅو پر دې وتوانېږي، چې دولتي اداري په دې برخه کې ځواب ويونکې وګرځوي. سربېره پر دې، د ښځو چارو وزارت چارواکې باور لري، چې دوی په سياسي او اجرايي برخه کې، اړتيا وړ دولتي ملاتړ له ځانه سره نه لري. هغوی د يو شمېر کړنلارو انځور وړاندې کوي، چې په ښځو پورې له اړوندو موضوعاتو سره د چلند په برخه کې ترسره کوي، خو يادونه کوي، چې تر ډېره سمبوليکې دي. د بېلګې په توګه، دوی وايي، د بودجه جوړونې په مهمو کمېټو کې، چې د دولتي بودجې د تاييد دنده لري، د دوی ګډون يوازې د ناظر غړي په توګه دی. د دوی په باور، دغه چاره، د وزارتونو او خپواکو دولتي ادارو له خوا پر وړانديز شويو بودجو او پلانونو د اغېز لرلو او د ښځو لپاره د ملي کاري پلان د پليتوب په برخه کې د څارنېزې ونډې د ترسره کولو په برخه کې د دوی د کمزورتيا لامل ګرځيدلی دی.

له بلې خوا د ښځو چارو وزارت په خپله هم تراوسه پورې نه دی توانېدلی، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د ترويج او تطبيق په برخه کې، يوه مناسبه رهبري وړاندې کړي. زموږ د مرکو په لړ کې، د ښځو چارو وزارت لا پر دې نه و توانېدلی، چې دا خبره کره کړي، چې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د تطبيق او پرمخ وړلو چارې د کوم معينيت، پاليسي چارو يا اداري معينيت

له مسوولیتونو څخه وي. خو په ټولیزه توګه، باید یادونه وکړو، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پالیسۍ ماهیت ته په پام سره، دغه چاره تر ډېره په پالیسۍ ځانګه پورې اړوندېږي. البته د نوي وزیر په ټاکل کېدو سره بیا یو ښه فرصت ترلاسه شو، ترڅو دغه ښستېیزه پوښتنه بیا مطرح شي.

د جندر واحدونو د منل کېدو کچه، چې د یوې ارزونې له مخې مشخص شوې ده: د جندر واحدونه، د پخوا په شان د رهبرۍ د لږ ملاتړ په درلودلو سره، خپل موقعیتونه تشریح کوي، په داسې حال کې، چې د دغه واحد نارینه همکاران، دغه ځانګه یو نمایشي او سمبولیک جوړښت ګڼي، چې اصلي دنده یې په ښځو پورې د اړوندو ورځو د لمانځنې چارې سمبالول دي. په ورته وخت کې، په ټولیزه توګه دغه موضوع په ګوته شوې، چې د جندر ځانګو د نشتوالي په صورت کې، به ممکن په جنسیت پورې اړوند موضوعات له یوې مخې هېر شوې وای.

په وزارتونو کې د جندر ځانګې امرین استدلال کوي، چې دیوې اضافي ځانګې په توګه د وزارت د معینیت تر تشکیل لاندې د دغه ځانګې موقعیت، کومه ګټه نه لري؛ لکه څرنګه چې په دې صورت کې دوی نه شي کولی، د وزارت له لوړپوړو چارواکو (ریيسانو) څخه د راپور وړاندې کولو غوښتونکي شي او همدارنګه نه شي کولی، د وزارت د بودجې په تړاو د تصمیم نیونې په کړیو کې، اغېز او نفوذ ولري. په همدې توګه، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې د دوی ونډه، لکه څرنګه چې د مالیې وزارت له خوا په ګوته شوی، د وزارتونو له خوا په پام کې نه نیول کېږي: که څه هم د هغو وزارتونو د جندر ځانګو، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق تر ازمایښتي پروګرام لاندې دي، باید د خپل اړوند وزارت د بودجې د طرح په کمیټو کې برخه اخیستې وای، خو د کلیو او پراختیا وزارت د جندر ځانګې پرته، چې د یو کال لپاره په دغه پروسه کې ګډون کړی و، نورو ټولو څرګند کړ، چې له دوی څخه په دغه کمیټه کې د ګډون په موخه بلنه نه وه شوې.

د جنسیتي بودجه جوړونې ځانګه، د مالیې وزارت د بودجې عمومي ریاست په چوکاټ کې رامنځته شوی، د مالیې وزارت د جندر له ځانګې سره په منظمه توګه کار نه کوي. د مالیې وزارت راپور ورکړ، چې د دغه ځانګې کړنې، تر ډېره د جنسیت او مالي چارو د مدیریت په اړه د یادې ځانګې د کارکوونکو په تجربو او مهارتونو پورې تړاو لري.

د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ستراتیژیک کاري پلان، په مالیې وزارت کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ځانګې او د جندر واحد دندې داسې تشریح کوي: د جنسیتي بودجه جوړونې ځانګه، داسې یوه ډله په بر کې ونیسي، چې د بودجې د اصلاحاتو ځانګې، د بودجې د اجرایوي ریاست، د مرستو د انسجام ریاست، د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ ځانګې او د مالیې وزارت د جندر ځانګې، له لوړو او منځ پوړو چارواکو څخه جوړه وي، او یاده ډله د بودجې د عمومي ریيس له خوا باید رهبري شي. د جنسیتي بودجه جوړونې ځانګه، د نورو مواردو ترڅنګ، د مالیې وزارت د جنسیتي بودجه جوړونې ځانګه، باید د جنسیتي ځواب ویونکې بودجې د چمتو کېدو او په میداني کچه د اجرایي تفتیش د ترسره کېدو په موخه، د جندر سکتوري ځانګو ته باید روزنه وړاندې کړي او له دغو ځانګو سره همغږي رامنځته کړي. دغه ځانګه همدا راز، د جنسیتي تفکیکي احصاییو د راټولو او د مدني ټولنې له سازمانونو او نادولتي موسسو سره د اړیکو د ټینګولو په برخه کې مسووله ده. په خپلواکو بودجوي واحدونو کې د جندر ځانګې، چې د معینیتونو تر تشکیلاتي جوړښت لاندې خپله دنده پرمخ بیایي باید د پالیسي ژمنتیاوو او تخصیص شویو سرچینو ترمنځ درزونه او اختلافات په ګوته او مشخص کړي. د جندر ځانګې همدارنګه، جنسیتي برابروالي ته د رسېدو په برخه کې د پرمختګ په موخه، سکتوري شاخصونه وړاندې کړي او له پروګرامونو او فرعي پروګرامونو څخه د جنسیت پر بنسټ یوه څارنه ترسره کړي او د اړوند وزارت او ادارې د بودجه جوړونې په بهیر کې یې ورددننه کړي.

په ادارو کې له جنسیتي پېچلو مسئلو لکه د جنسیت او د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تحلیل او شننې، سره د برخورد او چلند په برخه کې، د جندر واحدونو د ظرفیت څرنګوالي یوه بله ننګونه ده. دغه ځانګې په خپلو اړوندو ادارو او وزارتونو کې تر ډېره په بشري منابعو اړوندو چارو سره سروکار لري او د ښځو لپاره د ملي کاري پلان د تطبیق په اړه راپور وړاندې کوي. له بلې خوا د جندر ځانګې په عمل کې، د بشري منابعو ترڅنګ، د اړوندو ادارو د ښځینه کارکوونکي د کاري شرایطو او ظرفیت په ښوالی تمرکز لري. دغه واحدونه، په اړونده اداره کې، د جنسیت پر بنسټ د اختلافونو پر شننو او تحلیل، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په پروسه کې باید ځای پرځای شي، پاملرنه نه کوي.

د جندر له واحدونو څخه مرکه شویو کسانو، د جنسیت په اړه سمه پوهاوي او پېژندنه لرله، خو جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ته په پام سره، له تخنیکي پلوه مجهز نه وو. کله چې له هغوی څخه د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په اړه پوښتنه وشوه، د دوی پېژندنه او درک په دې اړه، د اړوند وزارت ښځینه کارکوونکو ته د وزارت له خوا د ځانګړې بودجې، ځانګړې کول وه. که څه هم د بشري منابعو په لګښتونو کې، د جنسیتي تفکیکي ستون زیاتول، له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه د

کار اخیستو یوه بېلګه وړاندې کوي، خو اوسمهال، دغه لړۍ یوازې په عملیاتي بودجه باندې تمرکز لري او پرمختیایي بودجې ته نه شاملېږي. د جنډر ځانګې باید دغه مسوولیت او واک ولري، چې په ټولو پروګرامونو او فرعي پروګرامونو کې د جنسیت لید په مدغمولو سره، د سکتور د پلان جوړونې لړۍ او د پرمختیایي بودجې د تطبیق پروسه، تر څېړنې لاندې ونیسي.

له تخنیکي لیده، د جنډر واحدونو د کارکوونکو ارزونه به په دغه ځانګو کې د ظرفیتي نیمګړتیاوو او جوړښتیز درزونو د پېژندنې په برخه کې مرسته وکړي. البته باید یادونه وکړو، له ظرفیتي پلوه نیمګړتیاوې، د ظرفیت د پراختیا لپاره اړینې بودجې ته اړتیا لري، دا په خپله بیا د لوړو پوړو چارواکو ملاتړ ته اړتیا لري. یو شمېر مرکه شویو کسانو وویل، چې د دوی لپاره د ظرفیت جوړونې او روزنې په برخه کې بودجه، د دوی اړوندو ادارو له خوا دوی ته نه ځانګړې کېږي[۵۳].

د جنډر عمومي ریاستونه، لکه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسیون، کورنیو چارو وزارت او دفاع وزارت کې د جنډر ریاستونو، د جنډر د ځانګو په پرتله له ښو امکاناتو او اغیزو څخه برخمن وو. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو په کمېسیون کې د جنډر ریاست، په وزارتونو او عمومي ریاستونو کې د جنډر د ځانګو لپاره «د مور اداري» په توګه ګڼل کېږي. دغه ریاست، د ملکي خدمتونو په ادارو کې د ښځو د ژوندانه د ښه والي په برخه کې د یو لړ پروګرامونو د تطبیق لپاره، له ښه واک او اختیار څخه برخمن دی. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په ستراتیژیک پلان کې د جنډر ریاستونو شمولیت، د جنسیي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د اغیزمنتیا لپاره اغېزناک ثابتېږي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون، د کورنیو چارو او دفاع وزارتونه هغه ادارې دي، چې په ملي او نړیواله کچه ډېره پاملرنه شوې ده.

## ۴.۵ همغږي او همکاري

همغږي او د پیاوړو سازماني میکانیزمونو شتوالي او د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پوتانشیلونه، په ټولو وزارتونو کې بدلونونه تر خپلې اغیزې لاندې راوستلی شي. د همغږیو موجودیت، په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق په برخه کې یو مهم او کلیدي اصل ګڼل کېږي. د مرکو په لړ کې، زیاترو دولتي شریکانو، د نژدې تعامل او ښکېلتیا په اړه خبرې وکړې؛ په داسې توګه چې هغوی د همغږیو نشتوالي د داسې یوه موضوع په توګه یادونه وکړه، چې د پالیسیو د طرح او تطبیق په برخه کې هره ورځ ورسره مخ دي. یوازې یو شمېر مرکه شویو کسانو چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې سره مستقیمې اړیکې نه لرلې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تېرو او اوسنیو نوښتونو او طرحونو لکه (د جنسیتي بودجه جوړونې ازمایښتي پروسه، ستراتیژیکه جنسیتي کاري پلان، معلومات پاڼه او د جنسیتي بودجه جوړونې لارښود) په اړه معلومات درلودل.

د مرکو په لړ کې، د مالیې وزارت، د ښځو چارو وزارت او نورو بودجوي خپلواکو واحدونو ترمنځ او همدارنګه د ملګرو ملتونو د سازمانونو او موسسو لکه د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر ترمنځ، د پراخو معلوماتي درزونو او ناهمغږیو شتوالي بربنډه شوې. یو زیات شمېر شریکانو، چې ورسره مرکې وشوې، په وزارتونو کې د جنسیتي بودجه جوړونې د پروسې او د بودجې واحدونو ترمنځ د همغږیو پر نشتوالي ټینګار وکړ. د ناهمغږیو د نشتوالي دغه لړۍ، په سیمه ییزه کچه ان تر دې ډېر محسوس دي. د دولتي خپلواکو ادارو استازو په ښکاره وویل، چې دوی تمه لري، ترڅو مالیې وزارت او د ښځو چارو وزارت په دې برخه کې همغږۍ رامنځته کړي او د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د هځو ترمنځ د همغږیو د رامنځته کېدو په برخه کې، د رهبرۍ ونډه ادا کړي.

## ۴.۷ د جنسیت په اړه تفکیکي معلومات او احصاییې

د جنسیتي تفکیک شاخصونه او احصاییې او له معلوماتو څخه پروخت کار اخیستنه، د جنسیت د شواهد پر بنسټ پلان جوړونې او څارنې په برخه کې له ډېر زیات اهمیت برخمن دي. جنسیتي تفکیکي معلوماتو ته لاسرسي، د غږیزو تحلیلونو د ترسره کېدو لپاره له وړاندې شرط ګڼل کېږي، چې د معنالرونکې پلان جوړونې لامل ګرځي. دغه ډول معلوماتو د بودجې جوړونې په ټولو پړاوونو کې له پیله بیا ترپایه اړتیا محسوسېږي. د جنسیت ټولنیز – اقتصادي شننه، د هغو فکتورونو په څېړلو سره، چې د ښځو ژوند سمبالوي او یا تر خپلې اغیزې لاندې راولي او د نارینه په پرتله توپیر لري، د هغو داستانو له پرانېستو سره مرسته کوي، چې د شمېر تر شا پټ دي. پلان جوړوونکي، د اغېزناکو کړنو او اقداماتو د طرح کولو په موخه، د لاملونو او علتونو پېژندنې ته اړتیا لري، د بېلګې په توګه، په پوهنتونونو کې د ښځو د شمولیت پر لارې خنډونه، د مناسب ترانسپورټیشن او لیلیې نشتوالی دی. په همدې توګه، د جنسیتي توپیرونو او اړتیاوو په تړاو د معلوماتو او شمېرو د راټولولو او غږیزو تحلیلونو د ترسره کېدو په موخه، باید تخنیکي سرچینو ته لاسرسی موجود وي.

۵۳ . له نادولتي موسسو څخه یو شمېر مرکه شویو کسانو ادعا وکړه، چې د ظرفیت جوړونې او ورتیاوو په برخه کې، تر هغه وروسته، چې پر ۲۰۱۰ز. کال د GIZ پروګرامونه ځنډېدلي، بیا هېڅ کومه اداره او موسسه کار نه دی کړي.

د ملي یووالي حکومت د احصاییو ارزښت په رسمیت پېژني. له همدې امله، اوسمهال د افغانستان د احصاییې مرکزي اداره، د کابینې غړې ده. د احصاییې مرکزي اداره، د دولت له مهمو ځانګو څخه ده، چې له مالیې وزارت څخه، د هېواد د صادراتو او وارداتو او همدارنګه عوایدو او لګښتونو او مالیاتو په اړه، معلومات او احصاییې راټولوي، خو د بودجې د لګښت په اړه تراوسه پورې یې احصاییې نه دي وړاندې کړي. د جنسیت د احصاییې آمریت پر ۲۰۱۴ ز. کال په دغه اداره کې رامنځته شوه، ترڅو د جنسیت تفکیکي معلومات او احصاییې راټولې او تحلیل کړي. دغه ادارې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو له دفتر سره په همکارۍ، د په خصوصي او عامه سکتورونو کې د تصمیم نیونې په پستونو کې د ښځو او نارینه وو پّه تړاو یوه نظرپوښتنه خپره کړه. د احصاییې مرکزي ادارې راتلونکی پلان، د جنسیت احصاییوي کلنۍ خپرول دی.

د احصاییې مرکزي ادارې د راپور له مخې، دغه اداره پر دې قادره ده، چې د خپلو پوښتنپاڼو او شاخصونو پر بنسټ، د دې چارې پر څېړلو لاس پورې کړي، چې د بودجو تخصیص پر ښځو او نارینه وو څرنګه متفاوتې اغیزې لري. البته د دغې ادارې، مالیې وزارت او ښځو چارو وزارت ترمنځ ښه همکارۍ او همغږۍ به د دغه چارې د ښه ترسره کېدو لامل شي. د د احصاییې مرکزي ادارې له وزارتونو او ادارو څخه د معلوماتو او احصاییو د راغونډولو ترڅنګ، یو شمېر سروې ګانې هم ترسره کوي، چې د مرستندویانو له خوا یې مالي ملاتړ کېږي.

البته د دغه څېړنې تر لیکلو پورې، وزارتونو او ادارو، د جنسیتي تفکیک په اړه معلومات نه وو چمتو کړي، ترڅو له پروګرامونو او پروژو څخه د ګټه اخیستونکو او اغېزمن شویو کسانو شمېر او جنس وښیي. همدارنګه له مالیې وزارت څخه، تراوسه پورې یوازې د شپږو امتحاني وزارتونو په تړاو، د جنسیتي بودجه جوړونې د شاخص په اړه، د معلوماتو د وړاندې کېدو غوښتنه شوې ده.

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، له ښځو چارو وزارت او د احصاییې مرکزي ادارې څخه ملاتړ کوي، ترڅو د معلوماتو د راټولو او خپرولو له لارې، د جنسیت پرخپراوي لاس پورې کړي؛ لکه د «په افغانستان کې پر ۲۰۱۱ ز. کال نارینه او ښځې» خپرول.[۵۴] په دې وروستیو کې د ښځو لپاره د ملګروملتونو دفتر او د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، د پروژو د همغږۍ او د فعالیتونو د ساده کولو په اړه یو تفاهم لیک لاسلیک کړ. د دغه خپرونې یوه ازمایښتي طرح، د دوګونې څارنې د ډیټابیس پیاوړتیا ده. کوم چې د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالې نه تر اقتصادي پیاوړتیا پرمختګ پورې اړین دي، د دی لپاره په هغو سیمو کی د افغانستان د حکومت څارنه وکړي او د NAPWA راپور ورکړي.

۵۴ . افغان دولت، «په افغانستان کې پر ۲۰۱۱ ز. کال ښځې او نارینه» (کابل: د احصاییې مرکزي اداره و د ښځو چارو وزارت، ۲۰۱۲ ز).

# ۵. په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ښه تطبیق په اړه وړاندیزونه

دغه چاره، د سیاسي او اداري ځانګړې دواړه لپاره ډېره مهمه ده، ترڅو دغه مسئله درک کړي، چې د جنیستي برابروالي لپاره سکتوري ځو اړخیزې هڅې، د جنسیت پر بنسټ د تبعیضونو د له منځه وړلو او د ښځو حقونو د تضمین په تړاو د پالیسیو او خدمتونو د وړاندې کېدو په برخه کې، د یو لړ دولتي اقداماتو د ترسره کېدو غوښتونکی دی. سربېره پر دې، د دغه ماموریتونو او فعالیتونو د ترسره کېدو لپاره، مالي سرچینې، سازماني میکانیزم او د ځواب ویلو چوکاټ ډېر مهم او حیاتي دی. د نورو هېوادونو تجربې ښیي، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې طرحې او نوښتونه، زیاتې حوصلې او اوږدمهالې ژمنتیا ته اړتیا لري، ترڅو د اغېزناکو او محسوسو پایلو لامل شي او پر یوه بنسټیز عمل بدل شي. له یوې کلنۍ بودجې څخه تر بلې کلنۍ بودجې د تداوم په موخه، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تطبیق، مناسبو سیاسي پاملرنو او تخنیکي ارزونو ته اړتیا لري.

په ټولیزه توګه، په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق په برخه کې، شپږ لاندې محورونه په ګوته کېږي:

- دا ډېر مهم دی، چې له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه د ښې ګټې اخیستنې او پېژندنې لپاره، مناسب او منطبق دولتي ملاتړ او د حساب ورکولو میکانیزم، وهڅول شي؛
- د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پروسې باید د پلان جوړونې او بودجه جوړونې له اوسنیو او راتلونکو پروسو سره همغږې شي؛
- د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د ښه پلیتوب په موخه باید د وړ او مجربو کارکوونکو په شمېر او د تخنیکي ظرفیتونو په کچه کې زیاتوالی راشي، او په ملي، ولایتي او سیمه ییزه کچه د تصمیم نیونې په پروسو کې باید دښځو د سازمانونو ونډه زیاته شي؛
- د هغو پروګرامونو د پېژندنې، ډیزاین او ورته د بودجې برابرولو په موخه، چې د ښځو بېلابېلو اړتیاوو ته ځواب وایي، د احصاییوي تحلیلونو او د جنسیتي درزونو او جنسیتي غښتلتیا د ټولنیزو او کلتوري پوهاویو زیاتوالی؛
- د مدني ټولنې د سازمانونو او شریکانو په ګډون، د مشارکتي پلان جوړونې پیاوړتیا او پرمختګ؛
- د افقي/ عمودي او بین سازماني همغږۍ میکانیزم باید پیاوړی شي، ترڅو جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه، د بودجې په ټولیز پلان او دوران کې پراختیا ومومي.

د ازادو بحثونو د ناستو په بهیر کې د مالیې وزارت استازي څرګنده کړه، چې دغه وزارت د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې له ترټولو مهمو ملاتړو اوهڅوونکو څخه دی: «په دې اړه زیاتې ناستې او بحثونه یې جوړ کړي او جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه د افغانستان لپاره له مهمو فکتورونه څخه دي، خو زیات وخت ته اړتیا ده، چې د پیاوړتیا په موخه یې، زیاتې سیاسي پاملرنې راجلبې شي». پر دې بنسټ، په افغانستان کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پروسې د چټکتیا په برخه کې راتلونکی ګام، د لا زیات سیاسي ملاتړ هڅول او په دې برخه کې د موجودو کړنلارو ښه والی دی. زیاترو مرکه شویو کسانو هوکړه لرله، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې لپاره، د سیاسي ارادې شتوالي ډېر اړین دی. تر دې هاخوا، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په ازادو بحثونو کې ګډونوالو پر دې په ټینګار سره، چې باید پر دولت د فشار د زیاتوالي په برخه کې، له جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې څخه ملاتړ او دفاع ډېر مهم دی.

په داسې حال کې، چې له دولت څخه نیولې بیا تر نړیوالې ټولنې او نادولتي موسسو پورې، په دې برخه کې د لوبغاړو دندې متفاوتې دي، خو هغه مهم لامل، چې کولی شي، جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د بریا لوړو ځوکو ته ورسوي، د همغږیو او همکاریو شتوالي دي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پلیتوب او د هغه د ابزارو منل، د پرمختیایي اهدافو او جنسیتي برابروالي د ترلاسه کېدو په برخه کې ډېر ارزښتناک دي.

لاندینې سپارښتنې، د مرکه شویو کسانو د موندنو او وړاندیزونو، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو د بحث ناستو او میزي څېړنې پربنسټ چمتو شوي، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د فکري تغذیې په برخه کې مهم ګڼل کېږي. دغه سپارښتنې، د عمده شریکانو په توګه مالیې وزارت، ښځو چارو وزارت او همدارنګه نړیوالې ټولنې ته د وړاندې کېدو په چوکاټ کې، د پنځه موضوعاتو په لړ کې، داسې وړاندې کېږي:

## ۵.۱ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق ستراتیژیک ارزښت

د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پرمخ وړاندې حرکت به په ملي، ولایتي او سیمه ییزه کچه د پالیسي جوړوونکو او چاراکو پوهاوي پایله وي. هغوی باید پر دې پوه شي، چې د عامه خدمتونو وړاندې کول او د پروګرامونو پراختیا په هغه صورت کې به اغېزناک وي، چې د ښځو او نارینه وو دواړو د بېلابېلو اړتیاوو او محدودیتونو پر بنسټ، طرح شي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ستراتیژیک کاري پلان، د هغو پالیسي جوړوونکو او فعالیتونو پایله ده، چې د مالیې وزارت یې په پوره ژمنتیا سره، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې، په ستراتیژیکه او اجرایي کچه وړاندې کوي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق د پیاوړتیا په موخه، دولتي ادارې باید د ملي بودجې د تدوین په برخه کې، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په پام کې نیسي، مسوول وګڼل شي. دغه چاره باید د جنسیت پر بنسټ څارنې او تفتیش په ترسره کېدو سره، تعقیب شي. دغه لړې باید د ولسمشر د یو حکم د صادرېدو پر بنسټ چې د بودجې کمېټې په کافي اندازه واک او اختیار سره ډنده ولري، ترڅو جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ته پاملرنه وکړي، پیل شي. د مالیې وزارت له ټولو دولتي ادارو څخه وغواړي، چې د اړتیا له مخې تګلارې او کړنلارې پر خپل ځای پلي او تعقیب کړي. دغه چاره کولی شي، د نوښتونو لپاره یوه مثبته انګیزه او یا د هغو ادارو لپاره له خبرداریو سره ملګرې وي، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په تړاو د خپلو مکلفیتونو او ژمنو په ترسره کېدو پاتې راغلي دي. د بودجې له اغېزمنتیا څخه دوامداره څارنه، چې د مالیې وزرارت له خوا ترسره کېږي، باید د جنسیتي برابروالي د پایلو په اړه پر یو الزامي او اړین راپور ته شامل شي.

په همدې حال، تراوسه په دې برخه کې ملاتړې، مثبت فشارونه او کړنلارې کافي نه دي. خپلواک بودجوي واحدونه، لا هم د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په برخه کې، ظرفیتونو ته اړتیا لري. د دندې د ترسره کېدو پرمهال، دوامدارې رزونې او زده کړې، په دې برخه کې له نورو مهمو ټکیو څخه دي. د اړتیا په صورت کې، باید یو شمېر کارپوهان وګومارل شي، ترڅو د جنسیتي تحلیلونو په ترسره کولو کې مرسته وکړي او په دې توګه د فعالیتونو، لاسته راوړنو او اغېزو جنسیتي اړخونه په ګوته شي.

د پلان جوړونې او بودجه جوړونې په برخه کې د اصلاحاتو له پروسو سره د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پروسې همغږې کول، له ډېر زیات ارزښت څخه برخمن دي. مرکه شویو کسانو په دې برخه کې د د افغانستان د حکومتولۍ غونډه (Govern۴Afg) په څېر د پالیسي جوړوونکو پلاټفورمونو د جوړېدو وړاندیز کړی دی، ترڅو د بین سکتوري پالیسیو د تدوین پروسو د پیاوړتیا لامل وګرځي.

## ۵.۲ د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې تخصصي کول

هغو کارکوونکو ته د ځانګړو روزنو د وړاندې کولو ترڅنګ، چې په مستقیمه توګه د بودجه جوړونې له چارو سره سر او کار لري، د علمي او ښوونیزو مرکزونو په تعلیمي نصاب او د ظرفیت جوړونې او رهبرۍ په روزنیزو ماډیولونو کې، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې موضوع شاملول به د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړوونکي د باثباته تخصصي کېدو او مسلکي کېدو په برخه کې یو ستراتیژیک ګام وي. په دې برخه کې د مشخصو پروګرامونو په لاره اچول، په ځانګړې توګه د ښځو او جنسیت د مطالعاتو په برخه کې د ماسترۍ پروګرام پیلول، لکه څرنګه چې او سمهال د عامه ادارې په برخه کې پیل شوی دی او همدارنګه د ملکي خدمتونو په انسټیټوت کې د نورو کورسونو په لارې اچول به هم مهمې او ارزښتناکې پایلې له ځانه سره ولري. د عامه ادارې د ماسترۍ په برنامه کې وړاندیز وشو، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې موضوع هم کېدای شي، د دغه برنامې د زده کوونکو لپاره یوه څېړنیزه موضوع وي او همدارنګه د امریکا د نړیوالې پرمختیایي ادارې د پروموټ پروګرام له هغه مشخص وړاندیز څخه مالي ملاتړ وکړ، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه د دغه کورس لپاره یو مضمون وي. دغه ټکي باید د دغو خپرونو له مرستندویانو او سمبالوونکو سره په همکارۍ، د ښځو چارو وزارت له خوا تعقیب شي. سربېره پر دې، د ښځو چارو وزارت او مالیې وزارت تر لارښوونې لاندې باید د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونکي کارپوهان د ټول هېواد په کچه په ګوته او نوملړ یې جوړ شي، ترڅو د اړتیا وړ برخو کې ترې کار واخیستل شي.

## ۵.۳ د پلان جوړونې او ارزونو لپاره شمېرې

د جنسيتي تفکيک د کمي او کيفي شمېرو او معلوماتو شتوالی، د هر جنسيتي تحليل په برخه کې ډېر ارزښتناک دي، چې دغه لړۍ بايد وده وکړي او بنسټيزه شي. بايد وويل شي، د عامه خدمتونو د وړاندې کېدو په تړاو د انګېرنو او د رضايت کچې په اړه او همدارنګه د جنسيتي توپيرونو او اړتياوو د غږيز تحليلونو د ترسره کېدو په موخه، بايد د کيفي او کمي شمېرو او معلوماتو چمتو کېدل، د لاسرسي وړ وي. د ښځو چارو وزارت بايد په مالي او تخنيکي امکاناتو سمبال شي او له هغو واکونو څخه برخمن وي، چې وکړای شي، د ښځو لپاره د کاري پلان د ارزونې له پروسې څارنه وکړي او د ښځو د وضعيت په تړاو پرمختګونو په اوږدمهاله او لنډمهاله توګه تعقيب کړي. د بيوزلۍ، د کار وېش او د پانګو او شتمنيو د وېش په تړاو د پروختنه سروې ګانو ترسره کول، هغه څه دي، چې د جنسيت پر بنسټ پلان جوړونې او سکتوري څارنې په برخه کې ترې کار اخيستل کېدای شي. د شمېرنو او معلوماتو د راغونډولو همداسې يو لړۍ د دې لامل ګرځي، ترڅو دغه معلومات، د شواهدو پربنسټ پروګرامونو د تطبيق په برخه کې، چې د ټولو شريکانو لپاره د لاسرسي وړ وي، د استفادې وړ وګرځي. د احصاييې مرکزي اداره او د هغه د جنسيتي احصاييې آمريت په دې برخه کې له مهمو شريکانو څخه ګڼل کېږي، چې د هغوی د ظرفيتونو پياوړتيا ته بايد پاملرنه وشي.

## ۵.۴ د ښځينه سازمانونو په شمېر کې زياتوالی

ښځې اړتيا لري، چې د ټولنيزو اصلاحاتو په لړ کې د رهبرۍ کچې ته لاره ومومي؛ هغه څه چې د ټولنې پر ټولو برخو باندې اغېزه لري. په مرکزي، ولايتي او سيمه ييزه کچه په اړوندو ادارو کې د ښځو د ګډون او استازيتوب پياوړتيا به د دې لامل شي، چې عامه لګښتونه تر ډېره د ښځو د لومړيتوبونو او اړتياوو منعکسوونکي وي. د ښځو د کاري شرايطو د ښه والي په برخه کې د دولت موخې په ځانګړې توګه په امنيتي ځواکونو کې او له ځورونو سره د مبارزې مقررې صادرول، مخ پروړاندې ګامونه ګڼل کېږي. له هغه ځايه، چې د جنډر واحدونو او ښځينه کارکوونکو مسلکي ظرفيتونه زياتره تر نيوکې لاندې راغلي، له دې امله، د ظرفيت جوړونې او څارنيزو اوږدمهالو خپرونو د جوړولو اړتيا ليدل کېږي، ترڅو د هغوی د تخصص او وړتيا د زياتوالي لامل شي او همدا راز له هغوی سره مرسته وکړي، چې د نرواکی ملکي خدمتونو په سلسله مراتبو کې، د ځان لپاره يو مسير وټاکي. پرمختللې او مسلکي پوهه، تر ډېره د هغو استدلالونو د شنډولو په موخه مهم ګڼل کېږي، چې ګواکې د ښځو د زده کړې ټيټه کچه، د دې لامل ګرځېدلې، چې هغوی لوړو مقامونو ته لاره و نه مومي. په ورته وخت کې، د ملکي خدمتونو په سيستم کې لوړو مقامونو ته د رسېدو په موخه، د تحصيلي سندونو لرل او له پوهنتون څخه فراغت هم مهم شرط ګڼل کېږي. دغه څه د ترلاسه کېدو په موخه، د دندې پرمهال د روزنيزو کورسونو او د بورسيو چمتو کول، ډېر مهم دي.

## ۵.۵ د نادولتي شريکانو برخه اخيستنه

د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې بريالي پليتوب، يوازې د دولتي لوبغاړو پر فعاليتونو متکي نه دي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې وضعيت او موجودو فرصتونو ته په پام سره، دا هم ډېر مهم دی، چې د دولتي سکتورونو او مدني ټولنې د سازمامونو پر ډله ييزو هڅو ټينګار وشي، ترڅو په ټوله کې، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه تطبيق او د اجرا مرحلې ته وړاندې شي. د مدني ټولنې او د پارلمان د غړو بسيجول، د هغو مواردو له جملې څخه دي، چې ان دولتي چارواکو يې غوښتنه کړې ده. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې يوه ملاتړه تګلاره بايد ، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې او کلنۍ بودجې د دوران په اړه، د پارلمان غړو ، مدني ټولنې، خبريالانو او نړيوالو مرستندويانو ته د پوهاوي وړاندې کول وي. د بودجې په اړه معلومات بايد د لاسرسي وړ وي او همدارنګه په بودجوي بهير لکه د مشارکتي پلان جوړونې، استماعيه او سلا مشورې غونډو کې، د مدني ټولنې د برخه اخيستو په موخه زيات ميکانيزمونه موجود وي. په ښځو پورې اړوندې ډلې او د بشري حقونو سازمانونه هم په دې برخه کې له پياوړو څارنيزو شريکانو څخه ګڼل کېږي. د دغو ټولو په منځ کې، د پارلمان غړي د ملي بودجې د تصويب په برخه کې مهمه ونډه ادا کوي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د اغېزو په تړاو د پوهاوي د زياتوالي په موخه، د پارلمان د ښځو چارو له کمېټې څخه ملاتړ او د بودجې له کمېټې سره لابينګ يا تبليغات ، هغه څه دي، چې کولی شي، د داسې جنسيتي ځواب ويونکي بودجه جوړونې لامل شي، چې تر ډېره جنسيتي ځواب ويونکي وي. د پارلمان د غړو او کارکوونکو د لا ښه پوهاوی هڅې او له جنسيتي ليد څخه د بودجې د څېړلو په موخه، هغوی ته د اړينو امکاناتو ، معلوماتو او احصاييو وړاندې کول، کېدای شي، له برياليتوبونو ډکې پايلې له ځانه سره ولري.

## ۵.۲ ماليې وزارت ته

موږ د څېړنو، مرکو او ازادو بحثونو پر بنسټ، لاندې سپارښتنې ماليې وزارت ته وړاندې کوو:

- د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د راتلونکې پلان او مفهومي چوکاټ په اړه، د ماليې وزارت د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې ستراتيژيک پلان، بايد د دولتي چارواکو، د پارلمان غړو او مدني ټولنو د پوهاوي لپاره په ملي او نړيواله کچه په لاره واچول شي.
- د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه بايد يوه ټولګه چمتو، ولسمشر، کابينې او پارلمان ته وړاندې شي.
- د اصلاحاتو د کمېټې له غړو سره په همغږۍ سره، چې ماليې وزارت، د ښځو چارو وزارت، د ولسمشرۍ دفتر د چارو ادارې عمومي رياست، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون، د احصاييې مرکزي ادارې، خپلواک بودجوي واحدونه، د پارلمان غړي، نادولتي موسسې او نړيوال مرستندويان لکه نړيوال بانک، د امريکا د نړيوالې پرمختيايي ادارې او د بريتانيا د نړيوالې پرمختيا ډيپارټمنټ پکې شامل دي، د عامه مالي مديريت د اصلاحاتو په اجنډا کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې مدغمول.
- تګلارېز پلان بايد دغه لومړيتوبونو ته په پام سره د اجرا وړ وګرځي:
    - په دې برخه کې نورې هڅې، ترڅو د ښځو چارو وزارت د بودجې کمېټې فعال غړی شي؛
    - په لوړه کچه د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د يوې کمېټې رامنځته کول؛
    - د ماليې وزارت د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې له ځانګې سره تعامل او دغه ځانګې ته د معلوماتو وړاندې کول او د واکونو ورکړه؛
    - د بودجې په متحدالمالونو کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د کړنلارو زياتول؛ او
    - د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د صورت حساب چمتو کول.
- د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې ازمايښتي پروګرام ته بايد بياکتنه وشي، ترڅو د دغه پروګرام د پراختيا په موخه، محدوديتونه او ننګونې په ګوته او ورته رسېدنه وشي. اړينه ده، چې داسې يوه کړنلاره په ګوته او وسنجول شي، چې په لړ کې يې، د جنسيتي برابروالي د تخصصيونو لپاره د بدلونونو په برخه کې اغېزناکه وي، او همدارنګه د دغو بدلونونو پايلې نندارې ته کېږدي.
- د بودجوي پروسې او د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه معلومات بايد د لاسرسي وړ وګرځول شي، او د اړوندو واحدونو (جنډر، پلان جوړونې، بودجه جوړونې او څارنې) لپاره د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې روزنيز پروګرامونه بايد بېرته له سره پيل شي او دغه لړۍ ورپسې په ولايتي رياستونو کې تعقيب شي. د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې لارښود او معلومات پانه، چې د سولې او دموکراسي لپاره سازمان له خوا برابر شوي، بايد د بودجې د پلان جوړونې د يوې وسيلې په توګه د ماليې وزارت له خوا خپلواکو بودجوي واحدونو او نورو دولتي ادارو ته ورو پېژندل شي.
- د ولايتونو د بودجه جوړونې په پاليسيو کې بايد د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په اړه يوه مشخصه کړنلاره اضافه شي.
- د جنسيت ليد بايد د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې په پروسه کې پراختيا ومومي او همدارنګه جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه بايد د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونې په روزنيزو پروګرامونو او لارښود کې ورزياته شي.

## ۵.۷ د ښځو چارو وزارت ته

موږ د څېړنو، مرکو او ازادو بحثونو پر بنسټ، لاندې سپارښتنې د ښځو چارو وزارت ته وړاندې کوو:

- د دغه وزارت رهبري بايد پرېکړه وکړي، چې د ياد وزارت کوم معينيت د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې چارې سمبال او په دې برخه کې له ماليې وزارت سره د همغږۍ په برخه کې کار وکړي.
- د دې اړتيا ده، چې د ښځو چارو وزارت دغه غوښتنه تعقيب شي، چې دغه وزارت د بودجې په کميټه کې د اوسني ناظر غړي له کچې څخه د يادې کمېټې دايمي او بشپړ غړيتوب ته پرمختګ وکړي، ترڅو د بودجې په کميټه کې د نظر د څرګندولو او رايې کارولو له واک څخه برخمن شي.
- د ښځو چارو په وزارت کې بايد د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې په تړاو يو مسووليت پذير ټيم شتون ولري او دغه ټيم د جنډر د ځانګو، ماليې وزارت، اقتصاد وزارت، د احصاييې مرکزي ادارې، د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو د کمېسيون، د امتحاني وزارتونو له استازو جوړ يو کاري ډلې څخه جوړ او سمبال شي. دغه ډله بايد د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه کارونه وارزوي او د سکتورونو په دننه د پلان جوړونې، بودجه جوړونې او جنډر ځانګو ترمنځ همغږۍ رامنځته کړي.
- خپلواکو بودجوي واحدونو ته د جنسيتي تحليلونو په وړاندې کېدو سره لارښوونه او ترې ملاتړ وشي.
- د ښځو چارو وزارت بايد د ښځو له نادولتي سازمانونو، مدني ټولنې او د پارلمان له غړو سره همغږۍ رامنځته کړي، ترڅو له جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې څخه يو حمايتي او مشخصه دفاعي کړنلاره رامنځته شي.
- د ښځو چارو وزارت بايد د مشخصو پروګرامونو د وړانديز او د ښځو لپاره د ملي کاري پلانونو (NAP ۱۳۲۵, WEEA) پورې اړوندو پروګرامونو د مالي تمويل لپاره لابينګ يا تبليغات وکړي.
- د ښځو چارو وزارت بايد د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسيون د جنډر له رياست سره مرسته وکړي، ترڅو د جنډر ځانګو په وضعيت کې ښه والي رامنځته او د هغوی واکونه زيات شي. د کابينې په کچه د جنډر کمېټه (چې د ولسمشر له خوا به رامنځته او لارښوونه وشي) په دې برخه کې مهم او کليدي شريک وي.
- د دولت، مرستندويانو او مدني ټولنې ترمنځ بايد د همغږۍ يو ميکانيزم رامنځته شي، ترڅو په جنسيت پورې اړوند طرحونه او پروګرامونه پلانونه او تعقيب کړي. دغه چاره ممکن د ښځو لپاره د ملي کاري پلان په تړاو د راپور ورکولو د پياوړتيا لامل شي.

## ۵.۸ نړيوالې ټولنې ته

موږ د څېړنو، مرکو او ازادو بحثونو پر بنسټ، لاندې سپارښتنې نړيوالې ټولنې ته وړاندې کوو:

- نړيوالې ټولنه کولی شي، د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونه پروسه، په نورو بېلابېلو برخو کې له نورو اصلاحاتي لړيو سره همغږي کړي. نړيوال بانک د بريتانيا د نړيوالې پرمختيا له ډيپارټمنټ سره په همکارۍ خپله چمتووالي ښودلې، ترڅو د مالي عامه مديريت د اصلاحاتو په پروسه کې د جنسيتي ځواب ويونکې بودجه جوړونې د پروسې له مدغمولو څخه تخنيکي ملاتړ وکړي.
- نادولتي موسسې بايد خپلو تخنيکي او مالي ملاتړو ته دوام ورکړي، ترڅو ملي بودجه او د لګښتونو تعقيب تحليل شي او همدارنګه جنسيتي شنني او عامه مالي مديريت په برخه کې د ظرفيت له پراختيا څخه ملاتړ وکړي
- بايد د جنسيتي تفکيکي معلوماتو او احصاييو د چمتو کېدو په برخه کې مالي مرستې وشي او په دې برخه کې سروې ګانې ترسره شي.

- د جنسیتي مسایلو د تعقیب سیستمونه باید پیاوړي او پراخ شي، لکه له جنسیتي برابروالي او د ښځو له ځواکمنتیا څخه د ملاتړ په موخه د پروګرامونو په اړه د اغېزناکو شننو شتوالی.
- نړیواله ټولنه په سیمه ییزه کچه، د جنسیت پر بنسټ او مشارکتي پلان جوړونې او د څارنیزو پروسو په اړه د انګیزو د رامنځته کېدو په تړاو، باید په سیمه ییزه کچه له دولتي ادارو او جوړښتونو سره یوځای کار وکړي.
- جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه باید د اجنډا د یوې موضوع په توګه، د مرستندویانو په میکانیزم کې ځای پرځای شي، په داسې حال کې، چې د بودجې او له بودجې څخه بهر د مرستو په تمویل کې د جنسیت د تعقیب لړۍ باید پیاوړې شي.

# ضمیمې

## ۱ضمیمۀ: د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د همکارو مرکه شویو کسانو لړلیک (کابل، اپریل او می ۲۰۱۵)

| | موقعیت | په جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه کې شریکان |
| --- | --- | --- |
| مالیې وزارت | الف) د بودجې عمومي رییس. ب) د بودجې د پالیسي کارپوه. ج) د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې کارپوه (GRB) | د مالیې وزارت د بودجې عمومي ریاست د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام سره یوځای په مستقیمه توګه د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د کړنلارو او ستراتیژیو د تدوین په برخه کې کار کوي. له مالیې وزارت څخه مرکه شوی کس وویل، چې مالیې وزارت کله چې د بودجې له متحد المالونو سره جوخت دغه کړنلارې صادروي، له خپلواکو بودجوي واحدونو څخه د پروژې په اړه د مفهومي یادښت غوښتنه کوي، چې په روښانه توګه د پروژې د ګټه اخیستونکو په اړه معلومات وړاندې کړي. دوی د پروګرامونو او پروژو د ډلبندي پرمهال، جنسیتي برابروالي او همدارنګه محروم قشرونه لکه ماشومانو ته پاملرنه کوي. دا ډېره مهمه ده، چې هغوی ته د مالکیت او دا چې په پرمختیایي موضوعاتو او مطالعاتو کې به ګډون ولري، احساس وړاندې شي. |
| د ښځو چارو وزارت | الف) د وزارت معین، ب) د پلان جوړونې رییس | له هغه ځایه، چې د ښځو چارو وزارت، چې د ښځو لپاره د ملي کاري پلان د پلیتوب او څارنې په برخه کې مسوول دی، باید د جنسیت او په ښځو پورې اړوندو موضوعاتو په تړاو د پالیسي جوړوونکو بحثونو رهبري وکړي. له هغه ځایه، چې په دغه وزارت کې تراوسه پورې په دې کومه هوکړه شتون نه لري، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د کوم معینیت دنده او مسوولیت دی، نو دغه وزارت پر دې نه دی توانیدلی، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې پروسه تعقیب او پرمخ یوسي. |
| د ولسمشرۍ دفتر د چارو اداري عمومي ریاست | الف) د پالیسۍ او ستراتیژیکې پلان جوړونې معینیت، ب) د ولسمشر د ځانګړو پروژو مدیر | ښځې، ځوانان او د بیوزلۍ د کچې ټیټوالی، د ولسمشر له لومړیتوب لرونکو موضوعاتو څخه دی؛ لکه څرنګه چې نوموړی په خپل وار، د جنسیت د پالیسي دیپارتمنټ رامنځته کړ. سربېره پر دې، ولسمشر د ټولو ولایتي او سکتوري پرمختیایي پروګرامونو د څېړنې په حال کې دی او ان د اغېزمنتیا پر بنسټ بودجه جوړونې تعقیبوي. د بحثونو په لړ کې، یو تن مرکه شوی، وړاندیز وکړ، چې د ولایتي پرمختیایي پلانونو د تحلیل پرمهال، باید د جنسیت لیدلوري پرې ورزیات شي. هغه زیاته کړه، چې باید د جنسیت په تړاو د معلوماتو یوه ټولګه چمتو او ولسمشر ته وړاندې شي. دغه دفتر او سمهال، د ولسمشر د ځانګړو پروژو د پلیتوب په ځانګړې توګه په کابل کې د ښځو لپاره د ځانګړې پوهنتون جوړولو په لټه کې دی، چې د ترکیې له خوا تمویلېږي. |
| اقتصاد وزارت | د پالیسۍ او له پایلو څخه د څارنې عمومي رییس | اقتصاد وزارت د خپل ۱۰۰ ورځنی پلان په چوکاټ کې د بیوزلۍ د کچې د ټیټوالي په اړه یو راپور چمتو کړ. په مرکو کې یو تن ادعا وکړه، چې د وزارتونو د سکتوري ستراتیژیو پلیتوب، د جنسیت له پراختیا سره همغږي نه دي. هغه زیاته کړه، چې د ښځو پرحقونو د تمرکز پرځای باید د ښځو پر اقتصادي ځواکمنتیا کار وشي. د ده په وینا، په روان مالي کال کې د پروګرامونو د غوراوي پرمهال، جنسیت د هغو شاخصونو له جملې و، چې د امتیاز اخیستنې او نومرې ورکولو لپاره ترې کار اخیستل کېږي. |
| د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون | الف) د پروګرامونو د طرحې او اجرااتو رییس، ب) د جندر د څانګې رییس. | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون د عامه مالي مدیریت د لارې نقشې په تړاو له مالیې وزارت سره یوځای کار کوي. جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه باید په دې برخه کې یوه موضوع وي، خو اوسمهال په لومړیتوب کې قرار نه لري. وړاندیز وشو، چې د اداري اصلاحاتو د جنډر ریاست، چې د جنډر د نورو واحدونو لپاره د مور په توګه ترې یادونه کېږي، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په طرحونو او نوښتونو شامل کړای شي. د دغه کمیسیون د جندر رییس دې ته لېوالتیا لري، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په پروسه کې ګډون ولري، خو اوسمهال پکې شامل نه دی. |

| | | |
|---|---|---|
| د احصاییې مرکزي اداره | د عمومي رییس مرستیال | د احصاییې مرکزي ادارې په دې وروستیو کې د جنسیت د احصاییې څانګه رامنځته کړه. دغه څانګه تر هغه ځایه، چې شونې وي، د جنسیتي تفکیک په اړه شمېرې او معلومات برابروي، خو تمه کېږي، چې تر دې هم فعاله وي، په ځانګړې توګه د جنسیت پر بنسټ معلوماتو د تحلیل او شننې په برخه کې. ولسمشر په کابینه کې د دغه ادارې په شاملولو سره، د یادې ادارې ارزښت او ونډه نوره هم زیاته کړه. |
| د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره | د پالیسۍ او پلان جوړونې رییس | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره او سمهال د سیمه ییزې پلان جوړونې پر ستراتیژۍ او د ولایتي بودجه جوړونې پر اصلاحاتو کار کوي. جنسیتي بودجه که څه هم یوه مشترکه موضوع ګڼل کېږي، خو تراوسه پورې په کړنلارو او پالیسیو سره نه ده تعقیب شوې. مرکه شویو وړاندیز وکړ، چې دوی ته باید نور امکانات په واک کې ورکړل شي، ترڅو دوی جنسیتي پلان جوړونه او بودجه جوړونه، په سیمه ییزه کچه د پلان جوړونې په ستراتیژۍ کې شامله کړي. |
| د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | الف) د کرنې وزارت په مالي ریاست کې د جنسیتي بودجه جوړونې د دفتر آمر، ب) د ولایتي پلان جوړونې آمر، ج) د جندر څانګې آمر | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، په تېر کال د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق لپاره یوه امتحاني اداره وه. مرکه شویو کسانو وویل، چې د مالیې وزارت په دې برخه کې د دې پرځای، چې پیاوړې کړنلارې وړاندې کړي، ترڅو وزارتونه دې ته مجبوره کړي، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه تعقیب کړي، داسې کړنلارې وړاندې کوي، چې د هغه د پلیتابه لپاره نور هم ستونزمنوي. دوی همدا راز پر دې باور دي، چې پیاوړې څارنیزې او د ارزونې سیستم کولی شي، په دې برخه کې ګټور ثابت شي؛ هغه څه چې تراوسه پورې نه ترسترګو کېږي. |
| د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت | د جندر څانګې آمر | دغه وزارت د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق په امتحاني پروګرام کې شامل دی. یاد وزارت، له پروګرامونو څخه د ګټه اخیستونکو د جنسیتي تفکیک د احصاییو او معلوماتو د برابرولو په حال کې دی. په دغه وزارت کې د جنډر څانګې لپاره بودجه په پام کې نیول شوې ده، خو دغه څانګه، د سکتوري پلان جوړونې په برخه کې د مشورې د وړاندې کولو واک او صلاحیت نه لري. |
| د پوهنې وزارت | د جندر څانګې امر | که څه هم د پوهنې وزارت د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د پلیتوب په ازمایښتي پروګرام کې شامل دی، خو دغه وزارت جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه نه ده کړې. |
| د سولې او دموکراسي لپاره د برابرۍ سازمان | د ادارې رییس | د سولې او دموکراسۍ لپاره د برابرۍ سازمان، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د لارښود په تدوینولو سره، په دې برخه کې روزنیزې برنامې وړاندې کړې ده. له دغه سازمان څخه مرکه شوي د پروګرام پر بنسټ د ولایتي بودجه جوړونې سره، د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د همغاړې کېدو پر اړتیا ټینګار وکړ. |
| د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام | د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د (GEP) پروژې د پالیسۍ او پلان جوړونې کارپوه | له دغه سازمان څخه مرکه شوی شخص، په وزارتونو کې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق د ازمایښتي پروګرام له غړو څخه دی.<br>په دې وروستیو کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر او د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د پروژو د همغږۍ او د عملیاتونو د ساده کولو په موخه یو پریکړه لیک لاسلیک کړ. د دغه پروګرام په لړ کې، یوه ازمایښتي خپرونه پلې شوه، چې د افغانستان د څارنیزې پروسې د پیاوړتیا په موخه او د ښځو لپاره د ملي کاري پلان په اړه د راپور ورکولو په برخه کې، د دوه ګونې څارنیز ډیټابیس پیاوړی کړ. |
| د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر | د هېواد د استازي مرستیال | له دغه سازمان مرکه شوی وویل، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په اړه باید پالیسي جوړوونکي بحثونه ترسره شي. |
| نړیوال بانک | د مالي چارو د مدیریت کارپوه | له دغه ادارې څخه مرکه شوي وړاندیز وکړ، هر کله چې د مالیې وزارت، په عامه مالي مدیریت کې د اصلاحاتو د ترسره کېدو په تړاو خپله لېوالتیا ښیي، نو د نړیوال بانک او د بریتانیا د نړیوالې پرمختیا دیپارتمنت له خوا یې ملاتړ کېږي. جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه باید د افغانستان لپاره د وجهي صندوق کاري ډلې ته هم وروپېژندل شي. |
| د کاناډا سفیر | سفیر | سفیر وړاندیز وکړ، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې باید د افغانستان لپاره د نظم او قانون په وجهي صندوق کې هم شامل کړای شي، ترڅو په امنیتي سکتور د جنسیتي برابروالي په برخه کې زیات فعالیت ترسره شي. |

| | | |
|---|---|---|
| د فنلنډ سفارت | د جنسیت د څانګې مسوول | له دغه سفارت څخه مرکه شوې وړاندیز وکړ، چې د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې په اړه باید نړیوالو کاري او همغږي کوونکو ډلو ته زیات معلومات وړاندې شي. |
| د امریکا نړیوالې پرمختیایي اداره (USAID) | الف) د جنسیت سلاکار<br>ب) د جنسیت د سلاکار مرستیال | مرکه شوي وړاندیز وکړ، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه باید د نړیوالو ډونرانو ترمنځ مروجه شي. نوموړي همدارنګه یادونه وکړه، چې مرستندویان د کیفي تغییراتو پرځای باید پر کمي تغییراتو تمرکز وکړي. |
| د امریکا د نړیوالې پرمختیایي ادارې د ښځو د رهبرۍ د پروموټ پروګرام | د څانګې رییس مرستیال | مرکه شوي وړاندیز وکړ، چې جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونه او ملي بودجه جوړونه باید د رهبرۍ د ارتقا په روزنیزو پروګرامونو کې شامل کړای شي. |
| د کانونو او پترولیم وزارت | د ( GIZ ) پروګرام مدیر | د جرمني د نړیوالو همکاریو ادارې ( GIZ )، د کانونو او پټرولیم وزارت د ښځینه کارکوونکو د کاري ظرفیتونو د لوړاوي په موخه، په دغه وزارت کې یو روزنیز پروګرام په لاره اچولی دی. دغه پروګرام په روان کال کې د ( GIZ ) له خوا تمویلېږي او تر هغه وروسته به د تمویل چارې یې د یاد وزارت پر غاړه وي. |
| د GIZ د سیمه ییز ظرفیت پرمختیایي صندوق | د جنډر له سلاکار سره متمرکز ډله ییز بحث | په ښځو پورې اړوندې پروژې د ( GIZ ) له خوا تمویلېږي؛ له دې پرته به دا ډېر ستونزمن وي، چې هغه ته بودجه ځانګړې شي. مرکه شویو کسانو پر دې ټینګار وکړ، چې دغه چاره څومره ستونزمنه ده، ترڅو په سیمه ییزه پلان جوړونه کې د ښځو معنالرونکې برخه اخیستنه شونې شي. |
| د ښاروالیو د چارو عمومي رییس | د جنډر له سلاکار سره متمرکز ډله ییز بحث | پر دې ټینګار شوی، چې په سیمه ییزه کچه په ښځو پورې د اړوندو پروژو د تمویل لپاره د بودجې موندل څومره ستونزمن دی. دوی د ښاروالیو بودجې د دوران لپاره د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه پالیسي پر پراختیا ټینګار لري. |

## ۲ضمیمه: د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې ابزار

د ملي پالیسۍ او د بودجې پروسې تنظیم چارې کولی شي، پر پرمختیایي پایلو اغېز ولري. د ښځو لپاره د فرصتونو او امکاناتو محدودیت ته په پام سره، د مدني ټولنې او د ښځو سازمانونو ته په کار ده، چې د بودجه جوړونې په پروسو کې فعاله ونډه ولري، ترڅو دغه چاره ډاډمنه شي، چې د بودجه جوړونې په دوران کې د جنسیت لید په پام کې نیول کېږي. د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې د تطبیق پروسې ته کولی شي، د ټولنیز تغییر لپاره د یو تګلارې په توګه هم کتنه وکړو، خو په ټوله کې، پنځه لاندیني ابزار د هغه د بریا او د پلیتوب د سنجولو لپاره مهمې کړنلارې دي.

**د جنسیتي ځواب ویونکې بودجه جوړونې صورت:** دولت باید د کلنۍ بودجې په سند کې، په ټول عامه سکټور کې د یو شمېر وزاتونو او ریاستونو لپاره ځانګړې شوې بودجه وارزوي، ترڅو دغه تحلیل ترلاسه شي، چې د دغه بودجې لګښت، پر جنسیتي برابروالي څرنګه اغېز کوي.

**د جنسیت د تفکیک په پام کې نیولو سره د ګټه اخیستونکو ارزونه:** اوسني فعلي او بالقوه ګټه اخیستونکي هم ښځې او هم نارینه د پالیسیو او دولتي پروګرامونو د اغېزو په تړاو، چې دغه پالیسۍ او پروګرامونه تر کومه بریده د هغوی د اړتیاوو او لومړیتوبونو ځواب ویونکي دي، باید سروې شي. په دې برخه کې مهمې پوښتنې دا دي: د ښځو او نارینه لید د هغو عامه خدمتونو په تړاو، چې څرګندوي چې ترې ګټه اخلي، څرنګه دي؟ په عامه زیربناوو کې د پانګونې په لړ کې د دوی اړتیاوو ته څرنګه رسېدنه کېږي؟


**د جنسیت تفکیک ته په پام سره، د عامه لګښتونو تحلیل:** کله چې عامه لګښتونه د یو ځآنګړي پروګرام لپاره پرتله کېږي، نو د جنسیت پر بنسټ د بودجې د وېش مسله مشخص کېږي. د بېلګې په توګه، د زده کړې د ځانګې لپاره لګښتونه چې موږ کولی شو وګورو، چې ښځې او نارینه څرنګه له دې بودجې څخه برخمن کېږي.

**د جنسیت تفکیک ته په پام سره، د وخت په کارولو سره د بودجې د اغېزو تحلیل:** د بې مزدو کارونو د ترسیم په موخه د تګلارې په توګه، دغه موضوع ښځو او نارینه وو ته په پام سره، د وخت لګښت ته هغه مهال پاملرنه کوي، چې په کورنۍ کې مصرفېږي، ترڅو دغه ډاډ ترلاسه شي، چې د پالیسۍ د تحلیل په موخه بې مزده کار محاسبه کېږي.

**د جنسیت په اړه د پوهاوي د اقتصادي پالیسۍ منځمهاله چوکاټ:** د دې په اړکل سره، چې پالیسۍ د ((ناپیلي جنسیت)) د رامنځته کېدو لامل ګرځي، دغه ابزار هغه کړنلارې ته پاملرنه کوي، چې په لړ کې یې پالیسۍ، د جنسیتي نابرواوالي د کچې د ټیټوالي یا زیاتوالي لامل ګرځي.

## ۳ ضمیمه: د بودجې پلان جوړوونکې

د ملي بودجې تقویم یا مهالنی جدول، چې د بودجې د تدوین لپاره د کلیدي او مهالني میعاد د فعالیتونو ټولګه ده، د مالیې وزارت په ویبپاڼه کې خپور شوی دی.[55]




---

۵۵. مالیې وزارت، «د ۱۳۹۲ مالي کال لپاره د ملي بودجې تقویم»، http://www.budgetmof.gov.af/images/ stories/DGB/BPRD/Budget/Plannner%Planner%۲۰۱۳۹۲/۲۰۱۳۹۲%English-Planner.pdf (د ۲۰۱۲ ز. کال د مې پر ۱۰ مه ورته لاسرسی وشو).

# اخځونه

"10 of the Most Dangerous Countries to be a Woman." The New Economy, 17 June 2014. http://www.theneweconomy.com/insight/10-of-the-most-dangerous-countries-to-be-a-woman ( accessed 21 August 2015).

"Afghan Women: Comprehensive Assessments Needed to Determine and Measure DOD, State, and USAID Progress." Audit Report, Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction, 2014.

Byrd, W. and Payenda K. "Afghanistan's Revenue Turnaround in 2015." Washington, DC: United States Institute of Peace, 2016.

Combaz, E. "Impact of Gender-Responsive Budgeting." GSDRC Helpdesk Research Report No. 977, Governance and Social Development Resource Centre, 2013.

Council of Europe. "Information Document on Gender Budgeting." DG II (2004) 5, Strasbourg.

Department for International Development. "Tackling Barriers to Education for Afghan Girls." https://dfid.blog.gov.uk/2014/07/16/tackling-barriers-to-education-for-afghan-girls (accessed 15 October 2015).

Echavez, Chona R., SayedMahdi Mosawi and Leah Wilfreda Re Pilongo. "The Other Side of Gender Inequality: Men and Masculinities in Afghanistan." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit and Swedish Committee for Afghanistan, 2016.

"Education and Healthcare at Risk: Key Trends and Incidents Affecting Children's Access to Healthcare and Education in Afghanistan." Kabul: United Nations Assistance Mission in Afghanistan and United Nations Children's Fund, 2016.

Equality for Peace and Democracy. "Afghanistan Gender Equality Report Card: Evaluating the Government of Afghanistan's Commitments to Women and Gender Equality. Kabul: Equality for Peace and Democracy, 2014.

"Gender Equality Project: 2013 Annual Project Progress Report." New York: United Nations Development Programme, 2013.

Government of Afghanistan. "Gender Responsive Budgeting (GRB) Strategic Action Plan: Integrating GRB into the National Budget." Kabul: Ministry of Finance, 2015.

Government of Afghanistan. "National Budget Document: Fiscal Year 1395." Kabul: Ministry of Finance, 2016.

Government of Afghanistan. "100 Days Plan." Kabul: Ministry of Finance, 2015.

Government of Afghanistan. "Afghanistan's National Action Plan on UNSCR 1325-Women, Peace and Security, 2015-2022." Kabul: Ministry of Foreign Affairs, 2015.

Government of Afghanistan. "Self-Reliance through Mutual Accountability Framework." Kabul: Government of Afghanistan, 2015.

Government of Afghanistan. "Women and Men in Afghanistan in 2011." Kabul: Central Statistics Organisation and Ministry of Women's Affairs, 2012.

Holmes, R., R. Slater, A. Acker and A. Berezovskaja. "Gender-Responsive Budgeting in Fragile and Conflict-Affected States: A Review." Working Paper 17, Secure Livelihoods Research Consortium, Overseas Development Institute, London, 2014.

"Increasing Accountability in Financing for Gender Equality." Programme Brief, UN Women, 2015.

Ministry of Finance. "National Budget Timetable for the Fiscal Year 1396." http://www. budgetmof.gov. af/images/stories/DGB/BPRD/Plannner/Budget%20Planner%201396/EnglishPlanner%201396.pdf (accessed 10 May 2016).

"National Action Plan for the Women of Afghanistan (NAPWA), 2008-2018." Kabul: Ministry of Women's Affairs, 2008.

Nijat, Aarya. "Afghanistan's New First Lady." Foreign Policy, 9 October 2014. http://foreignpolicy.

com/2014/10/09/afghanistans-new-first-lady (accessed 2 August 2015).

OECD Development Centre. "Social Institutions & Gender Index: 2014 Synthesis Report". Paris: OECD Development Centre, 2014.

Office of the President. "President Ghani: Afghan Women Play Genuine Role in Peace Negotiations." http://president.gov.af/en/news/48919, 30 June 2015 (accessed 3 March 2016).

O'Hagan, Angela. "Gender Budgeting as Feminist Policy Change: Framework of Favourable Conditions." http://www.wu.ac.at/fileadmin/wu/d/i/vw3/Session_6_O_Hagan_Presentation. pdf (accessed 15 July 2015).

Organisation for Economic Co-Operation and Development (OECD). "From Commitment to Action: Financing Gender Equality and Women's Rights in the Implementation of the Sustainable Development Goals." OECD DAC Network on Gender Equality, 2015.

Popal, S. "Making Budget Accountable, Transparent and Participatory in Afghanistan." Policy Brief, Integrity Watch Afghanistan, 2015.

Promote Afghan Women. "Opportunities: About Promote." https://promoteafghanwomen.org/ en/about-us/about-promote (accessed 1 November 2015).

"Public Financial Management Act: Acts Supplement No. 2." The Uganda Gazette, No. 11 Volume CVIII, 6 March 2015, Government of Uganda.

"Realizing Self-Reliance: Commitments to Reforms and Renewed Partnership." Presentation, London Conference on Afghanistan, 4 December 2014.

Schneider, K. "Manual for Training on Gender Responsive Budgeting." Eschborn: Deutsche Gesellschaft für Technische Zusammenarbeit, 2006.

Shaheer Anil, Ahmad, Melike Karlidag and Saeed Parto. "Implementation of the National Action Plan for Women in Afghanistan: An Assessment." Kabul: Afghanistan Public Policy Research Organization, 2014.

Sharp, R. "Budgeting for Equity: Gender Budget Initiatives within a Framework of Performance Oriented Budgeting." New York: UNIFEM, 2003.

United Nations. "Addis Ababa Action Agenda of the Third International Conference on Financing for Development." New York: United Nations, 2015.

United Nations. "Report of the UN Economic and Social Council for 1997." A/52/3, 18 September 1997.

United Nations Assistance Mission in Afghanistan. "Afghanistan Annual Report 2015: Protection of Civilians in Armed Conflict." Kabul: United Nations Assistance Mission in Afghanistan, 2016.

United Nations International Children's Emergency Fund, "Country Programme Action Plan 20152019 ". United Nations International Children's Emergency Fund, 2014.

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs. "2016 Humanitarian Needs Overview. Afghanistan." New York: United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs, 2015.

UN Women. "Financing for Gender Equality." http://gender-financing.unwomen.org/en/aboutus (accessed 14 August 2015).

World Bank. "Afghanistan: Emerging from Transition." 4-5 September 2015, Senior Officials Meeting, World Bank Group.

World Bank. "Gender Community of Practice for Finance Ministers." http://www.worldbank. org/en/topic/gender/gender-equality-community-of-practice-for-finance-ministers (accessed 4 April 2016).

World Bank. "Women's Role in Afghanistan's Future: Taking Stock of Achievements and Continued Challenges." Washington, DC: World Bank, 2014.

World Bank. "World Development Report 2012: Gender Equality and Development." Washington, DC: World Bank, 2012.

# ستاسو وړاندیزونه او لیدلوري

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دې ته لېواله ده، ترڅو د دغه سازمان له څېړنیزو سرچینو څخه د ګټه اخیستونکو په توګه ستاسې له وړاندیزونو او لیدلورو څخه ګټه واخلي. تاسې که زموږ دایمي لوستونکي یاست او یا که د دغه سازمان په کوم کنفرانس یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی وي، یا دا چې نوی له دې سازمان سره اشنا شوي یاست او له کتابتون څخه یې ګټه اخیستې دي، ستاسې لیدلوري او وړاندیزونه زموږ لپاره ډېر اهمیت او ارزښت لري. البته ستاسې لیدلوري او نظریات له موږ سره مرسته کوي، چې خپلې موخې په ښه بڼه تعقیب کړو او خپلې کاري موندنې په ښه توګه د خپلو خپرونو له لوستونکو سره شریکې کړو. د تاسې د وړاندیزونو د لېږلو لپاره ترټولو اسانه لاره، له دغه بیښنا لیک پتې څخه ستاسې ګټه اخیستنه ده: areu@areu.org.af

همدا راز تاسې کولی شئ، له دغه شمېرې سره اړیکه ونیسئ: +۹۳ (۰) ۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸. او هر راز لید او نظر چې یې لرئ، له موږ سره شریک کړئ. خو یو شمېر معلومات چې په دې برخه کې زموږ لپاره ډېر ګټور دی، په لاندې توګه دي:

- څرنګه د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري له خپرونو څخه ګټه اخلئ (د خپرونو لوستل، په ناستو کې ګډون ...)؟
- د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري له څېړنو څخه د کومې موخې لپاره ګټه اخلئ؟
- د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري خپرونې په کومه بڼه ترلاسه کوئ؟
- له دیجیټلي نسخو څخه ګټه اخلئ یا له چاپي نسخو څخه؟
- دغه خپرونې څرنګه کولی شي، معلومات په ښه بڼه وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنیزې پروسې او پایلو په اړه ستاسې نظر څه دی؟ هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ
- د څېړنې او ارزونې په اداره کې کومې پېښې او موارد ستاسې د لېوالتیا وړ دي؟
- ستاسې په باور کومې چارې کولی شي په ښه بڼه ترسره کړو؟
- ستاسې لېوالتیا، ساحه او کاري موقعیت یا مطالعه په کومو برخو کې دي؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري په وېبپاڼه www.areu.org.af د ښکتولو وړ دي او همدارنګه کولی شئ، په کابل ښار کې د دغه اداري له دفتر څخه يې په وړيا توګه ترلاسه کړئ.

| نېټه | د خپرونې سرلیک | لیکوال | دري | پښتو | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اگست ۲۰۱۷ | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو اصلاحات: د ملکي خدمتونو ونډه او دندې | سید حشمت الله هاشمي او گرهارد لات | √ | √ | د ملکي خدمتونو اصلاحات او حکومتولی | تحلیلي خپرونه |
| جولای ۲۰۱۷ | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ د ودې په موخه د مدني ټولني ونډه | اورځلا اشرف نعمت او کرین ویرنر | √ | √ | مدني ټولنه او حکومتولی | تحلیلي خپرونه |
| جولای ۲۰۱۷ | په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولی | آریه نجات، کریستوف گوستونیا، بصیر فدا او کویهلیر | √ | √ | سیمه ییزه حکومتولی | تحلیلي خپرونه |
| جولای ۲۰۱۷ | دولت ته د خلکو نژدې کول: په افغانستان کې نامتمرکزه پلان جوړونه او بودجه جوړونه | نعمت الله بیژن، فرحت امیل او هارون نایب خیل | | | ولایتي پلان جوړونه او بودجه جوړونه او حکومتولی | تحلیلي خپرونه |
| می ۲۰۱۷ | د استخراجي سکتور د مدیریت لپاره متوازن اقدام | جاوید نوراني او لین دی بروکیری | | | کانونو نه او دولتداری | تحلیلي خپرونه |
| | له پولو بهر اوبو د سرچینو پراختیا: د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ د همکاری لیدلوری څه دي؟ | وینسنت توماس، مجیباحمد عزیزی او خالد بهزاد | | | د طبیعي سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| می ۲۰۱۷ | نارینه وو او د «نارینتوب ډولونو» ته یوه ژوره کتنه: په جنسیتي برابروالي کې د نارینه وو فعاله برخه اخیستنه | لیا ویلفردا آر ای پیلانگو، پرویزطفیل، چونا آر. اچاوز، سید مهدي موسوي | √ | √ | جنسیت | پالیسي پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۷ | پر شگو دولت جوړونه: په افغانستان کې د دولت جوړوني پر بهیر د نشه یي توکو پایلې | دیوید منسفیلد | | | د طبیعي سرچینو مدیریت | کتاب |
| اپریل ۲۰۱۷ | په کندهار ولایت کې د ساحوي څېړنې په اړه لند یادښت، د ۲۰۱۵ له دسمبره د ۲۰۱۷ تر جنوري پورې: کوکنار او کلیوالي معیشت | پاول فیشستین | √ | √ | د طبیعي سرچینو مدیریت | لنډیز |
| مارچ ۲۰۱۷ | تر ایساف وروسته افغان ملي پوځ | انتونیو جیستازی او علي محمدعلي | | | حکومتولی | توضیح پاڼه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فبروري ۲۰۱۲ | اصل په جزییاتو کې دی: د بغاوت، تاوتریخوالي او نشه یي توکو د پراخ تولید په لمنه کې د ننګرهار مخ په زیاتېدونکی سقوط | ډیوېډ منسفیلډ | √ | √ | د طبیعي سرچنیو مدیریت | لنډیز |
| فبروري ۲۰۱۲ | په افغانستان کې د زده کړې سیاسي اقتصاد او د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره | | | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | تحلیلي خپرونه |
| جنوري ۲۰۱۲ | د کورنۍ اوبو کموالي: د څښاکو اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د واقعیتونو د موندنې لپاره د بېلګو تغییر | ونسنت تاماس | √ | √ | پایښت لرونکی معیشت | تحلیلي خپرونه |
| جنوري ۲۰۱۲ | د جنسیتي نابرابروالي بل اړخ: په افغانستان کې نارینه او د نارینتوب ځانګړتیاوې | چونار آر. اچاوز و سید مهدي موسوي | √ | √ | جنډر | تحلیلي خپرونه |

د افغانستان خېړنې لپاره ښه

AREU

تولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

دحاجي يعقوب له څلور لاری څخه د شهید د څلورلاري په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۲۱۸ کور، نوی ښار، کابل، افغانستان

تیلفون: +۹۳(۰)۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸

بریښنالیک:publications@areu.org.af

ویب پاڼه:www.areu.org.af



ISBN 978-9936-628-63-2

9 789936 628632